# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی
عمومي پلټونکی

جولای ۳۰،
۲۰۰۹









SPECIAL INSPECTOR GENERAL
AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور

# سیګار

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون ( پي. ایل. ۱۸۱-۱۱۰ ) د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) بنسټ کېښود.
د سیګار مشن د مالیه ورکوونکیو د ډالرو او نورو اړوندو بودیجو د کارولو په اړه د خپلواکو او مقصدي پلټنو، معاینو او څېړنو په ترسره کولو، او دا مهال د کانګرس او همداراز د دولت او دفاع د وزارتونو د بیا رغونې د پرمختګ او کمزوریو څخه په خبر ساتلو سره، د افغانستان د بیا رغونې د پروګرامونو نظارت پراخول دي.
د افغانستان په بیا رغونه کې ستر قراردادونه، مالي مرستې، معاهدې یا نور هر ډول میکانیزمونه شامل دي چې د متحده ایالاتو د حکومت د یو ریاست یا ادارې لخوا پېل شوي وي او په دې کې د ټاکل شویو یا غېر مختص شویو بودیجو د استعمال خبره وي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره یې د یوې شخصي اداري سره د دې لپاره موافقه شوې وي چې: د افغانستان بنسټیزه فزیکي اډانه جوړه او یا یې بیا ورغوي؛ د افغانستان سیاسي او ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا ورغوي او د افغانستان خلکو ته تولیدات او خدمات وړاندې کړي.[a]

[a] پي. ایل ۱۱۰-۱۸۱ ”د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکوني قانون،“ ۲۰۰۸\۲۸\۱.

د پښتی انځورونه ( له کیڼي څخه ښي خوا ته):
یوه افغانه انجلۍ د بامیانو په ولایت کې د خپل ابتدایي ښوونځي څخه بهر ناسته ده ـ (د سیګار انځور )

یو افغان خواریکښ د بامیانو ولایت د پولیسو د نوې اکاډمۍ د جوړولو په کار کې اخته دی ـ (د سیګار انځور)

افغانان د راتلونکیو ولسمشریزو او ولایتي ټولټاکنو لپاره د تیاري په لړ کې د کمپاین پوسترې لګوي، دا لومړنۍ ټاکنې دي چې د طالبانو له پرځول کېدو وروسته د افغانستان د خپلواک انتخابي کمیسیون لخوا ترسره کېږي (د م م انځور)

د افغانستان د ملي پولیسو نوي سرتېري د کابل په مرکزي روزنیز مرکز کې د داخلي د کچې په روزنه کې ګډون کوي. د متحده ایالاتو ځواکونه د نویو سرتېرو په روزلو کې رول لوبوي، کوم چې د اتو اونیو د لارښودنې پروګرام ترسره کوي (د دفاع وزارت انځور)

د افغانستان د بیا رغوني لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

۳۰ جولای ۲۰۰۹ء

دا ډېر د خوښۍ ځای دی چې د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړي عمومي پلټونکي دفتر (سیګار) لخوا کانګرس ته درې میاشتنی راپور وړاندې کوم. دا راپور د پي ایل ۱۱۰-۱۸۱ د برخې ۱۲۲۹ لاندې ټولې اړتیاوې پوره کوي چې د سیګار لپاره جوړ دی او د دېرشم اپریل ۲۰۰۹ء د درې میاشتیني راپور نه د راوروسته پرمختیا سند وړاندې کوي. دا همداراز د افغانستان د بیا رغونې د پروګرامونو وروستی احوال وړاندې کوي د کومې لپاره چې د کال ۲۰۰۲ ء نه راپدېخوا تخمیناً اته دېرش ملیارده ډالر د پنګې په توګه ورکړل شوي دي.

په دې درې میاشتنی کې سیګار د پام وړ پرمختګ کړی دی. مونږ درې د حساب ورکونې راپورونه، یو د پلټنې راپور خپور کړی دی او اوه اضافي د حساب ورکونې راپورونه او څلور د پلټنې راپورونه د جوړېدو په حال کې دي. زمونږ دفتر همداراز د دوکې، ضیاع او ناسم استعمال د درویشتو تورونو لومړنی پلټنې پیل کړې دي. د جولای د میاشتې تر پای پورې زمونږ د کارکوونکیو شمېره د ۳۲ تنو څخه ٤٤ ته لوړه شوې وه، او مونږ تمه لرو چې د اګست د میاشتې تر پای پورې به ۷ نوره مسلکیان هم په کار وګومارو. د ۱۱ حساب کتونکو، ۷ تفتیش کوونکیو او ٤ پلټونکو په مټ چې دا مهال یې په خپله اداره کې لرې، سیګار د بیا رغونې د پروګرامونو د نظارت لپاره خپل ظرفیت لا پسې لوړ کړی دی. برسېره پر دې، ما افغانستان ته دوه سفرونه وکړل او د امریکا د سفارت د چارواکیو، نړیوالې ټولنې او د افغانستان د اسلامي دولت سره مې وکتل، په ګډون د ولسمشر حامد کرزي، چې دوی ټول د افغانستان د بیا رغونې په هڅو کې بوخت دي.

د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې تمرکز په راتلونکیو ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو او د امنیت په ښه کولو کې په مرسته دی. د اګست د شلمې نېټې ټاکنې - چې د طالبانو له لیرې کېدو وروسته دویمې او د افغانستان د خپلواک انتخابي کمیسیون لخوا ترسره کېدونکې لومړنۍ ټاکنې دي – افغانستان لپاره د یو داسې نماینده حکومت د جوړولو په لور سفر کې مهم ګام دی چې د خپلو اتباعو اړتیاوې پوره کړای شي. متحده ایالاتو د دې انتخابي پروسې د ملاتړ لپاره د پام وړ وسیلې په کار اچولې دي، او سیګار د دې وسیلو د استعمال نظارت یوه ترجیح ګڼلې ده.

د جولای په میاشت کې، سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر ته یو راپور د دې سپارښتنې سره وړاندې کړ چې د افغانستان د انتخابي ادارو د ظرفیت په پیاوړي کولو کې دې مرسته وکړای شي تر څو ټولټاکنې ترسره کړای شي. د اګست په ټولټاکنو پسې به، سیګار د هغه حد په اړه یو د حساب راپور وړاندې کړي تر کومه چې به د متحده ایالاتو او نړیوالې مرستې په اغېزمنه توګه کارول شوې وي، او یو بل راپور چې هغه زده شوي سبقونه وپېژني چې په راتلونکیو ټولټاکنو کې اساني راولي. مونږ به همداراز یو داسې راپور هم وړاندې کړو چې په ټولټاکنو کې د ښځو د ګډون اندازه واخلي.

د بیا رغونې د ټولو ډالرو تر نیمې زیاته برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو لپاره بېله شوې ده. د سیګار هغه حساب چې د افغانستان د ګډې امنیتي انتقالي قوماندې (سي ایس ټي سي–ای) د ټېکدار د کاري وړتیا د نظارت توان یې کاته معلومه کړه چې سي ایس ټي سي-ای، کوم چې د روزنیز پروګرام مسوولیت په غاړه لري، داسې میکانیزمونه دا درې میاشتنی راپور په څلورو برخو ویشل شوی دی. لومړنۍ برخه بیا رغونې سره د تېرلو وروستیو پرمختیاو څخه بحث کوي. دویمه برخه د سیګار بشپړ شوي، روان او طرحه شوي کارونه تشریح کوي ـ دریمه برخه د هغو درېو ستنو – امنیت؛ حکومت، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا – چې د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ (ای این ډي ایس) کې پېژندل شوي دي، د لاندې د بیا رغونې د پروګرام

د حالت عمومي کتنه وړاندې کوي. هر څو که د دې برخې لپاره زیاتره معلوماتو د متحده ایالاتو هغو ادارو ورکړي دي چې د افغانستان د بیا جوړولو په کار لګیا دي، خو سیګار په خپله هم د دې لپاره رسمي اسناد، خپلواکې مطالعې، او د نړیوالو ادارو راپورونه کتلي چې تر امکاني حده په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو یو بشپړ انځور وړاندې کړي. څلورمه برخه د هغه کار یو لنډیز وړاندې کوي چې د نورو نظارت کوونکیو ادارو لخوا ترسره شوی دی.

کانګرس په دې وروستیو کې یو بل قانون ومانه چې د سیګار بودیجه یې زیاته کړه او همداراز د نورو کارکوونکیو د نیولو زیات واک یې ورکړ. زه د خپل دفتر د طرف نه دې لپاره د کانګرس مننه کوم چې سیګار ته یې د مخ پر پراخېدونکي بیا رغاونې پروګرام د بریالۍ د نظارت د ترسره کولو لپاره مالي سرچینې برابر کړې. ما د خپلو مشاهدو نه دا نتیجه اخیستې چې د دې پروګرام پیاوړی نظارت د متحده ایالاتو لپاره په افغانستان کې خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره ډېره مهمه ده.

په لاره نه وو اچولي چې باوري کړې یې وای چې پیسې په اغېزمنه توګه او په عقلمندۍ وکارول شي. د سي ایس ټي سي-ای عمومي قوماندې زمونږ د سپارښتنو سره موافقه وکړه او اوس د ټېکې د سمبالښت او نظارت د سمو پروسو په جوړولو کار کوي. مونږ دا مهال د قوماندان د عاجل ځواب پروګرام (سي اي ار پي) د کنټرولونې او محاسبې د میکانزمونو معاینه کوو او خپل د حساب راپور به په راتلونکې درې میاشتنۍ کې بشپړ کړو.

په ډېر درناوي



ارنلډ فیلډز

برید جنرال یوایس ایم سي ( متقاعد )

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

2221 Clark Street, Suite 800    Arlington, Virginia 22202

## د افغانستان اسلامي جمهوریت



# دمنځپانګې جدول

## لومړنۍ برخه

### د افغانستان عمومي کتنه




ټولټاکنې 4
امنيت 5
اداري فساد 6
نړيواله همکاري 7
د افغانستان-پاکستان ستراتيژي 9
د ادارو تر منځه انسجام 9


## دويمه برخه

### د سيګار نظارت




پلټنې 13
معاينې 18
څېړنې 23
د سيګار بوديجه 24


## دريمه برخه

### د بيا رغونې وروستي معلومات




د پنګو حالت 33
امنيت 45
دولتداري 63
اقتصادي او ټولنيز پرمختګ 83

# دمنځپانګې جدول



## څلورمه برخه
### د نورو ادارو نظارت


د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه 101
روان نظارت 102
د نورو ادارو پلټنې 109
د نورو ادارو معاینې 111


## ضمیمې


ضمیمه ا : د قانوني غوښتنو سره سم د راپور کتل 114
ضمیمه ب : د متحده ایالاتو د حکومت لخوا ټاکل شوي بودجې 118
ضمیمه ج : د سیګار (پلټنې) 120
ضمیمه د : د سیګار معاینې 121
ضمیمه س : د سیګار څانګړې شمېره 122
ضمیمه ف : لنډوني او تعریفونه 123


## د پای ټکي


د پای ټکي 125

**د ننګرهار د ولایتي بیا رغونې ټیم**

یو افغان انجینیر د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د کپتان پال فرانټز سره د ننګرهار د ولایتي بیا رغونې د ټیم (پي ار ټي) لخوا په سیمه کې د اوسپنیزو شیانو د جوړولو د یو دوکان څخه د کتنې پر مهال خبرې کوي. دا ټیم د افغانستان د اسلامي دولت سره د امنیت او حکومتدارۍ په بهترولو او په ننګرهار ولایت کې بیا رغاونې ته د ودې ورکولو په لړ کې مرسته کوي. پي ار ټي د ټولنې د اړتیاو اندازه لګوي او بیا په ټول ننګرهار کې ښوونځي، دولتي مرکزونه، سرکونه، طبي استعداد او بنسټیز جوړښت رغوي؛ دا همداراز د افغانستان د دولتي چارواکیو او امنیتي ځواکونو روزنه کوي څو افغانانو ته د دولت لخوا هغه استازیتوب او امنیت ورکړي چې هغوی ورته اړتیا لري. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، جوشوا ټي. جاسپر)

# 1 د افغانستان عمومي کتنه



” د افغانستان دننه په داسې حال کې چې افغانانو لپاره د سوکالۍ او نوښت په پېدا کولو سره د مخدره موادو د کاروبار بدیلونو ته وده ورکوو، مونږ باید د اقتصاد په زیاتولو کې مرسته وکړو. په داسې حال کې چې د ټولو افغانانو لپاره په زیار د ترلاسه کړیو حقونو په ساتنه کې مرسته کوو، مونږ باید د دې مني په اخر کې د ازادو او پرانستو ټولټاکنو ملاتړ وکړو. او مونږ باید د سیمییزو حکومتونو د ظرفیت ملاتړ وکړو او د اداري فساد پر وړاندې ودرېږو چې د پرمختګ لاره یې ډب کړې ده.“

ـــــد متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما[1]

# د افغانستان عمومي کتنه

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې مشن کانګرس ته د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړې عمومي پلټونکي (سیګار) د اخري درې میاشتني راپور له وړاندې کولو راوروسته د پام وړ پرمختګ کړی دی. د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د اضافي اختصاصي پنګې قانون لاسلیک کړ، چې ورسره د افغانستان د بیا رغولو لپاره د متحده ایالاتو ژمنتیا ۳۸ ملیارده ډالرو ته لوړه شوه. دې قانون همداراز هغه اضافي بودیجه هم ورکړه چې سیګار په دې کال کې د نظارت د مشن د ترسره کولو لپاره ورته اړتیا لري. د دې ادارې لخوا د مالي کال ۲۰۱۰ء د بودیجې غوښتنه ښایي د افغانستان د بیا رغونې لپاره اچول شوې پانګه ۵۰ ملیارده ډالرو ته نږدې کړي. څرنګه چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره بودیجه زیاتیږي، همدغه رنګ د نظارت غوښتنه هم، کومه چې ډېره ضروري ده، نه یواځې د دې لپاره چې د دوکې، ضیاع او ناسم استعمال مخنیوی وشي، بلکې د دې خبرې د باوري کولو لپاره هم چې د بیا رغونې پروګرام څومره چې امکان لري بریالی او د کم لګښت وي.

دوه ستراتیژۍ – د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي (ای این ډي ایس) او په افغانستان کې د ثبات راوستلو لپاره د نوي امریکایي حکومت کړنلاره – په افغانستان کې د امریکا د بیا رغونې د هڅو او د سیګار د کار لپاره چوکاټ وړاندې کوي. د دې درې میاشتو په اوږدو کې متحده ایالاتو د خپلې نوې کړنلارې عملي کول پیل کړل، کومه چې د بین الاداري انسجام، نړیوالې همکارۍ او د امنیتي او پرمختیایي مرستې په یووالې زور راوړي څو په افغانستان کې یو ښه مستعد، تر حساب لاندې او اغېزمن حکومت ته وده ورکړای شي. د امنیت د ښه کولو لپاره



د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی پلټونکی ارنلډ فیلډز په جولای ۲۰۰۹ء کې افغانستان ته د خپل سفر پر مهال د بامیان ولایت د والي حبیبه سرابي سره کېناست. سرابي په افغانستان کې د کوم ولایت لومړنۍ ښځینه والي ده. په افغانستان کې د جنسي برابرۍ هڅې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د متمرکزو هڅو څخه دي.

د نورو سرتېرو د ځای پر ځای کولو برسېره، د متحده ایالاتو حکومت د نورو ملکي ماهرانو په کار نیول هم پیل کړل تر څو د ولایتي بیا رغونې ټیمونه (پي ار ټي)، د ولسوالۍ د ملاتړ ټیمونه، او په ولایتونو کې د متحده ایالاتو دیپلوماتیک حضور پراخ کړای شي.

د تېرو درېو میاشتو پر مهال، متحده ایالاتو د بیا رغونې په پنځو مهمو مسئلو تمرکز کړی دی: ټولټاکنې، امنیت، اداري فساد، نړیوال انسجام، او د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې. سیګار د دوی ځخه په دوو برخو کې خپل کار بشپړ کړی دی او په ځلورو کې یې کار روان دی. د سیګار په کاري ظرفیت کې پاکستان سره مرسته شامله نده. خو سیګار به د افغانستان په بیا رغونه د پولې پورې پروګرامونو، کله چې تطبیقېږي، د اغېز معاینه کوي.

"متحده ایالات د خپلې خوښې کوم کاندید نلري؛ د پایلو په اړه زمونږ دریځ بې طرفه دی. مونږ افغانان هڅوو چې د مسئلو پرېکړه وکړي، غوښتنه کوو چې کاندیدان دې خپل پروګرامونه واضح کړي، او افغانان دې د خپل راتلونکي لپاره په یوه داسې انتخابي پروسه کې رایې ورکړي چې د اعتماد وړ، محفوظه او د ټولو شاملونکې وي. دا ټولټاکنې د یو داسې حکومت په لور مسلسل تکامل ښودلی شي چې د افغانانو د زړه ارمان انځوروي او ځواب ورته وايي."

— سفیر ریچرډ سي. هالبروک، د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی[2]

## ټولټاکنې

متحده ایالات د ۲۰۰۹ء د اګست د ۲۰مې نېټې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټولټاکنو —په افغانستان کې د طالبانو له واکه له لیرې کېدو وروسته دویمې، او د افغانستان د خپلواک انتخابي کمیسیون لخوا ترسره کېدونکې لومړنۍ – ته د یو داسې حکومت د جوړولو په لور د مهم قدم په توګه ګوري چې د خپلو اتباعو لخوا تر حساب لاندې وي.۳ د متحده ایالاتو او نړیوالې بودیجې د دې لپاره ورکړل شوې دي چې افغانستان سره د داسې اداري ظرفیت په جوړولو کې مرسته وکړي چې نه یواځې دا ټولټاکنې بلکې راتلونکې ټولټاکنې هم ترسره کړي. د هغه ارزښت له امله چې دې ټولټاکنو سره تړلی دی،سیګاریوه داسې هراړخیزه پلټنه ترسره کوي چې دانتخابي پروسې داړخونو په اړه به ځلور جلاجلا راپورونه وړاندې کړي.

سګار په جولای کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر ته لومړنی راپور ولېږلو، چې په هغې کې د افغانستان د انتخابي ادارو د ظرفیت د لوړولو سپارښتنه شامله وه تر څو ټولټاکنې ترسره کړي. سیګار به په راتلونکیو څو میاشتو کې لاندې اضافي راپورونه خپاره کړي: ۱) د هغه حد یوه اندازه معلومول تر کومه چې د دې ټولټاکنو د ملاتړ او یوې دوامداره انتخابي پروسې د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیواله مرسته په اغېزمن ډول کارول شوې وي؛ ۲) دې پروسې نه د اخیستو سبقونو یوه شننه چې په راتلونکې کې د ټولټاکنو پروسه ښه کړي؛ او ۳) په دې ټولټاکنو کې د ښځو د ګډون یو تکاملي جاج.

د متحده ایالاتو حکومت ملګرو ملتونو (م م) ته د دې ټولټاکنو د ملاتړ لپاره تقریباً ۱۲۰ ملیونه ډالر ورکړې دي.٤ د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د سبا لپاره د پراخوونکې حقوقي او انتخابي ظرفیت (یو این ډي پي-اي ایل اي سي ټي) د نړیوالو ملاتړ کوونکیو د مرستو د انسجام د سمبالښت دفتر، په ګډون د هغه چې د متحده ایالاتو ځخه دی، د انتخاباتو د ملاتړ لپاره د ۲۲٤ ملیونه ډالرو بودیجه جوړه کړې ده. یو ایس ای ایي ډي په جلا توګه دیو شمېر سیمییزو نظارت کوونکیو ډلو او همدارنګه د نادولتي موسسو (این جي او) لکه نړیوال جمهوري انسټیټیوټ (ایي ار ایي)، ملي دموکراتیک انسټیټیوټ (این ډي ایي) او د انتخابي سیسټمونو لپاره نړیوال بنیاد (ایي ایف اي ایس) په واسطه ټولټاکنو سره تړلیو پروژو ته بودیجه ورکوي.

## د رايه ورکوونکو ثبتونه او د ټولټاکنو حفاظتي تدابير

هغه ټول افغاني اتباع چې د ۲۰۰٤ء او ۲۰۰۵ء په ټولټاکنو کې يې رايې ورکړې وې خپل د تثبيت کارتونه په راتلونکيو ټولټاکنو کې کارولی شي. د ټاکنو خپلواک کميسيون همداراز د ۲۰۰۸ د اکتوبر او د ۲۰۰۹ د فبروری ترمنځ د رايه ورکوونکيو د تثبيت يو څلور پړاوه کمپاين ترسره کړ څو هغه افغاني اتباع ثبت کړي چې کارتونه ترې ورک شوي وو، په هېواد کې دننه له يوه ځايه بل ځای ته لېږدېدلي وو، او يا د ۲۰۰۵ء څخه وروسته د رايې ورکولو حقدار جوړ شوي وو. د ټاکنو خپلواک کميسيون په دې وروستيو کې د رايه ورکوونکيو د ثبتونې موده د ۲۰ اضافي ورځو لپاره په ټولو ۳٤ ولايتونو کې بيا پرانيستله. د ټاکنو د خپلواک کميسيون له مخې، په تېرو اتو مياشتو کې، تر څلور نيم مليونه زياتو خلکو، چې شاوخوا ۳۸ فيصده يې ښځينه دي، نومونه ثبت کړي دي. تقريباً ۱۷ مليونه د رايو ورکولو کارتونه دا مهال د خلکو سره دي.

د ټاکنو د خپلواک کميسيون له مخې، يو شمېر حفاظتي تدابير په لاره اچول شوي چې د ټولټاکنو د اعتبار ساتنه وشي. په مشخصه توګه، د ټاکنو خپلواک کميسيون پلان لري چې په احتياط سره د حساسو موادو لېږد تعقيب او کنټرول کړي، په ګډون د رايو اچولو د بکسو؛ د رايو اچولو د بکسو د بندولو لپاره د لمبرو کولپونه وکاروي؛ او د رايو ورکوونکيو ګوتې په نه ورانېدونکي رنګ کې ککړې کړي څو د يو تن لخوا د دوو نه زياتو رايو ورکولو مخنيوی وشي.



متحده ايالاتو او نړيوالي ډلي افغانستان سره د ۲۰۰۹، د اګست د ۲۰مې په راتلونکيو ولسمشريزو او د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د ملاتړ لپاره مرستې کوي، چې د طالبانو له پرځول کېدو وروسته د افغانستان د خپلواک انتخابي کميسيون لخوا ترتيب شوې لومړنۍ ټاکنې دي. (سيګار انځور)

## د ټولټاکنو لپاره امنيت

ټولټاکنو لپاره د امنيت ساتلو اساسي مسووليت د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ای این ايس ايف) په غاړه دی، چې د نړيوال سوله ساتي ځواک (ايساف) لخوا يې ملاتړ کېږي. د امنيت د پلان جوړونې يوه شريکه ډله د دې لپاره جوړه شوې وه چې د ای این ايس ايف، ايساف، د ګډې امنيتي انتقالي قوماندې- افغانستان (سي ايس ټي سي- ای)، د ټاکنو د خپلواک کميسيون او ملګرو ملتونو ترمنځ د پلان جوړونې چارې اغېزمنې کړي. دا د پلان جوړونې ډله هغو ستونځو ته ځواب وايي چې د کانديدانو د امنيت، د انتخابي موادو د محفوظ ويش، د ولايتي عملياتو د قوماندې د مرکزونو د جوړولو، او د رايه اچونې د مرکزونو د امنيت سره تړاو لري.

## امنيت

امنيت لا هم په افغانستان کې د بيا رغونې د هڅې پر وړاندې يوه ستره ننګونه ده. ملګرو ملتونو په تېرو درېو مياشتو کې، په ځانګړې توګه د افغانستان په جنوبي او ختيځو برخو کې، د امنيتي پېښو په شمېر کې د زياتوالي راپور ورکړی دی. د کندهار وضعې، چېرته چې ياغيانو د دې کال د اپرېل او مئ د مياشتو په جلا جلا پېښو کې د ولايتي شورا په دفتر او د والي په کور بريدونه کړي وو، په ځانګړې توګه اندېښنه پيدا کړې ده.[5] د دې راپور په موده کې متحده ايالاتو نور سرتېري ځای پر ځای کول پيل کړل چې د جنوب او ختيځ په هغو نا ارامه سيمو کې امنيت ښه کړي چې د پاکستان سره پولې لري.

په عين حال کې، متحده ايالاتو د افغان ملي اردو (ای این ای) او افغان ملي پوليسو (ای این پي) د جوړولو د اساسي ستراتيژيک هدف د ترلاسه کولو په لور هم مهم ګامونه واخيستل، کوم چې به بالاخر د دې توان ولري چې د هېواد د امنيت بشپړ مسووليت په غاړه واخلي. د تقريباً هغو پنځو مليارډو ډالرو نه چې د افغانستان د بيا رغونې لپاره په پي ايل ۱۱۱-۳۲ کې ورکړل شوي وو، د درې اعشاريه شپږ مليونه ډالرو نه زيات به يې د ای این ايس ايف په روزنه او وسايلو لګي. دا پيسې به د دې لپاره وکارول شي چې تر کال ۲۰۱۱ پورې د يو لک او څليرويشت زره سرتېرو پياوړې ملي اردو او شپږ اتيا زره اته سوه ملي پوليسو ځواک د جوړولو لپاره هڅې



**د افغان ملي اردو برید جنرال محمد دوران د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د مشرانو رهبرانو د سمبالښت د کورس د مسوول، ریچرډ وودز، د افغان سرتېرو د ځای پر ځای کېدنې د انځورولو او وضاحت لپاره مننه کوي. دوران، چې د افغان ملي اردو د هوایي ځواک قوماندان دی، دې لپاره د دې تنصیباتو دوره کړي چې د هوایي تعلیم و تربیې د قوماندې د هوایي مشاور د کورس په اړه لا نور معلومات ترلاسه کړي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، ناتهن جي. بیولر)**

ټندې کړای شي. د هغه ۳۸ ملیارده ډالرو چې د ۲۰۰۲ء راهیسې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ایستل شوې دي تر نیمو زیات یې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د جوړولو لپاره ځانګړې شوې دي.

سي ایس ټي سي –ای، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت، او د متحده ایالاتو د ایتلافي شریکوالو په ملګرتیا، یوه ګډه قومانده ده چې مسوولیت یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو د پروګرامونو سمبالښت دی. د هغه ارزښت له امله چې متحده ایالاتو د دې تربیوي مشن سره تړلی دی، د سیګار اولنۍ پلټنه د سي ایس ټي سي -ای د هغه ٤٠٤ ملیونه ډالرو د معاهدې د سمبالښت کتنه وکړه چې د ای این ایس ایف به د ټول افغانستان په ۱۷ ځایونو کې روزنه او په روزنه کې ملاتړ کوي. په پلټنه کې معلومه شوه چې سي ایس ټي سي –ای دا توان نه درلود چې باوري کړي چې د متحده ایالاتو بودیجه په سم ډول سمبال شوې او په عقلمندۍ لګول شوې وي.

سي ایس ټي سي –ای د پلټنې د پایلو سره موافقه وکړه او ځواب یې ورکړ چې هغه د معاهدو د سمبالښت او نظارت لپاره مناسبې پروسې جوړوي. د جولای په میاشت کې سیګار ته معلومه شوه چې د دفاع د معاهدې د سمبالښت د اداري څخه د معاهدې د متخصصینو یو ټیم افغانستان ته رالرسېدلی دی څو په هغو مسئلو کار وکړي چې په پلټنه کې راپورته کړای شوې وي. د ۲۰۰۹ د جولای په ۱۷مه نېټه، د سي ایس ټي سي –ای قوماندان سیګار ته خبر ورکړ چې، د هغو مسئلو په پایله کې چې د پلټنې په راپور کې راپورته کړای شوې وي، د معاهدې متخصصینو د سي ایس ټي سي -ای د ټولو هغو معاهدو لپاره چې بودیجه یې د ای ایس ایف لخوا ورکړل شوې وه د معاهدې د سمبالښت او نظارت د بیې کتنې په ترسره کولو لګیا وو.

## اداري فساد

افغان چارواکو، په ګډون د ولسمشر حامد کرزي، د سیګار څخه غوښتنه کړې چې د اداري فساد په کمولو کې ورسره مرسته وکړي. سیګار افغانانو ته د اداري فساد ضد روزنه نشي ورکولی، خو د وړتیاو او مرستې یوه خپلواکه او وضعي اندازه ورته د دې لپاره ورکولی شي چې اداري فساد کم کړي. د سیګار دوه پلټنې تر کار

لاندې دي چې په ملي او ولايتي کچه د اداري فساد د مخنيوي لپاره د اړينو داخلي مهارونو او احتسابي تدابيرو په لړ کې د افغانستان د اسلامي او جمهوري دولت د ظرفيت تکاملي جاج واخلي. دا پلټنې د متحده ايالاتو او نړۍ د هغو هڅو اندازه لګوي چې د اداري فساد د مخنيوي په لړ کې د افغانستان د دولت د ظرفيت د لوړولو لپاره يې کوي. دا همداراز د دې معاينه هم کوي چې څرنګه افغان چارواکي په ملي او ولايتي کچه د بوديجو بهير کنټرولوي او سپيناوی يې کوي. سيګار به د دې لړۍ لومړنی پايلې د دې کال په اخر کې خپرې کړي.

## نړيواله همکاري

متحده ايالاتو او په نړيواله ټولنه کې يې شريکوال اوس هم د عام اداري فساد په اړه انديښمن دي. افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ايالاتو ستراتيژي په زياتېدونکي نړيوال ډيالوګ او مربوطه نړيواله مرسته زور ورکوي. د دې کال په پيل کې د دې ستراتيژۍ له اعلانولو راوروسته، متحده ايالاتو په ګڼ شمېر داسې نړيوالو کنفرانسونو کې ګډون کړی دی چې د افغانستان په پياوړي کولو تمرکز لري. دې غونډو کې هرې يوې هغه رول تاييد کړی دی چې افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې مشن (يوناما) يې افغانستان ته د نړيوال کومک د انسجام لپاره لري. امريکايي چارواکي وايي چې هغوی د نړيوالې مرستو ورکوونکي ټولنې – په زياتېدونکې ډول، د يوناما د چترۍ لاندې - دې لپاره کار کوي چې يو داسې عمومي چوکاټ ته وده ورکړي چې هغه افغانستان ته د نړيوال کومک لارښودنه وکړي او يووالی ورسره راولي.[6]

د کومې بنسټ چې په ۲۰۰۶ء کې د دې لپاره اېښودل شوی و چې د افغانستان د اسلامي او جمهوري دولت سره مرستې انسجام کړي، هم پرمختګ کړی دی.[7] د تېرو درېو مياشتو پر مهال، جې سي ايم بي د پوليسو د ريفورم تدابير منظور کړي، د زراعتي پرمختيا يوه نوې ستراتيژي يې خپله کړې، او د خصوصي سکتور د پرمختيا لپاره يې لومړيتوبونه ټاکلي دي.[8]

د پروژو نړيوال انسجام د دې لپاره مهم دی چې د بيا رغونې د ډالرو اغېز زيات نه زيات کړای شي. سيګار د سکتور د پلټنو يوه لړۍ پيل کړې ده چې د هغې کچې معاينه وکړي په کومه کې چې پروژې د متحده ايالاتو د حکومت په ټولو ادارو، او همداراز د نورو نړيوالو مرستندويانو سره انسجام شوې دي. لومړنۍ د دې پلټنو څخه



د متحده ايالاتو او نړيوال کومک د افغان ماشومانو، په ګډون د انجونو، لپاره زده کړې او روغتيايي علاج ته لاسرسی پراخوي
(سيګار انځور)



**د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فیلډز د ښځو د زندان څخه لیدنه کوي، چېرته چې ماشومانو ته اجازه شته چې د خپلو بندي میندو سره واوسېږي. د ای این ډي ایس د اهدافو څخه یو دا دی چې د زندانونو په سیستم کې ریفورمونه وکړي او د مېرمنو او ماشومانو لپاره بهترې اسانتیاوې برابرې کړي. (سیګار انځور)**

د انرژۍ د سکټور سره د مرستې جاج اخلي. سیګار به دا راپور په راتلونکې درې میاشتنۍ کې خپور کړي.

۲۶ د ولایتي بیا رغونې ټیمونه (پي ار ټي) – چې د ۱۲ مشري متحده ایالات او د ۱٤ ایتلافیان کوي - د افغانستان د باثباته کولو او بیا جوړولو لپاره نړیوالو هڅو کې یو مهم رول لوبوي. په جون ۲۰۰۹ء کې، سیګار د پي ار ټي په دویم کالیز کنفرانس کې ګډون وکړ، کوم چې د ناټو ملکي او نظامي مشرتابه او د ایساف غړې ناټو غړي یو ځای ته راوستل څو د بیا رغونې د پروژو نړیوال انسجام بهتر کړي. سیګار په افغانستان کې د ولایتي بیا رغونې د ټولو ټیمونو د فعالیتي ورتیاو د سمبالښت پلټنه کوي. دې د پلټنو دا لړۍ د فراه ولایت د پي ار ټي څخه پیل کړې او یو راپور به په راتلونکې درې م یاشتنۍ کې خپور کړي. سیګار دا مهال د پروان-کاپیسا د پي ار ټي پلټنه کوي چې د باګرام په هوایي ډګر کې موقعیت لري.

## د افغانستان-پاکستان ستراتیژي

لدې امله چې د متحده ایالاتو فېصلې کوونکي فکر کوي چې د پاکستان شرایط او پېښې د افغانستان په پرمختیاو اغېز لري، نو هغوی دواړه هیوادونه لا زیاتې خپلمنځي همکارۍ ته هڅوي او د پاکستان او همداراز افغانستان لپاره د لا زیاتې مرستې په لټه کې دي.[9] د مئ په میاشت کې، متحده ایالاتو د افغانستان او پاکستان ملکي او نظامي مشران د دې لپاره رایوځای کړل چې په لا زیاته سیمییزه همکارۍ خبرې وکړي. د دې درې طرفه مشورو په پایله کې، پاکستان او افغانستان ژمنه وکړه چې د کال تر پای پورې به یوه تجارتي معاهده وکړي، دوه اضافي سرحدي پوستې به پرانیزي، په زراعتي سکټور کې به همکاري زیاته کړي، او د پولې پورې غاړه

انفراسټرکچر جوړولو پروژې به تېزې کړي. احتمال شته چي دا پرمختياوې د پولي افغانستان لوري ته د بيا رغوني په پروګرامونو تاثير وکړي.

## د ادارو دننه انسجام

سيګار خپلي پلټني، معايني او څېړني د ګڼ شمېر فورمونو له لارې د نورو عمومي پلټونکو او حساب کتونکو ادارو سره ګوري او سموي. د جنوب لويديځې اسيا د ګډ پلان جوړولو ډله هر درې مياشتي وروسته غونډه کوي او په جنوب لويديځه اسيا، په ګډون د افغانستان، کي د پلټنو او معاينو درې مياشتني راپورونه جوړوي. د جنوب لويديځې اسيا د ګډ پلان جوړولو ډلي څخه جوړه شوې يوه نوې ضمني ډله په افغانستان او پاکستان کي د روان او پلان شوي کار د بحث کولو لپاره مهالنی غونډې کوي. دا د پلان جوړوني ډله ګوري چي د کارونو د نقل مخنيوی وکړي او باوري کړي چي د نظارت ټولي مهمي مسئلي ځواب شوي دي. په پای کي، سيګار په هغو غونډو کي ګډون کوي چي هر درې اونۍ وروسته د امريکايي ځواکونو – افغانستان (يو ايس ايف او ار – ای) په مرکزي دفتر کي ترسره کېږي تر څو په افغانستان کي د فعاليتونو نظارت مربوط کړي.

د سيګار پلټونکي او څارنوالان د متحده ايالاتو په حکومتي ادارو کي د خپلو قانون نافذوونکيو ملګرو سره نږدې همکاري کوي. سيګار د اداري فساد لپاره د هدف ځواک د نړيوالي معاهدې (ايي سي ټي ايف) غړی دی، کومه چي هغه مرکزي اداره ده چي هغه مرکزي جنايي او ملکي قضيې مربوطوي چي په جنوب لويديځه اسيا کي د امريکايي حکومت د لګښتونو په تړاو په دوکه او اداري فساد کي ککړې وي.

**یو افغان خبریال مېرمنو سره** د رادیو لرلو او خبرونو اورېدلو د ارزښت په اړه خبرې کوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، فویبي ار. الپورټ)

# 2 سیڅار
## نظارت



”د دې لپاره چې زمونږ پروګرامونه د اغېزمنتوب او اعتبار د تر ټولو لوړو معیارونو سره سم وي، مونږ د افغانستان د بیا رغونې لپاره د کانګرس لخوا منل شوي ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار)، او همداراز د حکومت د احتساب دفتر (جي ای او) او محکمې، یو ایس ای ایي ډي، او د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي سره مرستې کولو ته ژمن یو.“

سفیر ریچرډ سي. هالبروک،
د افغانستان او پاکستان
لپاره ځانګړی استازی[10]

# حسابي تصفيې

سيګار په دې درې مياشتنى کې درې د حسابي تصفيو راپورونه خپاره کړي او اوه نور تر کار لاندې دي. دا حسابي تصفيې د بيا رغوني په يو شمېر مسئلو راڅرخي، په ګډون د قرارداد د نګرانى، د پروګرام سمبالښت، او د قراردادي کاري وړتيا، او همدارز د بيا رغوني په هغو فعاليتونو چې امنيت بهتر کړي، ښه دولتداري راولي، او د اقتصادي پرمختيا ملاتړ وکړي. دوه حسابي تصفيې په دې وروستيو کې د دې لپاره پيل شوې وې چې په ملي او ولايتي کچه د داخلي کنټرولونو د جوړولو په لړ کې د افغان حکومت د ظرفيت د پياوړي کولو لپاره د متحده ايالاتو او نړيوالو هڅې وڅاري او هغه احتساب وکړي چې د اداري فساد د مخنيوي لپاره ډېر ضروري دى.

سيګار باور لري چې د دې د نګرانى د مشن يوه مهمه برخه په صحيح وخت کې د ستونځو پېژندل او هغه د تطبيقوونکيو ادارو مخې ته راوړل دي، تر څو هغوى په سمدستي توګه داسې پروګرامي چارې ترسره کړي چې د بيا رغونې د پروګرام اغېزمنتيا بهتره کړي. په دې جذبه، په کابل کې د امريکا سفارت ته په يو راپور کې دا سپارښتنه وکړه چې د ټولټاکنو د ترسره کولو لپاره د افغانستان د ظرفيت د لوړولو لپاره تدابير جوړ کړي. يوه حسابي تصفيه چې د ۲۰۰۹ د اګست د ۲۰مې د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د پروګرامونو د بوديجو او تطبيق معاينه کوي به د ټاکنو له ترسره کېدو وروسته بشپړ شي. سيګار به همدارز يو راپور خپور کړي چې په ټاکنو کې د مېرمنو د ګډون اندازه به ولګوي.

د حسابي تصفيې هغو درې راپورونو چې په دې درې مياشتنى کې خپاره شول د قرارداد د نګرانى، د معلوماتو د سمبالښت او د ظرفيت په جوړولو کې ستونځې وپېژندلې.

## د حسابي تصفيو بشپړ شوي راپورونه

### د دفاع د محکمې د ګډ امنيتي انتقال د قوماندې-افغانستان (سي ايس ټي سي-اى) د قرارداد د نګرانى وړتياوې پياوړتيا ته ضرورت لري، د سيګار حسابي تصفيه ۰۹-۱

د ۲۰۰۲ څخه افغانستان ته د متحده ايالاتو لخوا د بيا رغوني په لړ کې د ورکړلو شويو ډالرو له نيمو زيات د افغان ملي امنيتي ځواکونو (اى اين ايس ايف) په روزنه، مجهزونه، او ځاى پر ځاى کولو لګېدلي دي. د ګډ امنيتي انتقال قوماندې-افغانستان (سي ايس ټي سي اى)، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او متحده ايالاتو او ايتلافي ملګرو په ملګرتيا، هغه ګډه قوماندان ده چې او ايتلافي ملګرو په ملګرتيا، هغه ګډه قوماندې ده چې د اى اين ايس ايف د پروګرامونو د پرمختيا لپاره د امريکايي پروګرامونو د سمبالښت مسووليت په غاړه لري، په کوم کې چې افغان ملي اردو (اى اين اى) او افغان ملي پوليس (اى اين پي) شامل دي.

د ټول افغانستان په ۱۷ ځایونو کې د ای این ایس ایف لپاره د روزنې او روزنې د ملاتړ د ٤٠٤ ملیونو ډالرو د قرارداد د سي ایس ټي سي-ای د سمبالښت په اړه د سیګار کتنې معلومه کړه چې هر څو که سي ایس ټي سي-ای د ای این ایس ایف د پروګرامونو د روزنې د سمبالښت مسوولیت په غاړه لري، خو دا وړتیا نلري چې باوري کړي چې د متحده ایالاتو بودیجې په اغېزمن ډول سمبال شوې او په عقلمندی لګول شوې وي. د حسابي تصفیې په وخت کې، سي ایس ټي سي-ای په افغانستان کې د قرارداد د نګرانی د وړاندې کولو لپاره د قرارداد کولو د افسر یواځې یو تخنیکي استازی (سي او ټي ار) لرلو. دې افسر د قرارداد کولو په اړه محدوده تجربه او روزنه لرله، او په دې نه و توانېدلی چې د قراردادي د کار د څارلو لپاره د کار ځای ته لاړ شي.

لدې امله چې د نګرانی نشتوالی دا احتمال زیاتوي چې د روزنې بودیجې ښایي څرنګه چې پکار وي هغسې نه وي لګول شوې، سیګار سپارښتنه وکړه چې سي ایس ټي سي-ای دې خپلې د نګرانی وړتیاوې پیاوړې کړي. په مشخصه توګه، سیګار مشوره ورکړه چې سي ایس ټي ای دې:

- د سمبالښت داسې کارکوونکي ترلاسه کړي چې د قرارداد د نګرانی د کار د ترسره کولو پوهه او روزنه ولري
- د قرارداد د نګرانی لپاره یو داسې پروګرام جوړ کړي چې په هغې کې د کار د هغه ځای څخه لیدنه شامله وي چېرته چې قراردادي خدمتونه وړاندې کوي

سي ایس ټي سي-ای د حسابي تصفیې د موندنو سره موافقه وکړه او ځواب یې ورکړ چې د قرارداد د مناسب سمبالښت او د نګرانی د پروسو لپاره کار کوي. سي ایس ټي سي-ای دا هم وویل هغوی د سیګار حسابي تصفیې ته د یو داسې میکانزم په توګه ګوري چې د هغو سرچینو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي کومې چې د قرارداد د اغېزمنې څارنې لپاره ضروري دي. په جولای کې، سي ایس ټي سي-ای څخه د یوې تعقیبي لیدنې پر مهال، سیګار ته معلومه شوه چې د دفاع د قرارداد د سمبالښت د ادارې څخه د قرارداد د متخصصینو یو ټیم افغانستان ته د سي ایس ټي سي-ای د هغو ټولو قراردادونو د سمبالښت او نګرانی د کتنې لپاره راغلی چې د ایس ایف لخوا بودیجه ورکول کېږي.

## د م م ایکشن څخه غوښتنه شوې چې د راتلونکې د ټولټاکنو د ملاتړ لپاره د افغانستان ظرفیت پیاوړی کړي، د سیګار حسابي تصفیه ۰۹.۲

سیګار د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د چمتووالي او ترسره کولو په تړاو په جولای ٦، ۲۰۰۹، یو د خط راپور خپور کړ. د دې خطي راپور عام ویش د اګست ۲۰۰۹ د ټولټاکنو څخه وروسته وخت پورې محدود دی.

## په افغانستان کې د بیا رغونې د فېصلو-کوونکیو لپاره موجود د سمبالښت د معلوماتو سیستمونه

په افغانستان کې د مهمو امریکایي ادارو او قوماندو د سمبالښت د معلوماتو د سیستمونو په اړه د سیګار په کتنه کې معلومه شوه چې هیڅ یو واحد سمبالښت د معلوماتو د سیستم د بیا رغونې د ټولو بشپړو شویو، روانو، او پلان شویو فعالیتونو په اړه بشپړ او دقیق معلومات نشي ورکولی. د دې معلوماتو په لاس کې لرل به فېصله-کوونکیو سره د بیا رغونې د فعالیتونو د پلان جوړولو، انسجام، څارنې او راپور کولو کې مرسته

وکړي، او، که ضروري وه، نو د سموني اقدام به وکړي. د معلوماتو د سیستم د یو مربوط سمبالښت دا خطر زیاتوي چې د متحده ایالاتو سرچیني ښایي یا د هڅو د نقل او یا په داسي پروژو ضایع کړای شي چې یو بل سره په ټکر کي وي.

پنځه اداري او قومانديـ د بهرنیو چارو محکمه (ډي او ایس)، د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (یو ایس ای ایي ډي)، د متحده ایالاتو ځواکونه-افغانستان (یو ایس ایف او ار-ای)، سي ایس ټي سي-ای، او د متحده ایالاتو د انجینری د قول اردو د افغانستان د انجینیر ولسوالی - په افغانستان کي د متحده ایالاتو د بودیجو له لاري د بیا رغوني د پروګرامونو په تطبیقولو کې ستر رول لوبوي. په داسي حال کي چې دې هرې یوې اداري وویل چې د مالي او حسابي اهدافو لپاره جوړ شوي معلوماتي سیستمونه کاروي، سیګار معلومه کړه چې د پروژو د سمبالښت لپاره د معلوماتي سیستمونو موجودیت او کاروني ډېرې د یو بل نه بدل وې او ادارو او قوماندو ته يې اجازه نه ورکوله چې د پروژو په اړه معلومات په اساني شریک کړي. د دې په ځای، د ادارو او قوماندو ترمنځ د معلوماتو زیاته شریکونه په مهالیزو غونډو او عارضي راپورونو او وړاندېینو کي منځ ته راتله. په افغانستان کي د فعالیت کوونکیو مرکزي ادارو لوړپوړي استازي په دې موافق شول چې که هغوی یو داسي سیستم ته لاسرسی لرلی چې د بیا رغوني د پروژو د حالت یو عام فعالیتي انځور يې وړاندې کولی نو هغوی ته به ډېره ګټه رسېدلی.

یو ایس ای ایي ډي، د ۲۰۰۸ په پای کي د ملي امنیتي شورا د مرستیالانو د کمېټي په لارښودنه، په جون ۲۰۰۹ کي یوه څېړنه بشپړه کړه چې پکي یې د بیا رغوني د فعالیتونو لپاره د سمبالښت د یو ګډ معلوماتي سیستم د امکان اندازه واخیستله. د یو ایس ای ایي ډي څېړني داسي سپارښتني وړاندې کړې چې افغانستان کي د بیا رغوني د هڅو په اړه د معلوماتو د شریکولو د یو مؤثر سیستم د جوړولو لپاره يې د پراخي مربوطي هڅي بنسټ جوړولی شو. خو، اضافي کار، چې د مهمو امریکایي تطبیقوونکو ادارو ترمنځ مربوط وي، اوس د دې لپاره ضروري دی چې په افغانستان کي د بیا رغوني د فعالیتونو لپاره په ګډه په د یو مربوط سمبالښت معلوماتي سیستم جوړ

سیګار د بیا رغوني شریکوالو ته د یو داسي عمومي اجنټ د ټاکلو سپارښتنه کړې چې د یو داسي مربوط معلوماتي سیستم د جوړولو لپاره ارتباط جوړ کړي چې هغه مختلف سیستمونه په نظر کي ونیسي کوم چې اوس مهال د بیا رغوني د ډاټا په راغونډولو کي کارول کېږي او همداراز هغه سرچیني پېژني چې د یو نوي سیستم د تطبیق او دوامداری لپاره ضروري وي.

## روانې حسابي تصفيې

### د بیا رغوني د بودیجو او پروژو لپاره د ادارو د سمبالښت نظارت، پروسیجر، او تمرینونه

سیګار د تطبیقوونکو ادارو د ظرفیت انفرادي حسابي تصفیې ترسره کوي تر څو د بیا رغوني د هغو بودیجو نظارت وکړي چې دې ادارو ته مشخص شوې دي. د دې حسابي تصفیو څخه لومړنی د سي ایس ټي سي-ای د قرارداد د نګرانی د وړتیا معاینه کوي. دوهمه د دې معاینه کوي چې یو ایس ای ایي ډي څرنګه د افغانستان د بیا رغوني لپاره د قراردادونو نظارت وړاندې کوي. حساب کتونکي د یو ایس ای ایي ډې د قرارداد اوسنۍ دوسیي او هغه کار هم ګوري چې پخوا د حکومت د احتسابي دفتر (جي او ای)، د یو ایس ای ایي ډي د عمومي پلټونکي د دفتر (یو ایس ای ایي ډي او ایي جي)، او د جنګ د وخت د قراراداد کولو د هغه کمیسیون لخوا ترسره شوی دی چې د یو ایس ای ایي ډي د قرارداد د نګرانی او د پروژې د غوښتنو د مسئلو سره تړون لري.

### لویس برګر ګروپ سره په افغانستان کې د امریکایي قراردادونو د قراردادي کاري وړتیا او اداري نظارت

د سیګار حساب کتونکي د هغو قراردادونو کتنه کوي چې د متحده ایالاتو حکومت یې د لویس برګر ګروپ سره لري. دا حسابي تصفیه، چې د اداري لخوا د قراردادیانو او د هغوی د کاري وړتیا د نګرانی اندازه لګوي، د مهالویش په مناسبت د بشپړېدو وخت یې د ۲۰۰۹ دریمه درې میاشتنی ټاکل شوی دی.

### د افغانستان د انرژي سکټور سره د مرستې لپاره د امریکا او نړیوالو مرستندویانو پروګرامونه

سیګار د بیا رغونې په مختلفو سکټورونو کې د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو د عمومي سمبالښت او اغېزمنتیا د اندازې لګولو لپاره خپل پروګرام پیل کړی دی. دا حسابي تصفیه، چې تمرکز یې په هغو پروګرامونو دی چې د افغانستان د انرژي سکټور د بیا رغولو لپاره دي، د افغانستان د انرژي سکټور د بیا رغوني لپاره د متحده ایالاتو او نړۍ اهداف پېژندل غواړي. دا به معلوموي چې د ښکاره بنې په ځای د پایلو د معلومولو او اندازه کولو لپاره کومي کاري پیماني کارول کېږي او د هغې درجې معاینه به کوي کومه چې د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ (ای این ډي ایس) کې د بیا رغوني د پروګرامونو د انرژي سکټور د ملاتړ د هدف لپاره جوړه شوې وه. د سیګار حساب کتونکي د متحده ایالاتو او نړیوالو ادارو ترمنځ د ارتباط اندازه هم لګوي، او د هغې درجې هم تر کومې چې افغانانو د پروژو په جوړولو او تطبیقولو کې برخه اخیستې ده. دا راپور به د بلې درې میاشتنی پر مهال بشپړ شي.

## د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (سي اي ار پي) کنټرولونه او احتساب

د سیګار حساب کتونکي د سمبالښت د هغو کنټرولونو او پروسیجرو معاینه کوي چې د دې لپاره په کار اچول شوي چې باوري کړي چې د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (سي اي ار پي) بودیجې په سم ډول توضیح شوي او همدارنګ د پروګرام د اهدافو او د مشن د ستراتیژیو د ملاتړ لپاره کارول شوي دي.

## په افغانستان کې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د تیاري او ترسره کولو لپاره د متحده ایالاتو مرستې ته کتنه

سیګار په افغانستان کې د انتخابي پروسې یو ګڼ-برخیز تکاملي جاج ترسره کوي. په لومړنۍ برخه کې به حساب کتونکي د متحده ایالاتو او نړیوالې هغې مرستې اندازه اخلي چې د ۲۰۰۹ د اګست په شلمه ترسره کېدونکیو ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو سره یې کړې دي. سیګار د هغو پروګرامونو معاینه کوي چې په ډېرو برخو کې د ټولټاکنو د تیاري لپاره پیل شوي وو، په ګډون د رایه ورکوونکیو د تثبیت، د رایه ورکوونکیو د زده کړې، د رایو د مرکزونو د امنیت، د رایو د بکسونو د ا رتباط، او د رایو د شمېرلو د پروسیجر. دا حسابي تصفیه به د ټولټاکنو له ترسره کېدو وروسته خپره شي.

لکه چې پورته یې یادونه وشوه، سیګار عقیده لري چې د دې د مشن یوه مهمه برخه د بیا رغونې د عمومي پروګرام نور اغېزمن کول دي. لدې امله، سیګار لا د مخه امریکایي سفارت ته د دې لپاره یو راپور ورکړی چې د پروګرام د اغېزمنتیا د زیاتولو لپاره دې تطبیقوونکیو ادارو ته معلومات هم ورکړي او هغوی ته دې دا اجازه هم ورکړي چې د سم وخت سره ځانونه برابر کړي. له ټولټاکنو وروسته، سیګار به همداراز یو راپور خپور کړي چې په انتخابي پروسه کې د ښځو د ونډې اندازه واخلي.

د دې کال په وروستیو کې به سیګار د هغو زده شویو سبقونو په اړه یو د حسابي تصفیې راپور خپور کړي چې ښایي په راتلونکو ټولټاکنو کې ترې کار واخیستل شي.

## د فساد ضد وړتیاو او د افغانستان د مرکزي دولت د کاري وړتیا د نګرانۍ کتنه؛ د وړتیاو د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو هڅه؛ او هغه بودیجې چې ښایي په خطر کې وي

دا خبره په رسمیت پېژندل چې اداري فساد یوه ډېره جدي مسله جوړه شوې چې د بیا رغونې هڅې اغېزمنې کوي، سیګار د متحده ایالاتو او نړیوالو هغو مرستو یوه حسابي تصفیه ترسره کوي چې د افغانستان دولت ته په ملي کچه ورکړل شوې دي، څو داخلي کنټرولونه جوړ کړي او هغه احتساب وړاندې کړي چې د فساد د مقابلې لپاره ضروري دي. دا حسابي تصفیه به همداراز د هغو افغان وزارتونو د توان جاج هم واخلي چې د بودیجو د بهیر د کنټرول او احتساب لپاره غوره شوي دي. دا غواړي چې هغه بودیجې معلومې کړي چې په ځینو وزارتونو کې په خطر کې دي، د متحده ایالاتو او نړۍ د هغو هڅو اندازه ولګوي چې د فساد پر وړاندې د جګړې لپاره د افغانستان د ظرفیت د جوړولو په لړ کې یې کړې دي، او د هغو داخلي کنټرولونو او احتسابي میکانزمونو د پیاوړي کولو لپاره سپارښتنې وړاندې کړي چې د دولتي پروژو د اغېزمنتیا او شفاف سمبالښت لپاره ضروري دي. سیګار پلان لري چې په دې مسله یو شمېر راپورونه خپاره کړي. لومړنی راپور به یې په راتلونکې درې میاشتنۍ کې خپور شي.

## د فساد ضد وړتیاو او د افغانستان د مرکزي دولت د کاري وړتیا د نګرانۍ کتنه؛ د وړتیاو د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو هڅه؛ او هغه بودیجې چې بنایي په خطر کې وي

په داسې حال کې چې مخکینۍ حسابي تصفیه په مرکزي حکومت کې د فساد ضد مرستې او وړتیاو اندازه اخلیو دا حسابي تصفیه په ولایتي کچه د افغان چارواکو د ظرفیت معاینه کوي څو د هغوی تر کنټرول لاندې داخلي کنټرولونه او حسابي تطبیق کړي. سیګار د داخلي کنټرولونو او احتساب، کوم چې د اداري فساد د مخنیوي لپاره ډېر مهم دي، په ولایتي کچه د بهترولو لپاره د دواړو یانې متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو تکاملي جاج اخلي. دا همداراز د داخلي کنټرولونو او نورو فساد ضد تدبیرونو د تطبیقولو لپاره په ولایتي کچه د ظرفیت د لوړولو د غوره توبونو اندازه هم اخلي.

سیګار پلان لري چې ګڼ شمېر راپورونه جوړ کړي، او هر یو یې په یو ولایت تمرکز وکړي. لومړنی راپور به وروسته په دې کال کې خپور شي.

# پلټنې

سیګار د دې راپور په موده کې د پلټنې یو راپور خپور کړ او څلور پلټنې یې پیل کړې – دوه د پي ار ټي ټیمونو په اړه او دوه د انفراسټرکچر د پروژو په اړه. د خوست ښار د برېښنا د سیسټم پلټنې یو شمېر مسلې وپېژندلې، په ګډون د ډېرو هغو کارکوونکیو کار ته د نه تګ چې د بیا رغونې په چارو کې اخته دي چې دا کار د پروژو په اړه د اداري پوهې د له لاسه ورکولو، د ناسم معیار د باور او د معیار د کنټرول د تدبیرونو، او د پروژو د دوام لپاره د افغان چلوونکیو د نابشپړې روزنې سبب شوی دی.

## بشپړې شوې معاینې

د خوست ښار د برېښنا د سیسټم لپاره پرمختیاوې، د سیګار پلټنې ۰۹-۱



**درې نوي** ۵۰۰-کیلوواټه جنراتورونه د خوست په برېښنایي پلانټ کې څنګه چې د ۲۰۰۹ د مئ په ۱۶مه نېټه د سیګار د پلټونکې دورې پر مهال معلومېدل. د دې درېو نویو جنراتورونو څخه، یوازې دوه فعال دي؛ دریم د نصبولو د سامانونو انتظار باسي (د سیګار انځور)

د خوست د ولایت او ښار د حکومتونو په غوښتنه، د خوست پي ار ټي د ۱.٦ ملیونه ډالرو یوه پروژه، چې بودیجه یې د سي اي ار پي لخوا ورکړل شوې وه، د خوست د ښار د برېښنا د سیسټم د بهترولو لپاره پېل کړه. پي ار ټي دا پروژه په دوو قراردادونو کې وویشله. لومړنی قرارداد، چې د ۵۷۵،۰۰۰ ډالرو د ارزښت و، د موجود برېښنايي پلانټ (برېښنايي پلانټ ۱) د جوړولو، د دویم برېښنايي پلانټ (برېښنايي پلانټ ۲) د اخیستلو، په برېښنايي پلانټ ۱ کې د ۵۰۰-کیلوواټه د نویو جنراتورونو د اخیستلو او نصبولو، او د یو موجود ۴۰۰-کیلوواټه برېښنايي پلانټ ۲ ته د وړلو لپاره و. دویم قرارداد، چې ارزښت یې د ۱ ملیون ډالرو څخه لږ څه زیات و، د خوست ښار دننه د ځمکې لاندې برقي ګرېډ د پراخولو لپاره و. په ټولیزه توګه دې دواړو پروژو به سیمییز ګرېډ ته ۱.۵ میګاواټه زیاتول او د خوست اوسېدونکیو او کاروبارونو لپاره به یې لا زیاتې برېښنا ته لاسرسی ورکاوه.

# د سيګار نظارت



**يو د ٤٠٠-کی وي برېښنا رسوونکی پينل** چې د خوست په برېښنايي پلانټ ۱ کې د افغان پلانټ چلوونکيو لخوا بيا تړل شوی. (د سيګار انځور)



**يوه د تېلو زنګ شوې ټانکۍ** چې په تېرو پرته ده د خوست د ښار د برېښنايي پلانټ ۲ لپاره د زېرمې په توګه کارول کېږي په ځای د هغو دوو نويو ۶،۰۰۰-ليټره ټانکيو چې د پروژې د ډيزاين سره سم بايد لګول شوې وای. (د سيګار انځور)

د دې کال په لومړنيو کې د ځای د اولنی کتنې څخه وروسته په مئ ۲۰۰۹ کې د سيګار ترسره شوې پلټنې په برېښنايي پلانټ ۱ کې د حفاظت او دوامدارۍ د مسلو په اړه اندېښنې راپورته کړې. سيګار ته معلومه شوه چې د برق د خورولو سيسټم د دويم قرارداد سره سم په بريالۍ توګه بشپړ شوی و. خو، سيګار د لومړني قرارداد سره يو شمېر داسې مسلې معلومې کړې چې حل ته يې اړتيا لرله. دا مسلې د پلانټ د حفاظت، د معيار د باور، او دوامدارۍ سره تړاو لري:

- په هغو کاري بيانونو کې چې قرارداديانو ته ورکړل شوي وو په نړيواله توګه د رغونې منل شوي کوډونه پکې شامل نه وو چې قراردادیانو تعقيب کړي وای. پي ار ټي پکې د کوم ډول حفاظتي سامان نصبول شامل کړي نه وو، پي ار ټي په کاري بيانونو کې د حفاظتي الاتو نصبول شامل کړي نه وو، لکه هغه چې اور وژونکي ورته اړتيا لري.
- قراردادیانو په ځينو سيمو کې د جوړولو د کم معيار د سامانونو په کارولو سره د قرارداد د شرطونو سره سم کار نه و کړی.
- پي ار ټي هغه د معيار باور ورکړی نه و چې د دې باوري کولو لپاره ضروري و چې قراردادي هغه تخنيکي شرطونه پوره کړي کوم چې په کاري بيان کې مشخص شوي وو.
- يو مهم ميکانزم چې د نويو نصب شويو جنراتورونو د يو ځای کولو لپاره ضروري و د هغه وخت نه لږه موده وروسته ناکام شو چې پروژه افغان چاراواکو ته وسپارل شوه. لدې امله چې د يو ځای کوونکي ميکانزم توان يې نه درلود، د پلانټ چلوونکي د هغې نه تېر شو او د جنراتورونو څخه دوه يې نبغ په نبغه د برېښنا د تقسيم ډلې ته ولېږل. په پايله کې، دوه جنراتورونه په مسلسل ډول چلېدل او د نويو نصب شويو جنراتورونو څخه يو د پلټنې په وخت کې د کار څخه بهر و.
- د پي ار ټي د څرخېدونکي مهالوېش مطلب دا و چې پي ار ټي هر نهه مياشتې وروسته د نظامي کارکوونکيو له بشپړ بدلون سره مخ کېده. د دې څرخېدنو پر مهال، پي ار ټي ادعا وکړه چې ځينې ريکارډ او تاريخچې ورکې شوې وې. په پايله کې، سيګار ته معلومه شوه چې پي ار ټي د بيا رغونې د دې پروژې په اړه محدود اداري ياداښت درلود.

سيګار لاندې سپارښتنې وړاندې کړلې او د پي ار ټي قوماندان ورسره موافقه وښوده. پي ار ټي بايد:

- په برېښنايي پلانټونو کې د حفاظت او تخنيکي کمزورۍ معلومې او سمې کړي
- داسې پوهه کسان وټاکي چې د سي اي ار پي د پروژو تعقيبي نظارت وکړي څو د خوست په برېښنايي سيسټم کې حفاظتي مشکلات او تخنيکي کمزورۍ حل کړي
- د ظرفيت د جوړولو لپاره د برېښنايي پلانټ سيمييزو کارکوونکيو ته د سمبالښت زده کړه او لارښودنه وکړي څو د خوست د برېښنايي سيسټم د پاتې کېدو او چلول کېدو مسله په اوږدمهاله توګه حل شي
- د سي اي ار پي د نورو پروژو کتنه وکړي څو معلومه کړي چې هغه د پروژو د اوږدمهاله شتون او ظرفيت د جوړولو لپاره د پروژو مناسبه نظارت ا و مناسبه روزنه او لارښودنه کوي ا و که نه

د پي ار ټي قوماندان د سیګار د موندنو او سپارښتنو سره موافقه وکړه او وې ويل چې پي ار ټي د خوست ښار د برېښنايي سیستم د کمزوریو د لیرې کولو لپاره د سي اي ار پي څخه اضافي بودیجه غوښتلې ده.

## اوسنۍ پلټنې

### د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو فعالیتونه او د سمبالښت پلټنې

سیګار په افغانستان کې د سمبالښت او فعالیتي وړتیاو د پلټنو یو پروګرام پیل کړی دی. د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو اصلي مشن د سیمییزې دولتدارۍ بهترول او اقتصادي پرمختیا راوستل دي؛ دوی د افغانستان د پیاوړي کولو لپاره په نړیوالو هڅو کې مهم رول لوبوي. دوی همداراز په ولایتونو کې د بیا رغوني د هڅو په انسجام او مربوطولو کې هم مرسته کوي، نه یواځې د امریکایي ادارو ترمنځ بلکې د نړیوالي ټولني او سیمییزو افغان چارواکیو ترمنځ هم. د ولایتي بیا رغوني د ۲٦ ټیمونو څخه، د ۱۲ مشري متحده ایالات کوي او د ۱٤ مشري نور هېوادونه چې هغه د نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) برخه هم دي. سیګار د یو پي ار ټي پلټنه ترسره کړې ده او په دې اړه به یو راپور د راتلونکي درې میاشتنۍ پر مهال خپور کړي. دې د دویم پي ار ټي پلټنه پیل کړې ده او پلان لري چې په ۲۰۰۹ کې دوه نورې پلټنې هم بشپړې کړي.

دا پلټنې معلومول غواړي چې ایا د ولایتي بیا رغوني ټیمونه:

- د دې کچې کارکوونکي لري چې دا پرې خپل مشن ترسره کړای شي
- د مشرتابه او تجربې په سمه کچه د بین الاداري استازیتوب کارکوونکي لري
- داسې په سم ډول مجهز، وسیلې لرونکي او روزل شوي دي چې خپل مشن بشپړ کړي
- د بیا رغوني په هڅو کې د بین الاداري ملګرو، افغان چارواکیو او نورو شریکوالو سره په ارتباط کې وي
- پروژو لپاره د متحده ایالاتو د معیار د باور هغه پروګرام عملي کوي د کوم لپاره چې پي ار ټي مسوولیت په غاړه لري
- د هغو پروژو مناسبې دوسیې او اسناد جوړوي او ساتي د کومو چې دا مسوولیت په غاړه لري
- د هغو ټاکل شویو لارښودنو، پروسیجرو، او تګلارو سره سم ځي چې د پي ار ټي راتلونکیو کارکوونکیو ته د هدفونو د اغېزمن انتقال د باوري کولو لپاره ضروري دي

### د فراه د پي ار ټي د فعالیتونو او سمبالښت پلټنه

سیګار په ټول افغانستان کې د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو د فعالیتونو او سمبالښت د پلټنې سلسله د فراه په نامه هغه لویدیځ ولایت څخه پیل کړه چې د ایران سره پوله لري. سیګار د خپلې لومړنۍ پلټنې لپاره د فراه پي ار ټي د دې لپاره غوره کړه چې دغه ولایت ډېر لیرې دی او د ایساف سره د قوماندې او کنټرول یو عجیبه تړون لري. سیګار غوښتل معلوم کړي چې ایا پي ار ټي هغه مناسبې سرچینې او کارکوونکي لري چې د امنیت د ښه کولو، ښې دولتدارۍ راوستلو او د اقتصادي پرمختیا د ملاتړ د پروګرامونو د عملي کولو لپاره ضروري دي.

د فراه پي ار ټي د ۲۰۰٤ په وروستیو ختونو کې جوړه شوې وه او د ۲۰۰۵ په لومړیو کې یې نبغ په نبغه د امریکایي پوځ د قوماندې لاندې پر فعالیت پیل وکړ. ایټالیې، چې په سوله ساتو ځواکونو کې ایتلافي ملګرې دی، په ۲۰۰۵ کې د لویدیځ د سیمییزې قوماندې مسوولیت پر غاړه واخیست او دغه وخت یې د پي ار ټي فعالیتي کنټرول هم په لاس کې واخیست. خو د پي ار ټي اداري کنټرول د امریکایي پوځ په لاس کې پاتې شو. فراه یو له هغو دوو پي ار ټیمونو څخه لرې چې د امریکا په مشرۍ کې کار کوي او غېر امریکایي قوماندې ته راپور ورکوي.

د فراه پي ار ټي ته، د نورو پي ار ټیمونو برعکس، یو شمېر داسي اهداف ورکړل شوي دي چې د بیا رغونې سره تړاو نلري. په دغو کې د یو ځانله مخ پر وړاندې فعالیتي مرکز (ایف او بي) او سیمییز هوایي مېدان سمبالول، او همدارنګه د یوې سترې داسې سیمې اداره کول شامل دي چې ګڼ شمېر داسي اداري او سازمانونه لري کوم چې د پي ار ټي تر کنټرول لاندې ندي. د مرکز د ٦۰۰ څخه زیاتو اوسېدونکیو څخه یواځې ۱۵% د پي ار ټي د قوماندان تر واک لاندې راځي. سیګار به دا راپور د راتلونکي درې میاشتنۍ پر مهال خپور کړي.

## د پروان-کاپیسا د پي ار ټي د فعالیتونو او سمبالښت پلټنه

سیګار د پروان-کاپیسا د پي ار ټي، کومه چې د باګرام په هوایي مرکز کې موقعیت لري، د سمبالښت د اړخونو په اړه یوه پلټنه پیل کړې ده. دا راپور به د دې کال په وروستیو کې بشپړ شي.

## د انفراسټرکچر پلټنې

په فراه ولایت کې د خپل کار پر مهال سیګار د متحده ایالاتو په بودیجه د انفراسټرکچر د دوو پروژو پلټنه ترسره کړه چې اخري راپور به یې د راتلونکي درې میاشتنۍ پر مهال خپور شي. لومړنۍ د فراه د ښار څخه جنوب لویدیځې خوا ته تقریباً ۳۷ میله لرې د فراه په سیند د پورې وتو په یوه نکته د پول (توج پول) جوړولو یوه پروژه وه چې ۱.۷۵ ملیونه ډالر بودیجه ورته سي اي ار پي ورکړې وه. سیګار د دې اندازه اخلي چې ایا دغه پروژه، کومه چې په سپتمبر ۲۰۰۷ کې پیل شوې وه او ۳۰% بشپړه شوې ده، د قرارداد د مشخصاتو سره سم جوړېږي که نه.

دویمه پلټنه د یوې ګډې پروژې ده چې د فراه د پي ار ټي او یو ایس ای ایي ډي لخوا د دې لپاره ترسره کېږي چې د افغانستان د دولتي مطبوعاتي اداري، د افغانستان ملي راډیو او تلویزیون، د نشریاتو د ساحې د غځولو لپاره کار وکړي. پي ار ټي د سي اي ار پي بودیجې د نشریاتي اسانتیاو د بیا رغولو او د یو ایس ای ایي ډي بودیجې د نشریاتي برجونو د جوړولو لپاره کارولې دي. یو بشپړ جاج اخیستونکی راپور چې ایا په دې پروژه کې د قرارداد غوښتنې، او هغه چارې چې پکار وې، ترسره شوې دي  او که نه او دا چې دوام به وکړي که نه، به په راتلونکي درې میاشتنۍ کې خپور شي.

## پلان شوې پلټنې

سیګار یو ایس ای ایي ډي ته خبر ورکړی چې دا به د ۳۵۹ ملیونه ډالرو د لګښت د کابل د برېښنايي پلانټ پلټنه کوي. دا د یو ایس ای ایي ډي د بودیجې پروژه د دې لپاره جوړه شوې وه چې یو داسې برېښنايي پلانټ او د برېښنا د لګولو سټېشن جوړ کړي چې د کابل خلکو ته ۱۰۵ میګا واټه برېښنا ورسوي. د یو ایس ای ایي ډي د راپور له مخې تر دې دمه دې پروژې ته ۲۳۷ ملیونه ډالر ورکړي دي. د افغانستان دولت دې پروژې ته ۲۰ ملیونه ډالر ورکړي دي.[11]

سیګار به د هغو اسنادو کتنه چې د کابل په برېښنايي پلانټ کې د متحده ایالاتو د بودیجې د غوښتنو د بنسټ جوړولو لپاره کارول شوي وو، ټولو اړوندو قراردادونو، کاري بیانونو، او هدف امرونو، او همداراز د قراردادي د کنټرول د تاریخچو او د متحده ایالاتو د حکومت د معیار د باور تاریخچو ته کتنه کوي.

سیګار د انفراسټرکچر د دوو نورو پلټنو پلان هم لري، یوه د ملي پولیسو د یو روزنيز مرکز، او دویمه د یو هایډروالیکټرک برېښنايي پلانټ.

## د سیګار ځانګړې شمېره

د دې راپور په موده کې د سیګار په ځانګړې شمېره په افغانستان او متحده ایالاتو کې ۳۰ تلیفونونه شوي چې ځینې مسلې او شکایتونه پرې وړاندې شوي دي. سیګار د هغه هر تلیفون تکاملي جاج اخلي چې په افغانستان کې د بیا رغونې د فعالیتونو په اړه وي. د ترلاسه شویو تلیفونونو څخه سیګار درې شکایتونه نورو ادارو ته د تحقیق لپاره حواله کړي دي.

سیګار په افغانستان کې یو مطبوعاتي کمپاین د دې لپاره پیل کړی دی چې خلک د خپلې ځانګړې شمېرې\د شکایتونو ورکولو د خدمت څخه خبر کړي. سیګار پنځلس سوه پوسټرونه په انګلیسي، دري او پښتو کې د افغان دولت چارواکیو، نړیوالو سازمانونو، د پي ار ټي قوماندانانو، او یو ایس ایف او ار-ای ته ورکړي دي. ازادۍ راډیو، د وسله والو ځواکونو شبکې، او امریکا غږ د دې ځانګړې شمېرې په اړه په انګلیسي، دري، او پښتو کې د عوامي خدمت اعلانونه نشر کړي دي. برسېره پر دې، عمومي پلټونکي دا ځانګړې شمېره افغانستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال افغاني رسنیو سره په مرکو کې بحث کړه.

# پلټنې

د دې راپور د مودې پر مهال، سیګار د افغانستان د بیا رغونې د فعالیتونو په تړاو د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د ۲۳ تورونو ابتدایي پلټنې پیل کړې. د پلټنې په برخو کې په لېږد کې احتمالي دوکه، د وسلو احتساب، د تېلو ترلاسه کول، او د درنو سامانونو ورکول شامل دي. د سیګار پلټونکي همداراز د قراردادي د ناسم چلند، په ګېون د درواغ ادعاو او زیاتو پېسو اخیستلو، په اړه د تورونو تکاملي جاج هم اخلي.

د هغو قضیو د حل کولو په علاجونو کې چې په دوکه، ضیاع او ناسم استعمال کې ککړې وې یوائې جنایي او ملکي محاکمې شاملې ندي بلکي اداري اقدامونه (د قرارداد د علاجونو مرکزي لاسته راوړنې او ځنډوني\بندېزونه) هم پکې شامل دي. د انصاف محکمې (ډي او جی) قانوني ځارنوالانو ته لارښودنه کړې چې په ټول علاجونه تر غور لاندې راولي. سیګار د انصاف د محکمې د ملکي ځارنوال او د پوځ د دوکې د نیولو د څانګې سره کتلي دي تر څو باوري کړي چې ملکي علاجونه او د ځنډوني او بندېز په اقدامونو د دې لپاره غور شوی وي چې قضیې د سمولو لپاره تر زیات نه زیات امکاني حده پورې تعقیب کړای شي.

## د قرارداد د فساد لپاره نړیوال هدف ځواک (ایي سي سي ټي ایف)

د سیګار پلټونکي د ایي سي سي ټي ایف په نامه هغې مرکزي ادارې سره له نږدې کار کوي کومه چې په هغه مرکزي قضیې رایوځای کوي چې په جنوب لویدیځه اسیا کې د متحده ایالاتو د لګښتونو کې د قرارداد د دوکې او فساد سره تړاو لري. تر جون ۳۰، ۲۰۰۹، پورې ایي سي سي ټي ایف د "افغانستان د لاسته راوړې دوکې" ۲۵ پرانستې قضیې لرلې. د دوی څخه پنځه په ۲۰۰۹ کې پیل شوې وې.

ایي سي سي ټي ایف د انصاف د محکمې د دوکې په اړه د نړیوال هدف ځواک نړیوالې ضمني کمېټې ته راپور ورکوي. د ایي سي سي ټي ایف نور غړي دا دي:

- د پلټنې مرکزي دفتر (ایف بي ایي)
- د دفاع د محکمې ډي سي ایي ایس
- د متحده ایالاتو د پوځ د جنایي پلټنې د قوماندې (سي ایي ډي) د دوکې د ترلاسه کولو ستر یونټ
- د بحري جنایي پلټنې خدمت (این سي ایي ایس)
- د ځانګړیو پلټنو لپاره د هوایي ځواک دفتر (ای ایف او ایس ایي)
- د بهرنیو چارو د دفتر عمومي پلټونکی (ډي او ایس او ایي جي)
- د یو ایس ای ایي ډي عمومي پلټونکی
- د عراق د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

په افغانستان کې، ایي سي سي ټي ایف په کابل، باګرام او کندهار کې دفترونه لري. د ایي سي سي ټي ایف هر غړی په دې ګډو دفترونو کې خپل اجنټان ټاکي څو افغانستان کې په پلټنو شریک کار وکړي. برسېره پر قضیو د کار کولو، دا اجنټان د دوکې په اړه د بېدارۍ غونډې او د خطرې اندازې هم ترسره کوي. ایي سي سي ټي ایف تحقیقي اداري په دې توانوي چې نه یوائې په افغانستان بلکي ګرده نړۍ کې خپل اړوند مهارت شریک، خپلې سرچینې کنټرول، او د هڅو بیا بیا ترسره کېدل کم کړي.

د دې راپور په موده کې، سیګار په ایي سي تي ایف کې د خپلو ملګرو سره د دوکې او فساد په قضیو کار وکړ. دا قضیې د تحقیق او محکمې په مختلفو پړاوونو کې دي. د بېلګې په توګه:

- نظامي چاراوکیو سره په همکارئ کولو، سیګار د هغو تورونو تحقیق وکړ چې یو په نوکرئ ولاړ عسکر د بیا رغوني د قراردادونو د لاربښودني لپاره رشوت قبول کړی و. دا قضیه د پوځ د ډلي قاضي څارنوال ته وړاندې کړای شوې ده. پایله یې ښایي د پوځي عدالت د دربشی د کوډ لاندې پوځي محاکمه شي.
- سیګار د افغانستان د حکومت د یو چاراوکي په اړه د هغو شکایتونو کتنه کوي چې په د تور لګوونکو په وېښا د اثر و رسوخ په کارولو کې ککړ و.

د افغانستان د بیا رغوني په هغو قضیو کې چې اوس یې محاکمه کېږي دا شاملې دي:

- د دفاع د محکمې په دوو تنو قراردادیانو او د هغوی په شرکت د متحده ایالاتو د پوځي قول اردو د انجینیرانو د قراردادونو په تړاو د رشوت او توطیي مختلف تورونه. د دې قضیي پلټنه د ایي سي تي ایف او محاکمه یې د انصاف د محکمې د باورضد برخي لخوا ترسره کېږي. دا الزام داخل شوی و په مئ ۶، ۲۰۰۹. د محاکمې وخت ټاکل شوی دی سپتمبر ۲۰۰۹.
- د انصاف د محکمې د جنايي څانګې د دوکې برخه د یوې قضیي محاکمه کوي چې د اقتصادي اسانتیاو د پروګرام د بیا سمولو څخه راوتي ده، په کومه کې چې په یو امنیتي قراردادي تور لګول شوی چې تر هغه غټ قراردادي ته یې د اصل نه د زیاتو لګښتونو بلونه ورکړي دي، کوم چې په پای کې د متحده ایالاتو حکومت ته ورکړل شوي وو. یو ایس ای ایي ډي د دې قضیي د سر تحقیقي اداره ده. محاکمه به په سپتمبر ۲۰۰۹ کې ترسره کېږي.

# د سیګار بودیجه

د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د بودیجو ضمیمه یي تخصیص (پي. ایل. ۱۱۱-۳۲)، چې د امریکا د ولسمشر لخوا په جون کې لاسلیک شوی و، سیګار ته د دوو کلونو په موده کې ۷.۲ ملیونه ډالر ورکړل څو د دې سازمان د بودیجي کمبود حل کړي. سیګار د دې پیسو لپاره د سمبالښت او بودیجي دفتر ته یو درخواست ورکړی و چې د بودیجو په ضمیمه یي تخصیص کې شامل کړای شي. د اضافي بودیجو سره په مالي کال ۲۰۰۹ کې د سیګار ټوله بودیجه ۲۳.۲ ملیونه ډالرو ته رسېږي. دا ضمیمه یي بودیجه سیګار ته موقعه ورکوي چې د ۲۵ مستقلو اضافي کارکوونکیو او همداراز په سیمییزه توګه په کار لګول شویو کسانو (ترجمانانو) ځای ډک کړي. دا کارکوونکي د سیګار د مشن لپاره داسي ضروري دي چې په افغانستان کې د بیا رغوني د پروګرام خپلواکي حسابي تصفیي، معایني، او پلټني ترسره کړي. د سیګار د بودیجي د لنډیز لپاره چوکاټ ۲.۱ وګورئ.

## د سيګار کارکوونکي

کانګرس ته د خپل وروستي درې مياشتني راپور له ورکولو وروسته، سيګار د خپلو مرکزي کارکوونکيو شمېره له ۳۲ څخه ٤٤ ته په لوړولو سره د نګرانۍ د ترسره کولو لپاره خپل ظرفيت ته د پام وړ پراخوالی ورکړی دی.۱۲ سيګار د اګست ۲۰۰۹ تر پای پورې د درېو اضافي حساب کتونکو، يو پلټونکي، درېو تحقيق کوونکيو، او د معلوماتي تکنالوژۍ د يو سمبالوونکي په کار د ګومارلو تمه لري.

چوکاټ ۲.۱

| د سيګار د بوديجو لنډيز (په مليونونو ډالرو کې) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **اختصاص** | **عامه قانون** | **اختصاص شوي** | **موجودي** | **تاريخ تېر** | **رقم** |
| د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ ار۲٦٤۲ | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ ار۲٦٤۲ | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| د پياوړې شوې امنيت، په مصيبت کې د مرستې، او د دوامي اختصاصونو قانون، ۲۰۰۹ | P.L. 110-329 | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ ار۲۳٤٦ | P.L. 111-32 | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| | | | | **تول** | **$23.2** |

**د کونړ د ساختماني مرکز فارغان**

د افغانستان په ختیځ کې د کونړ د ساختماني مرکز (چې بودیجه ورله د یو ایس ای ایي ډي او سي اي ار پي لخوا په ګډه ورکړل شوې) فارغانو ته د نجارۍ، معمارۍ، برقي کار او رنګ کولو رسمي مسلکي روزنه ورکړل شوه. (د یو ایس ای ایي ډي انځور)

# 3 وروستی حال
# بیا رغونه



”د بشري هڅې په ټولو اړخونو کې د افغانستان د پرمختیا لپاره د یوې افغاني-واک د ادارې په توګه، ای این ډي ایس به زمونږ د ملت... د افغان جوړونې د هدف لپاره د اوږدې مودې د ارمان په لور خدمت وکړي، په داسې حال کې چې مونږ په مرستو د کمې اتکاء او اقتصاد کې په خپلو پښو د ودرېدو پر لور سفر کوو.“

— افغان ولمسشر حامد کرزی
د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ
د تشریح کولو پر مهال[13]

# د بیا رغونې وروستی حال

له ۲۰۰۲ راپدېخوا، متحده ایالاتو د افغانستان د بیا رغونې لپاره تر ۳۸ ملیارده زیات امریکایي ډالر ورکړي دي. دوه ستراتیژۍ - د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي (ای این ډي ایس) او افغانستان لپاره د متحده ایالاتو نوې ستراتیژي - د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅو لپاره چوکاټ برابروي. ای این ډي ایس، چې د نړیوالې ټولنې په مشوره جوړ شوی، د بیا رغونې د درېو ستنو لاندې معیارونه جوړوي: امنیت؛ دولتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا. برسېره پر دې، ای این ډي ایس شپږ مسلې پېژني - سیمییزه همکاري، د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه، د فساد پر وړاندې کار، جنسي برابري، د ظرفیت لوړول، او چاپېریال – چې په دغو درېو ستنو راڅرخي. د افغانستان جمهوري دولت ای این ډي ایس په ۲۰۰۸ کې خپل کړ، او متحده ایالات ژمن دی چې افغانستان سره د ای این ډي ایس د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

دا برخه د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو بودیجو د حالت وروستی حال، او همداراز د بیا رغونې د هغو هڅو په اړه وروستی حال وړاندې کوي چې د درېو ستنو څخه د هرې یوې لاندې ترسره کېږي. د بودیجو په اړه ضمني برخه دې ته کتنه کوي چې څرنگه د بیا رغونې لپاره بېلې شوې بودیجې د متحده ایالاتو د تطبیقوونکیو ادارو ترمنځ تخصیص شوي او بیا د ای این ډي ایس د درېو ستنو څخه د هرې یوې لاندې فعالیتونه تشریح کوي. د امنیت په اړه ضمني برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ای این ایس ایف) د روزلو



**د جروم ښوونځي جوړولو**، چې د ښوونځیو جوړولو لپاره د یو ایس ای ایي ډي پروژه ده، د افغانانو لپاره کارونه برابر کړي دي (د یو ایس ای ایي ډي انځور، بین باربر)

لپاره د متحده ایالاتو په هڅو تمرکز کوي. د دولتداری، د قانون د حاکمیت، او بشري حقونو په اړه ضمني برخه د راتلونکیو ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د پروسې په اړه بحث کوي او د فساد پر وړاندې د مبارزې د هڅو تشریح کوي. په اخرنی ضمني برخه، چې هغه فعالیتونه تشریح کوي چې اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ته وده ورکوي، کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د یوې هڅې وروستی حال شامل دی.

په دې برخه کې وړاندې شوې معلومات د متحده ایالاتو د ادارو ډاټا او معلومات، رسمي راپورونه، د کانګرس بیانونه، او نورې عوامي سرچینې رایوځای کوي. سیګار دا ډاټا په خپلواکه توګه نده تصدیق کړې. د ټولو سرچینو پېژندنه په پای یاداښتونو کې ورکړل شوې ده.

## د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي (ای این ډي ایس)

د افغانستان جمهوري دولت ای این ډي ایس په ۲۰۰۸ کې د ګڼ شمېر افغانانو او همداراز نړیوالې ټولنې سره د دوو کلونو له مشورو وروسته خپل کړ. څرنګه چې دا د ۲۰۰۶ په افغانستان تړون جوړ شوی، ای این ډي ایس د بیا رغونې اهداف د درېو ستنو د لاندې تشریح کوي – امنیت؛ دولتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا – او د دې اهدافو د ترلاسه کولو لپاره معیارونه ټاکي. دا همداراز شپږ پر یو بل راڅرخېدونکي مسلې پېژني – سیمییزه همکاري، د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه، د فساد پر وړاندې مبارزه، جنسي برابری، د ظرفیت جوړول، او د چاپېریال سمبالښت – چې د پرمختیا د عمومي ستراتیژی د یوې برخې په توګه ورته پاملرنه کول ضروري دي.

ای این ډي ایس د لاندې تشریح شویو درېو ستنو لپاره د پنځو کلونو (۲۰۰۸-۲۰۱۳) لپاره لومړیتوبونه ټاکي. انځور ۳.۱ به د دغو ستنو او په ټوله برخه کې د یو بل سره تړلیو مسئلو د ښه وضاحت لپاره وکارول شي.

### امنیت

د دې مهم هدف د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) په مرسته د هېواد په ټولو برخو کې ثبات راوستل او د افغان ملي امنیتي ځواکونو وړتیا زیاتول دي تر څو د کال ۲۰۱۰ پورې په افغانستان کې د امنیت راوستلو وړ شي. په دې کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو - د افغان ملي اردو (ای این ای) او افغان ملي پولیسو (ای این پي) – پراخول او دا خبره باوري کول شامل دي چې دوی د افغانستان د خلکو استازیتوب وکړي او د هغوی تر احتساب لاندې وي. برسېره پر دې، د افغانستان جمهوري دولت غواړي چې په مرکزي او هم په ولایتي کچه د قانون د تطبیقولو ظرفیت پیاوړی کړي، د خپلو ګاونډیانو سره د همکارۍ او استخباراتو شریکول زیات کړي تر څو د مخدره موادو قاچاق کم کړي (او د سیمې ۷۰٪ هغه ځایونه پاک کړي چې په ځمکني ماینونو او ناچاودېدلو توکو لړل شوي دي.

### دولتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه

ای این ډي ایس په مرکزي او ضمني-ملي کچه د دولتي ادارو په پیاوړي کولو تاکید کوي تر څو د عوامي خدمتونو رسول بهتر او د ټولو اتباعو حقونه خوندي شي. د دې ستنې د اهدافو په اوږد لیست کې د عدالت د په سکټور کې اصلاحات او د ملکي خدمت بیا جوړول دي څو د مالي کال په مناسبت دوامداره عوامي اداره کار وکړي. دا همداراز د افغانستان د خپلواک انتخابي کمیسیون (ایي اي سي) د ظرفیت لوړولو ته تر ټولو زیات

لومړيتوب ورکوي تر څو تولټاکني ترسره کړي، په دولتدارۍ کي د ښځو د ګډون د زیاتولو لپاره یو ملي پلان تطبیق کړي، د فساد د مخنيوي لپاره د نګرانی د پروسو اصلاحات وکړي، او محکمي او زندانونه ترمیم کړي.

## اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

د ای این ډي ایس هدف د خصوصي سکټور په پراخولو سره د غربت کمول او په عین حال کي په پرمختللي بڼه د جنايي اقتصاد له منځه وړل دي. د خصوصي سکټور زیاتول د برېښنا، د سفري وسیلو او اوبو د سمبالښت په مهمو برخو کي د هیواد د انفراسټرکچر په پراخولو تکیه لري. په عین حال کي، ای این ډي ایس د دولتي او هم د خصوصي سکټور د ظرفیت د ښه کولو لپاره د روزنیزو او پوهنیزو پروګرامونو غوښتنه کوي.

انځور ۳.۱

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای این ډي ایس)




**د ګراف سمبول:** لاندینی ګراف د ای این ډي ایس د درېو ستنو او شپږو راڅرخېدونکو مسئلو چي هغه يي اغېزمني کوي وړاندي کوي.
په دي ټوله برخه کي، تر بحث لاندي ستن یا راڅرخېدونکي مسئله په حاشيو کي ښودل شوي ده.



”په ای این ډي ایس کې د شاملو پروژو او
پروګرامونو د پلي کولو وړتیا په ترلاسه
کېدونکیو سرچینو تکیه لري.“

— د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي

# د بودیجو حالت

په جون ۲٤، ۲۰۰۹، د متحده ایالاتو ولسمشر د مالي کال ۲۲۰۹ د ضمیمه یي تخصیصاتو قانون لاسلیک کړ، چې له مخې یې د افغانستان د بیا رغوني لپاره اضافي ٥.۰٤ ملیارده ډالر ورکړای شول، په ګډون د ۳.٦ ملیارده ډالرو د افغان امنیتي ځواکونو لپاره.١٤ د دې وروستي تخصیص په شاملولو سره، متحده ایالاتو د افغانستان د اسانی او بیا رغوني لپاره تقریباً ۳۸ ملیارده ډالر ورکړي دي.

## افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د بیا رغوني بودیجي

له هغه وخته چې متحده ایالاتو او ایتلافیانو یې په کال ۲۰۰۱ کې طالبان راوپرځول، د متحده ایالاتو کانګرس په افغانستان کې د بیا رغوني د هڅو د مالي مرستې لپاره ګڼ شمېر ستر تخصیصي بلونه منلي دي. د سمبالښت او بودیجې دفتر (او ایم بي) هغو ګڼ شمېر ادارو ته پیسې بېلې کړې دي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د بیا رغوني د هڅو د تطبیقولو مسوولیتونه په غاړه لري. انځور ۳.۲ د متحده ایالاتو د هغو سترو بودیجو عمومي کتنه وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغوني د هڅو لپاره یې ورکړې دي.

انځور ۳.۲

د افغانستان د بیا رغوني د هڅو د ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو بودیجي (په ملیاردونو ډالرو کې)




یادونه: شمېر په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. ا د انصاف محکمه، د دفاع محکمه، د متحده ایالاتو خزانه، یو ایس ډي ای، یو ایس ای ایي ډي، او نوري اداري. ب. ضمیمه یي ومنل شو په 6\24\2009

سرچیني: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمي ځوابونه، 7\10\2009 او 7\13\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د یو ایس ای ایي ډي ځواب، 7\9\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د بهرنیو چارو د محکمي ځواب، 7\2\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د انصاف د محکمي\ډي اي ای ځواب، 7\8\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د بهرنیو چارو د محکمي ځواب، 7\10\2009 او 7\13\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د یو ایس ډي ای ځواب، 4\7\2009. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د او ایم بي ځوابونه، 9\30\2009 او 7\16\2009

**د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ای ايس ايف ايف): ١٥.٠٦ ملیارده**[15]

د دفاع د محکمي (ډي او ډي) لخوا اداره کېږي، ای ايس ايف ايف د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ای اين ايس ايف) د روزني او مجهزوني لپاره مرسته برابروي.[16]

**د قوماندان د بيرني ځواب پروګرام (سي اي ار پي): ١٥.٠٦ ملیارده**[17]

د دفاع د محکمي (ډي او ډي) لخوا اداره کېږي، د سي اي ار پي بوديجي په افغانستان (او عراق) کي د متحده ايالاتو سيمييزو قوماندانانو ته توان ورکوي چي د داسي پروژو او پروګرامونو ملاتړ وکړي کوم چي په سيميزه کچه مرسته وړاندي کوي.[18]

**د اقتصادي ملاتړ بوديجه (اي ايس ايف): ٧.٦٣ ملیارده**[19]

اداره کېږي د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيا د اداري (يو ايس ای ايي ډي) لخوا، اي ايس ايف په افغانستان کي د دموکراسی او ظرفيت جوړولو پروګرامونو ته د متحده ايالاتو د مرستو تر ټولو غټه برخه ورکوي.[20]

**پرمختيايي مرسته (ډي ای): ٠.٨٩ ملیارده** [21]

سمبالښت يي د يو ايس ای ايي ډي لخوا کېږي، د ډي ای پروګرامونه په وروسته پاتي هېوادونو کي د اقتصادي پرمختګ او ټولنيز ثبات د ملاتړ کوي.[22]

**د مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تطبيقولو نړيواله بوديجه (ايي اين سي ايل ايف): ١.٩٩ ملیارده**[23]

سمبالښت يي د بهرنيو چارو د محکمي (ډي او ايس) د مخدره موادو د مخنيوي او د قانون د تطبيق (ايي اين ايل د نړيوال دفتر لخوا کېږي،ايي اين سي ايل ايف او د ايي اين ايل تر سمبالښت لاندي نوري بوديجي په اساسي ډول د مخدره موادو ضد او د قانون د تطبيق د پروګرامونو ملاتړ کوي.[24]

**نوري بوديجي: ٥.٨٤ ملیارده**[25]

د بيا رغوني اضافي بوديجي د دفاع د محکمي، د بهرنيو چارو د محکمي (په ګډون د ايي اين ايل)، يو ايس ای ايي ډي، او د انصاف د محکمي (ډي او جی)، د دارو د تطبيق د اداري لخوا سمباليږي.[26]

**د ګراف سمبول:** د دي لپاره چي د راپور جزييات د بوديجو په مليارډونو ډالرو کي ده، نو دا د دواړو يونټو ترمنځ د توپير کولو لپاره يوه کتنيزه اشاره کاروي. هغه ډالر چي په مليونونو کي راپور شوي په خره کي ښودل شوي، او هغه ډالر چي په مليارډونو کي راپور شوي په ابي کي ښودل شوي دي.



ي چوکاټ په مليونونو کي



پايي چوکاټ په مليونونو کي

**د ګراف سمبول:** دا راپور د ډېرو هغو بوديجو او پروژو څخه بحث کوي چي د مليونونو څخه تر مليارډونو ډالرو رسيږي. د دي شمېرو د يوي ښخي سمي ګرافي وړاندیوني لپاره، ځيني د پټيو ګرافونه د ماتي (تاو راتاو کرښي) سره ښکاري چي د صفر او يو غټ لمبر ترمنځ د توپ ځرګندونه کوي.



# د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ای ایس ایف ایف)

د دفاع د محکمې د ګډ امنيتي انتقال قومانده-افغانستان (سي ايس ټي سي-ای) د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې پيسې د دې لپاره کاروي چې افغان ملي امنيتي ځواکونو (ای این ایس ایف) ته سامان الات، روزنې، دوامداري، د ياغيتوب د مقابلې هنر، او د انفراسټرکچر پرمختيا ورکړي.[27]

## د بوديجو حالت

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، د ۱۵.۰٦ مليارده ډالرو بوديجې نږدې ټوله چې د ای ایس ایف ایف لپاره موجوده وه منل شوې وه (۱٤.۹۰ مليارده). اندازتاً ۱٤.٦۹ مليارده (د هغو بوديجو چې ای ایس ایف ایف لپاره موجوده وې د ۹۷% څخه زيات) لګول شوې وه.[28] انځور لمبر ۳.۳ هغه بوديجې ښيې چې د ای ایس ایف ایف لپاره په مالي کال کې ترلاسه شوې وې.

د فبروري ۲۸، ۲۰۰۹ څخه، دفاع محکمې د ای ایس ایف ایف په پيسو کې تر ۱.۹۳ مليارده زيات ډالر لګولي دي، او ۲.۰۷ مليارده اضافي ډالر يې منلي دي.[29] انځور ۳.٤ د دويمې درې مياشتنۍ د بوديجو حالت پرتله کوي (د فبروري ۲۸، ۲۰۰۹ پورې) د دريمې درې مياشتنۍ د بوديجو د حالت سره (د جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې).

## د ای ایس ایف ایف د بوديجې فعاليتونه

ای ایس ایف ایف د بوديجې په دريو فعاليتونو ويشل شوې دی: د دفاع ځواکونه، داخلي ځواکونه، او ورسره تړلې فعاليتونه.[30] لکه چې په انځور ۳.۵ کې ښودل شوې، د ای ایس ایف ایف د بوديجو غټه برخه د دفاع پر ځواکونو لګول شوې، په مشخصه توګه د افغان ملي اردو (ای این ای) لپاره د دوامدارۍ په انفراسټرکچر، په روزنو او

انځور ۳.٤

د ای ایس ایف ایف لګښتونه د بوديجې په فعاليت، مالي کال 2005-2009 (ډالري بلونه)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ای ایس ایف ایف د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 2\28\2009 او 7\10\2009

انځور ۳.۳

د ای ایس ایف ایف موجودې بوديجې د مالي کال په حساب (ډالري بلونه)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې. د ای ایس ایف د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي څنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي وې استثنا له هغې چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 7\10\2009.




### د ای ایس ایف ایف بوديجې ترمينالوژي

ای ایس ایف ایف لپاره د دفاع محکمې راپور کړې بوديجې، موجودې، منل شوې او لګول شوې.[32]

**موجودې:** ټولې پيسې چې د ژمنتياو لپاره موجودې وي
**منل شوې:** د پيسو د ورکولو لپاره ژمنتياوې
**لګول شوې:** هغه پيسې چې خرڅ شوې دي

انځور ۳.۵

د ای ایس ایف ایف لګښتونه د بوديجې په فعاليت، مالي کال 2005-2009 (ډالري بلونه)

ټول: $14.69




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي او د 6\30\2009 تر نېټې دي. د ای ایس ایف ایف د بوديجو شرطونه (موجود، منل شوي، لګول شوي) هغه دي چې د دفاع محکمې لخوا راپور شوي پرته له هغو چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 7\10\2009.

فعالیتونو، او سامان الات او ترانسپورټي فعالیتونو. په ورته توګه، د ای ایس ایف ایف پیسي د داخلي ځواکونو لپاره د افغان ملي پولیسو (ای این پي) د همدغو فعالیتونو د مرستې لپاره لګول شوي دي.[31]

## د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (سي اي ار پي)

د سي اي ار پي بودیجې په افغانستان کې امریکایي قوماندانان توانوي چې د خپل مسوولیت په سیمو کې د داسي پروګرامونو په ملاتړ سره چې په سمدستي توګه د محلي خلکو سره مرسته وکړي بشري اسانتیا او د بیا رغونې غوښتنو ته بیړنی ځواب ووایي. سي اي ار پي دې لپاره جوړ شوی چې د ۵۰۰،۰۰۰ ډالرو یوې پروژې لاندې د واړه کچ پروژو لپاره وکارول شي. د دوه ملیونه ډالرو څخه پورته پروژو اجازه شته، خو منظوري یې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې (سینټکام) د قوماندانانو، یا د هغوی د نوماندانو لخوا ضروري ده.[34]

### د بودیجو حالت

بودیجه ورکول[35] هغه ټولي پیسي چې د مالي کال ۲۰۰٤ څخه موجودې وي، سینټکام ترې نږدې ۱.٦۲ ملیارده ډالر په افغانستان کې د سي اي ار پي د ژمنتیاو لپاره ورکړي، په ګډون د تقریباً ۰.٥٤ ملیارده په مالي کال ۲۰۰۹ کې. منل شوي: د سي اي ار پي د بودیجو لپاره د ۱.٤٥ ملیارده ډالرو پیسي ورکول منل شوي، او نږدې ۰.۸۱ ملیارده ډالر (۵۰% د بودیجې په توګه ورکړل شوي رقم څخه) لګول شوي دي.[36] انځور ۳.٦ په مالي کال د




**د سي اي ار پي د بودیجې ترمینالوژي**

دفاع محکمې د سي اي ار پي د بودیجو راپور ورکړی څنګه چې بودیجه ورکړل شوي، منل شوي، یا لګول شوي.[33]

**بودیجې:** د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولي پیسي
**وي منل شوي:** د پیسو د ورکولو لپاره ژمنتیاوې
**لګول شوي:** هغه پیسي چې خرڅ شوي دي

انځور ۳.۷

د سي اي ار پي بودیجه له مودې-تر مودې پرتله
(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي دي. د سي اي ار پي د بودیجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 2009\28\2 او 2009\10\7

انځور ۳.٦

د سي اي ار پي بودیجه په مالي کال
(په ملیونونو ډالرو)




یادونې: په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي دي. د سي اي ار پي د بودیجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 2009\10\7.

سي اي ار پي بوديجه ښيي. لګول شوي: هغه پیسې چې لګول شوي وي.

دا دري مياشتنی (د اپرېل ۱، ۲۰۰۹، او جون ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ)، دفاع محکمې د سي اي ار پي د بوديجې لپاره نږدې ۰.۱۳ مليارده ډالر ولګول او تقريباً ۰.۲۱ مليارده يې ومنل.[37] انځور ۳.۷ د سي اي ار پي د دويمې دري مياشتنی لپاره ورکړل شوي بوديجې، منل شوي او لګول شوي ((د مارچ ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم) او دريمې دري مياشتنی (د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم) پرتله کوي.

## د اقتصادي ملاتړ بوديجه (اي ايس ايف)

د اي ايس ايف پروګرامونه هېوادونو سره د لنډ او اوږدمهاله سياسي، اقتصادي او امنيتي اړتياو په پوره کولو کې په مرسته کولو د متحده ايالاتو کټې پر مخ وړي. د پروګرامونو ډولونه د ياغيتوب له مقابلې نيولې د يو ملت د خصوصي سکټور تر بهترولو، او د لا زيات شفاف او تر حساب لاندې حکومت لپاره د اغېزمن، تر لاسه کېدونکي، خپلواک حقوقي سيستم په پرمختيا کې تر مرستې پورې.[38]

### د بوديجو حالت

د ۲۰۰۲ راهيسې، کانګرس په افغانستان کې د اي ايس ايف د پروګرامونو لپاره تقريباً ۷.۵۷ مليارده ډالر ټاکلي دي.

انځور ۳.۹

د اي ايس ايف بوديجې، له
موډې-تر-موډې پرتله (ډالري بلونه)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. د اي ايف ايف د بوديجې ټرمينالوژي (ټاکل شوي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي چې د يو ايس ای ايي ډي لخوا ورکړل شوي پرته له هغې چې مشخص شوي وي

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د يو ايس ای ايي ډي ځواب، 2009\28\2 او 2009\10\7.

انځور ۳.۸

د اي ايس ايف لپاره ټاکل شوې پيسې په مالي کال
(ډالري بلونه)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. د اي ايس ايف د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي ځرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محکمې ځواب، 2009\10\7.




**د اي ايسف ايف بوديجې ټرمينالوژي**

يو ايس ای ايي ډي د اي ايس ايف بوديجې د ټاکل شوي، منل شوي، او لګول شوي په توګه راپور کړې.[41]

**ټاکل شوي:** هغه ټولې پيسې چې د ژمنتياو لپاره موجودې وي

**منل شوي:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې

**لګول شوي:** هغه پيسې چې خرڅ شوي وي.

د دې رقم څخه، تقریباً ٦.٠٩ ملیارده منل شوي او ٤.١٧ ملیارده لګول شوي دي (د منل شوي رقم نږدې ٥٥٪).[39]

انځور ٣.٨ د اې ایس ایف لپاره ټاکل شوي پیسې په مالي کال ښيي.

د فبروري ٢٨، ٢٠٠٩ راهیسې، یو ایس ای اېي ډي تقریباً ٤٥٤ ملیونه لګولي او ٨٨ ملیونه نور یې منلي دي.[40]

انځور ٣.٩ د اې ایس ایف لپاره دغه ټاکل شوي ، منل شوي

## پرمختیایي مرسته (ډي ای)

د ډي ای پروګرامونه، چې اساسي سمبالښت یې د یو ایس ای اېي ډي لخوا کېږي، د دې لپاره جوړ شوي چې په وروسته پاتې هېوادونو، په ګډون د افغانستان، کې دوامدار، پراخ بنسټه پرمختګ او ټولنیز ثبات مخ پر وړاندې بوځي.[43] د ډي ای بودیجې د داسې اوږدمهاله پروژو سره مرسته کوي چې بشري کومک رسوي، د چاپېریال ستونځې حل کوي، دولتداري بهتروي، او ټولنیزې اقتصادي پرمختیا ته وده ورکوي.[44]

### د بودیجو حالت

د جون ٣٠، ٢٠٠٩ پورې، د ډي ای د بودیجو څخه تقریباً ٨٩٠ ملیونه افغانستان ته ورکړل شوي.[45] یو ایس ای اېي ډي د دې بودیجو تقریباً ٨٨٣ ملیونه ډالر منلي دي.[46] د دې رقم نه تقریباً ٦٧٤ ملیونه (د ډي ای نږدې




**د ډي ای بودیجې ټرمینالوژي**

یو ایس ای اېي ډي د اې ایس ایف بودیجې د ټاکل شوي، منل شوي، او لګول شوي په توګه راپور کړي.[42]

**ټاکل شوي:** هغه ټولې پیسې چې د ژمنتیاو لپاره موجودې وي

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې

**لګول شوي:** هغه پیسې چې خرڅ شوې وي

انځور ٣.١٠

د ډي ای ټاکل شوي رقمونه په مالي کال

(په ملیونونو)




یادونې: په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي. د ډي ای د بودیجو اصطلاحات (موجودې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د یو ایس ای اېي ډي ځواب، 2009\9\7.

انځور ٣.١١

د ډي ای بودیجې، له مودې-تر-مودې پرتله (په ملیونونو)




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي. د اې ایس ایف د بودیجو اصطلاحات (موجودې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د یو ایس ای اېي ډي ځواب، 2009\9\7.

۷٦%) لګول شوي دي.[47] انځور ۳.۱۰ په مالي کال د ډي ای ټاکل شوې پیسې ښیي.
د فبرورۍ ۲۸، ۲۰۰۹ څخه راپدېخوا، یو ایس ای ایي ډي د افغانستان لپاره د ډي ای تر ٤٤ ملیونه ډالرو زیاتي بودیجې لګولې دي او تقریباً ۸.٦ ملیونه یې منلې دي.[48] یو ایس ای ایي ډي راپور ورکړی چې د ۲۰۰۸ لګښتونه د بودیجو د ځنډېدو له امله اغېزمن شوي وو؛ د بودیجو غټه برخه یو ایس ای ایي ډي ته د اګست تر پای او د سپتمبر تر نیمایي پورې نه وه ورکړل شوې.[49] انځور ۳.۱۱ د ډي ای ټاکل شوې، منل شوې او لګول شوې بودیجې انځوروي.

## د مخدره موادو د کنټرول او قانون تطبیقوونکو نړیوالو چارو دفتر (ایي این ایل)

ایي این ایل د بهرنیو چارو د محکمې یوه څانګه ده چې د هغو پروژو او پروګرامونو د نګرانی مسوولیت په غاړه لري کوم چې د مخدره موادو د قاچاق او د نشه یي توکیو د تولید پر ضد جوړ شوي دي. د ایي این ایل لخوا ایي این سي ایل اي سمبالېږي، کوم چې د قانون د حاکمیت او تحریم؛ د کوکنارو له منځه وړلو او کمولو د غوښتنې؛ او عامه معلوماتو ملاتړ کوي. ایي این ایل همدارنګ د نورو ادارو، په اساسي توګه د دفاع د محکمې، څخه هم بودیجه ترلاسه کوي څو په افغانستان کې د مخدره موادو ضد پروګرامونو ملاتړ وکړي.[50]




**د ایي این ایل بودیجې ترمینالوژي**

ایي این ایل د ایي این سي ایل اي او نورې ایي این ایل بودیجې د مختص شوې، منل شوې او مصرف شوې په توګه راپور کړې.[53]

**مختص شوې:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې
**منل شوې:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**مصرف شوې:** هغه پیسې چې خرڅ شوې دي

انځور ۳.۱۲

د ایي این ایل مختص شوې په مالي کال

(په ملیونونو کې)




یادونې: په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ایي این ایل د بودیجو اصطلاحات (موجودې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوې څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوې استثنا له هغې چې مشخص شوې.

سرچینې: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د محکمې ځواب، 2009\2\7 .

انځور ۳.۱۳

د ایي این ایل بودیجې، له مودې-تر-مودې پرتله

(په ملیونونو کې)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ایي این ایل د بودیجو اصطلاحات (موجودې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوې څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوې استثنا له هغې چې مشخص شوې.

سرچینې: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د محکمې ځواب، 2009\2\7 .

## د بوديجو حالت

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، په افغانستان کې د ايي اين ايل د پروګرامونو لپاره ۳.۱۱ ملیارده ډالر مختص شوي وو. د دې رقم څخه، ايي اين ايل تقريباً ۲.۸۸ ملیارده ومنل او ۲.۱۰ ملیارده نور يې مصرف کړل (د مختص شويو بوديجو تر ۶۷% زيات).[51] انځور ۳.۱۲ د ايي اين ايل مختص شوې پيسې په مالي کال ښيي.

د مارچ ۱۰، ۲۰۰۹ څخه راپدېخوا، د ايي اين ايل لپاره ۲۷۰ مليونه اضافي ډالر مختص شوي وو. په همدې موده کې، ايي اين ايل د ۳۶۸ مليونه څخه زيات ډالر ومنل او د ۲۹۵ ميلونه څخه زيات يې مصرف کړل.[52] انځور ۳.۱۳ د دويمې درې مياشتنی (د مارچ ۱۰، ۲۰۰۹ سره سم) او دريمې درې مياشتنی (د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم) لپاره د ايي اين ايل مختص شوي، منل شوي، او مصرف شوي رقمونه ښيي (په ګډون د ايي اين سي ايل اي).

## د ايي اين ايل پروګرامونه

د ايي اين ايل بوديجې پروګرامونه په څو ډلو کې ويشل شوي دي: پوليس، د مخدره موادو ضد، د قانون\عدالت حاکميت، او نور پروګرامونه. د پوليسو پروګرامونو ته تر ټولو زيات مصارف ورکړل شوي (۱،۱۷۸ مليونه يا ۵۶% د مصارفو)، بيا ورپسې د مخدره موادو ضد پروګرامونه دي (۷۶۹ مليونه يا نږدې ۳۷% د مصارفو).[54]

انځور ۳.۱۵

ايي اين سي ايل اي بوديجې، له مودې-تر-مودې پرتله (په مليونونو کې)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري ليږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ايي اين ايل د بوديجې اصطلاحات (مختص شوي، منل شوي، مصرف شوي هغسې راپور شوي څرنګه چې د بهرنيو چارو د محکمې او ايي اين ايل لخوا ورکړل شوي پرته له هغې چې مشخص شوي.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، 3\19\2009 او 7\10\2009.

انځور ۳.۱٤

ټول په مصارفو کې د پروګرام له مخې مالي کال 2009 (په مليونونو کې)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري ليږدل شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ايي اين ايل اصطلاحات (مختص شوي، منل شوي، مصرف شوي) راپور شوي څرنګه چې د بهرنيو چارو د محکمې او ايي اين ايل لخوا ورکړل شوي پرته له هغې چې مشخص شوي دي. ډالر .

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، 7\14\2009.

انځور ۳.۱۶

فغان دولت بودیجه، 2008-2009 (په ملیاردونوکی)




نه: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي.

چینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د امریکا د خزانې ځواب، 2009\9\7.

انځور ۳.۱۷

د افغان دولت کورني عایدات، 2009-2009 (په ملیونونو ډالرو کې)




یادونه: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د امریکا د خزانې ځواب، 2009\9\7.

انځور ۳.۱٤ د ایي این د پروګرامونو (په ګډون د ایي این سي ایل اي) مصارف ښیي.

## ایي این سي ایل اي

د ایي این سي ایل اېل د بودیجو غټه برخه د پولیسو، مخدره موادو ضد، او د قانون د حاکمیت او عدالت د پروګرامونو لپاره کارول کېږي. د جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، تقریباً ۱.۹۹ ملیارده ډالر د ایي این سي ایل اي لپاره مختص شوي، تقریباً ۱.۷۸ ملیارده منل شوي او نږدې ۱.٤۸ ملیارده مصرف شوي دي.[55]

انځور ۳.۱۵ د دویمې درې میاشتنې (د مارچ ۱۰، ۲۰۰۹ سره سم) او د درېمې درې میاشتنې (د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم) د ای این سي ایل اي مختص شوي، منل شوي او مصرف شوي رقمونه انځوروي.

## د افغانستان د دولت بودیجې

د افغانستان اسلامي او جمهوري دولت هم، برسېره پر خپلو فعالیتي لګښتونو، د بیا رغونې هڅو ته بودیجې ورکوي. د افغانستان د دولت د مالیې وزارت د بودیجې د سمبالښت او عملي کولو مسوولیت په غاړه لري، په کومو کې چې د بیا رغونې د هڅو لپاره د افغانستان بودیجې شاملې دي.[56] د مالیې وزارت د نړیوالو بودیجو مسوول هم دی کله چې دغه بودیجې د دولتي وزارتونو له لارې ورکول کېږي. یو ایس ای ایي ډي راپور ورکړې چې د افغانستان دولت په خپل مالي سمبالښت کې د ننګونو سره مخ دی، په ځانګړې توګه په فساد ضد ورتیا، د لاس ته راوړنو سیسټمونو، او د بودیجې د عملي کولو په قیمتونو کې.[57]

## کورنۍ بودیجه او د بودیجې عملي کول

د افغانستان د دولت د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ لپاره بودیجه ۷.۳ ملیارده ډالر اټکل شوې ده. بودیجه په دوو درجو کې جلا کړای شوې ده. ۲.٤ ملیارده ډالر اساسي بجټ (په ګډون د فعالیتي او پرمختیایي بودیجې) او د ٤.۹ ملیارده ډالرو خارجي بجټ.[58] انځور ۳. ۱٦ د افغان دولت د بودیجې د رقمونو یو تحلیل وړاندې کوي.

- اساسي بودیجه – فعالیتي – د افغانستان دولت د خپلې فعالیتي بودیجې لپاره ۱.٤ ملیارده ډالر ورکړي دي، چې په اساسي توګه د عادي لګښتونو څخه جوړ شوی، لکه د حکومت معاشونه. د افغان دولت د دې د بجټ د دې برخې عملي کول ۱۰۰% ته رسېدلي دي. [59]
- اساسي بودیجه – پرمختیایي – افغان دولت همدارز د دولتدارۍ، انفراسټرکچر، زراعت، اقتصادي ریفورم، او د خصوصي سکټور د پرمختیا په برخو کې ۱ ملیارده ډالر بودیجه جوړه کړې. افغان دولت اوس مهال هر کال د خپلې پرمختیایي بودیجې ۵۰% عملي کوي. د متحده ایالاتو د خزانې له مخې، افغان دولت د خپلې پرمختیایي بودیجې په عملي کولو کې په وزارتونو کې د ټیټ ظرفیت او دوامداره امنیتي ننګونو له امله له مشکلاتو سره مخ دی.[60]
- خارجي بودیجه – د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره، د افغانستان خارجي بودیجه تقریباً ٤.۹ ملیارده وه. د افغانستان خارجي بودیجه په اساسي توګه د امنیتي لګښتونو څخه جوړه شوې، هر څو که ځیني پرمختیایي بودیجه پکې شامله ده. د افغانستان ټوله خارجي بودیجه په نړیواله مرسته اتکاء لري.[61]

## کورني عايدات

د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ لپاره، خزانې راپور ورکړی چې د افغانستان عايد تقريباً ۹۷۸ مليونه ډالر دي – د ۲.٤ ملیارده اساسي بوديجې نږدې ٤۱%.[62] انځور ۳.۱۷ د افغانستان د دولت لپاره د کورني عايد سرچيني انځوروي. خزانې راپور ورکړ چې افغان دولت د خپلې اساسي بوديجې د پېسو لپاره تقريباً ٦۰% په بهرني عايد اتکاء لري، برسېره پر ټولې خارجي بوديجې.[63]

## تړل شوې بوديجې

د طالبانو د واکمنی پر مهال (له دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ څخه وړاندې)، د طالبانو پر ضد د بندېزونو په تعقيب ۲٦٤ مليونه ډالر په امريکايي بانکي حسابونو کې تړل شوي يا کنګل شوي وو؛ دا د ۷۰۳،۰۰۰ ټولې سرو ارزښت وړاندې کوي چې، د خزانې له مخې، د افغانستان د مرکزي بانک څخه د امريکا د مرکزي خزانې سره نيول شوي وو. د امريکا په مشرۍ د پوځي کمپاين څخه وروسته، په افغانستان کې د افغان انتقالي اداري حکومت جوړ شو. متحده ايالاتو د طالبانو تړل شوي شتمنې د افغانستان انتقالي ادارې ته د ۲۰۰۲ د فبرورې او اپرېل مياشتو ترمنځ بېرته ورکړې. خزانې راپور ورکړی چې دغه بوديجې د امريکا د حکومت لخوا خپلې کړای شوي نه وې.[64]

## نړيوال مرستندويان

په جون ۲۰۰۸ کې د پاريس په کنفرانس کې، افغانستان د ای اين ډي ايس پروګرام وړاندې کړ او د پنځو کلونو په موده کې د ای اين ډي ايس د اقداماتو د ملاتړ لپاره يې د ۵۰.۱ ملیارده ډالرو غوښتنه وکړه. په دې ۵۰.۱ ملیارده کې ۱٤ ملیارده د انفراسټرکچر د بهترولو، ۱٤ ملیارده د ای اين ايس ايف د رغولو، ٤.۵ ملیارده د زراعت او د کليو د پراختيا، او د نورو پروګرامونو لپاره اضافي بوديجې شاملې وې.[65]

نړيوالې ټولنې تقريباً د ۲۱ ملیارده ډالرو ژمنه وکړه، د غوښتل شوي رقم د نيمايي نه هم کم. مرستندويانو د دې کمو مرستو لامل د افغانستان په دولت کې نسبتاً کم شفافيت وښود.[66]

د خزانې له مخې، د بوديجو د ځای پر ځای کولو او پروژو د عملي کولو لپاره د افغانستان د دولت ظرفيت په نظر کې نيولو سره د نړيوالې ټولنې د ۲۱ ملیارده ډالرو ژمنې يو د پام وړ رقم و. خزانه سپارښتنه کوي چې د نورو بوديجو له غوښتلو مخکې افغانستان بايد اوس ورسره ژمنه شوې پېسې په زياته اغېزمنه او وړ طريقه لګولو باندې تمرکز وکړي.[67]

## د افغانستان د بيا رغونې د باور بوديجه

د پاريس په کنفرانس کې پر شويو ژمنو برسېره، نړيواله ټولنه هغو نړيوالو سازمانونو او باوري بوديجو ته پېسې ورکوي چې په افغانستان کې د بيا رغونې پروګرامونه روان ساتي.[68]

د بېلګې په توګه، نړيوال بانک د افغانستان د بيا رغونې د باور بوديجه رغوي. د مارچ ۲۲، ۲۰۰۸، او مارچ ۲۱ ۲۰۰۹ ترمنځ، ۱۹ نړيوالو هېوادونو د دې بوديجې له لارې د افغانستان د بيا رغونې د هڅو لپاره د ٦۲۷ مليونه ډالرو ژمنې کړې دي؛ دې ته د ورته رقم ژمنه د مارچ ۲۲، ۲۰۰۷، او مارچ ۲۱، ۲۰۰۸ ترمنځ هم شوې وه. په ۲۰۰۲ کې له جوړېدو راوروسته، نړيوالو مرستندويانو ای ار ټي ايف ته تقريباً ۳ ملیارده ډالر ورکړي دي.[69] چوکاټ ۳.۱ ای ار ټي ايف سره د مارچ ۲۲، ۲۰۰۸ او مارچ ۲۱ ۲۰۰۹ ترمنځ د بوديجو ژمنې انځوروي.

چوکاټ ۳.۱

**ای ار تي ایف ته ورکړې (مارچ ۲۲، ۲۰۰۸-مارچ ۲۱، ۲۰۰۹) (په ملینونو ډالرو کې)**

| مهم مرسته کوونکي | تولې ژمني | د مئ ۲۰۰۹ سره سم ورکړل شوې بوديجي |
|---|---|---|
| متحده ایالات | 151.50 ډالر | 1.50 ډالر |
| برتانیه | 100.24 ډالر | 0.00 ډالر |
| نیدرلینډ | 50.15 ډالر | 0.00 ډالر |
| کاناډا | 45.69 ډالر | 16.34 ډالر |
| ناروی | 43.30 ډالر | 11.32 ډالر |
| المان | 34.47 ډالر | 0.00 ډالر |
| سپین | 34.47 ډالر | 0.00 ډالر |
| سویډن | 17.11 ډالر | 0.00 ډالر |
| اروپايي کمیسیون\اروپايي اتحادیه | 16.81 ډالر | 0.00 ډالر |
| استرالیا | 14.99 ډالر | 14.99 ډالر |
| نور | 17.45 ډالر | 0.00 ډالر |
| **تول** | **526.18 ډالر** | **44.15 ډالر** |

سرچینه: نړیوال بانک، "ای ار تي ایف: په مالي حالت د منتظم راپور،" ۲۰۰۹\۲۱\۵.

”امنيت د افغانستان په ټولو برخو کې د اغېزمنې دولتدارۍ، د خصوصي سکټور د پرمختيا، اقتصادي ودې، د غربت د کموالي، او د شخصي ازادۍ د حفاظت لپاره ډېر مهم دی.“

— د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي

# امنيت

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای اين ډي ايس)




## د بوديجو لنډيز

د امريکا د دفاع محکمې راپور ورکړی چې د ۱۵.۰٦ مليارده ډالرو څخه چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې لپاره موجود وو د مالي کال ۲۰۰۵ او جون ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، ۱۱.۰۸ مليارده يې د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ای اين ايس ايف)، چې د افغان ملي اردو (ای اين ای) او افغان ملي پوليسو (ای اين پي) څخه جوړ دي، د روزنو او فعاليتونو، انفراسټرکچر، او سامان او وسايطو لپاره اېښودل شوي وو.[70] دا رقم د هغه ۳۳.۰۳ مليارده ډالرو چې متحده ايالاتو د افغانستان د بيا رغونې د بوديجو لپاره ورکړي وو سرسري ۳۳.٦% جوړوي.[71] په همدې موده کې، د ای اين ايس ايف لپاره ۱۱.۰۱ مليارده منل شوي او ۱۰.۸۸ مليارده لګول شوي دي. تر ٤۹% زيات په سامان الات او وسايطو لګول شوي، او نورې موجودې بوديجې په برخو ويشل شوې وې، ۳۰.۲% انفراسټرکچر ته تللي او ۲۰.٦% روزنو او فعاليتونو ته.[72] د ای اين ايس ايف د روزنو او فعاليتونو، انفراسټرکچر، او سامان او وسايطو لپاره د ای ايس ايف د بوديجو د حالت لپاره انځور ۳.۱۸ وګورئ.

### د دفاع محکمې د بوديجې قراردادونه

دفاع محکمې راپور ورکړی چې د هغه ٤.۲۸ بليونه ډالرو نه چې چې په افغانستان کې د امريکا د فعالو بوديجه يي قراردادونو لاندې منل شوي وو، ۱.۹۱ بليونه يې د جنوري ۱ نه تر جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې موده کې لګول شوي دي.[73] په دې بوديجه يي قراردادونو کې شامل وو بيا رغونه، د بهرنيو پوځ اخيستنې، فعاليت او انتظام، افغان ملي اردو، او افغان ملي پوليس. د قرارداد د مسووليتونو او لګښتونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره انځور ۳.۱۹ وګورئ.

انځور ۳.۱۹

د سي ايس ټي سي-ای د قرارداد مسووليتونه او لګښتونه، جنوري -1جون 30، 2009 (په مليونونو کې)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. په ناخرڅ شويو مسووليتونو کې نهايي شامل وي ناراپور شوي لګښتونه.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

انځور ۳.۱۸

د مالي کلونو 2005-2009، د ای اين ايس ايف د روزنې او فعاليتونو، انفراسټرکچر، او سامان او وسايطو لپاره د ای ايس ايف بوديجې (په مليونونو ډالرو کې)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي او د جون 30، 2009 سره سمي دي. د ای ايس ايف د بوديجې اصطلاحات (موجود، منل شوي، لګول شوي) هماغسې راپور شوي څرنګه چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي دي پرته له هغې چې مشخص شوي وي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 2009\10\7.

### پروګرامونه

تقريباً ۱.۹٤ مليارده ډالر د قراردادي جايزو په بنه د افغان ملي اردو لپاره منل شوي دي. د دې رقم څخه، ۱۹۹.۸۰ مليونه د ملي اردو د فعاليتونو او انتظامي پروګرامونو لپاره منل شوي دي. ملي اردو د ټولو راپور شويو قراردادي مسوولیتونو څخه تقريباً ٤٥.٤% ترلاسه کړي دي. د دې په پرتله، ۱.٤۲ مليارده ډالر د قراردادي جايزو په بنه د ملي پوليسو لپاره منل شوي دي، چې دا د ټولو راپور شويو قراردادي مسوولیتونو ۳۳% جوړوي.[75] په پروګرام د قراردادي مسوولیتونو د اضافي معلوماتو لپاره انځور ۳.۲۰ وګورئ.

### د قرارداد ډولونه

تقريباً ۱.٤۷ د قراردادي جايزو څخه د بيا رغوني د قراردادونو لپاره منل شوي وې، چې دا د راپور شويو ټولو قراردادونو ۳٤.٤% جوړوي. دويمه تر ټولو غټه درجه، چې "اضافي پروګرام مسوولیتونه" پکې ندي شامل، د بهرني پوځ اخيستني وې، کومې چې ٤۱۹.٤٦ مليونه ډالرو، يا د ټولو راپور شويو قراردادونو ۹.۸% ته رسېدلي. د قرارداد په ډول د قراردادوي مسوولیتونو په اړه د زياتو معلوماتو لپاره انځور ۳.۲۱ وګورئ.[76]

> "حکومت بې له پوځ نه نشي کېداى، پوځ بې پيسو نشي جوړېداى، پيسې بې له پرمختګ نه نشي پيدا کېداى، او پرمختګ د عدالت او ښې اداري نه پرته نشي کېداى."
>
> — ابن قتيبه، د نهمې پيړۍ پېژندل شوى اسلامي عالم، د يو هېواد د پرمختګ او پرمختيا لپاره د امنيت پر ارزښت خبرې[74]

## د ای اين ايس ايف روزل

امنيت په افغانستان کې د ثبات او پرمختيا لپاره لازمي دى. د ای اين ايس ايف روزل چې دا امنيت برابر کړي د متحده ايالاتو لپاره لومړنى ترجيح ده.[77] دا برخه د ای اين ايس ايف د روزلو او مجهزولو لپاره د متحده ايالاتو په هڅو تمرکز کوي.

انځور ۳.۲۱

سي ايس ټي سي-ای قراردادي مسوولیتونه د قرارداد ډول، جنوري -1 جون 30، 2009 (په مليونونو کې)

تول: $4,280.84




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. "د قرارداد ډول" د هغو معلوماتو استازيتوب کوي چې کټګوري "بوديجه ډول\د قرارداد ډول" ګڼل کېږي. په "او اينډ ايم" کې شامل دي "ايف ايم ايس، او اينډ ايم" او "او اينډ ايم او بي ای اين جي ډبليو او ټي." اضافي قراردادي مسوولیتونه د هغو مسوولیتونو استازيتوب کوي د کومو لپاره چې د قرارداد ډول نه و ورکړل شوی.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7

انځور ۳.۲۰

سي ايس ټي سي-ای قراردادي مسوولیتونه په پروګرام، جنوري -1جون 30، 2009 (په مليونونو کې)

تول: $4,280.04




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. اضافي پروګرام مسوولیتونه د کيسه1- او کيسه2- د مسوولیتونو استازيتوب کوي د کومو لپاره چې د پروګرام ډول نه و ورکړل شوی.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7

## شالید

په دسمبر ۲۰۰۱ کې، د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو په خبرو (د بون کنفرانس) کې ګډونوالو ژمنه وکړه چې د افغانستان د جمهوري دولت سره به د نوي افغان امنيتي ځواک په جوړولو او روزلو کې مرسته کوي.[78] د ۲۰۰٦ په اولنيو کې، د افغانستان جمهوري دولت او نړيوالې ټولنې د افغانستان په اړه د لندن د کنفرانس پر مهال وليدل او د شمالي اتلانتيک د تړون د سازمان (ناټو) په مشرۍ د نړيوال سوله ساتي ځواک (ايساف) او د متحده ايالاتو په مشرۍ د اوږدمهالې ازادۍ د عملياتو (او اي پي) هڅو ته په دوام ورکولو يې موافقه وکړه څو په بشپړه ډول فعال د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ځواک جوړ کړي.[79] د افغانستان تړون هم د امنيتي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ګڼ شمېر معيارونه او وختونه مشخص کړل. دا معيارونه د ای اين ډي ايس د امنيتي اهدافو لپاره بنسټ جوړ شو.[80] د ای اين ډي ايس د اصلي اهدافو لنډيز په چوکاټ ۳.۲ کې وړاندې کړای شوی دی. د افغانستان جمهوري دولت د دې اهدافو په لور پرمختګ کړی دی او اهداف يې اوسمهال کړي دي تر څو د بدلېدونکو شرايطو انځورګري وکړي. د بېلګې په توګه، د مئ ۲۰۰۹ سره سم، د دسمبر ۲۰۱۱ پورې د ملي اردو هدف شمېره ۱۲۳،۰۰۰ زره سرتېري وه، په پرتله د هغو ۸۰،۰۰۰ زرو سرتېرو چې د ۲۰۱۰ تر پای وو، کوم چې په اصلي ای اين ډي ايس کې مشخص شوي وو.[81] برسېره پر دې، په مارچ ۲۷، ۲۰۰۹، د متحده ايالاتو ولسمشر د افغانستان لپاره يوه نوې ستراتيژي اعلان کړه. د ولسمشر له مخې، په دې ستراتيژۍ کې په افغانستان کې د متحده ايالاتو نظامي پوځونه زياتول او د متحده ايالاتو د مشن تاکيد د افغان ملي امنيتي ځواکونو د شمېر په زياتولو او د هغوی روزنې ته په لېږدولو شامل دي.[82]

**نړيوال سوله ساتی ځواک (ايساف):** يو نړيوال ايتلاف چې د بون کنفرانس په پايله کې منځته راغی او د دې لپاره جوړ شو چې په افغانستان کې د امنيت او بيا رغونې لپاره د افغانستان د جمهوري دولت سره مرسته وکړي[83]

**د اوږدمهالې ازادۍ عمليات (او اي پي):**
د متحده ايالاتو په مشرۍ عمليات چې د تروريزم ضد جګړې ترسره کوي او افغان ملي امنيتي ځواکونه روزي[84]

انځور ۳.۲

**د ای اين ډي ايس ستن ۱: امنيت**

| د پروژې نېټه | هدف | تشريح |
|---|---|---|
| د ۲۰۱۰ پای | افغان ملي اردو | افغان ملي اردو به د ۸۰،۰۰۰ سرتېرو (جمعه ٦،٦۰۰ په روزنه کې) مهم هدف ته ورسېږي او ترې به واوړي، او دا به باوري کړي چې په مېدان کې د موجودو کنډکونو تر ۷۵% زيات د خپلواکو عملياتو د ترسره کولو وړتيا لري (د ځينې خارجي وړتيا ورکونکيو او هوايي ملاتړ د اضافي سره). |
| | ناچاودېدلي مواد ليرې کول | د هغې ځمکې سيمه چې په ماينونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وي به د ناچاودېدلو توکيو نه ۷۰% کمولی شي. |
| 3/20/2011 | د ناقانونه وسله والو | ډلو بې وسلې کول په ولايتونو کې به ټولې ناقانونه وسله والې ډلې بې وسلې کولی شي. |
| 2012 | د ناچاوديدلو توکيو ليرې کول | د هغو ټولو پېژندل شويو سيمو چې په ماينونو لړل شوې دي نوې فيصده به د جګړې د پاتې شونو چاودېدونکو توکيو نه پاکولی شي. |
| 2013 | د ناچاوديدلو توکيو ليرې کول | ټول ايښودل شوي پرسونل ضد ماينونه به پاکولی شي. |
| | د مخدره موادو ضد | تر ۲۰۱۳ پورې، هغه سيمې چې کوکنار پکې کرل شي به د ۲۰۰۷ د کچې په پرتله نيمې کمې کړای شي. |
| د ۲۰۱۳ پای | افغان ملي پوليس | د کورنيو چارو وزارت به د ۸۲،۱۸۰ مسلکي پوليسو يو هدف ځواک ترلاسه کړي (په ګډون د افغان سرحدي پوليسو) |

يادونې: دا چوکاټ په ای اين ډي ايس کې د معلوماتو لنډيز وړاندې کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د سيګار د اکتوبر ۲۰۰۸ د درې مياشتني راپور ضميمه جې وګورئ. دا اصلي اهداف په خپل تاريخي سياق و سباق کې ورکړل شوي او ښايي له خپرېدو وروسته پکې بدلون راغلی وي.

سرچينه: د افغانستان جمهوري دولت، "د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي،" ٦/۲۰۰۸، مخونه ٦،٤.

## روزنيز سازمانونه

له ۲۰۰۲ راهيسي، متحده ايالاتو او نړيوالي ټولني، د افغانستان د جمهوري دولت په ملګرتيا، ملي اردو او ملي پوليس روزلي دي. متحده ايالات، د ګډ امنيت د انتقال د قوماندي-افغانستان (سي ايس ټي سي-ای) له لارې، د ناټو د ايساف او په افغانستان کې د اروپايي ټولني د پوليسو د مشن (اي يو پي او ايل) په مرسته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روزلو د نړيوالو هڅو مشري کوي.[85]

## د ګډ امنيت د انتقال قومانده-افغانستان

سي ايس ټي سي-ای د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندي لاندي د ايتلافي سازمان (سينټکام) يو ګډ سرويس دی. دا د متحده ايالاتو، انګلستان، کاناډا، پولينډ، البانيا، المان، فرانسي، او رومانيي څخه پرسونل لري. د دې مشن، کوم چي په ۲۰۰۲ کې د افغانستان د نظامي همکارۍ د دفتر په توګه پيل شو، اوس پر مخ تللی او دا مهال د دې لپاره دی چي د کورنيو چارو د وزارت (ايم او ايي) او د دفاع د وزارت (ايم او ډي) سره د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پرمختګ او سمبالښت لپاره مرسته وکړي څو دا د بغاوت سره مقابله وکړای شي، د قانون حاکميت تطبيق او وساتي، او په افغانستان کې د امنيت او ثبات هدف لاس ته راوړي.[86] سي ايس ټي سي-ای د دوو مخکنيو سازمانونو څخه پر مخ تللی دی. د دې پرمختګ د مودې کتلو لپاره انځور ۳.۲۲ وګورئ.

د سي ايس ټي سي-ای د فعاليتي قوماندي د لاندي د ققنس د ګډې قوماندې هدف ځواک (سي جی ټي ايف ققنس) او پنځه د افغانستان د سيمييز امنيتي ارتباط قوماندې (ای ار سي ايي سيز) کار کوي.[87]

## د ققنس د ګډې قوماندې هدف ځواک

سي جی ټي ايف ققنس يو ګډ هدف ځواک دی کوم چي د افغان ملي امنيتي ځواکونو د دې لپاره روزنه او سرپرستي کوي چي افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس چمتو کړي څو داسي خپلواک امنيتي عمليات ترسره کړای شي چي په افغانستان کې ثبات منځته راوړي.[88]

انځور ۳.۲۲

د سي ايس ټي سي-ای پرمختګ




سرچيني: د بهرنيو چارو محکمه او د دفاع محکمه، عمومي پلټونکي، او د افغانستان د پوليسو د روزني او تيارۍ بين الاداري جاج، 11\2006، مخ 9. د دفاع محکمه، ډيفنس لينک، "د افغانستان يونټ نوی مشن، نوم خپلوي،" 7\13\2005، www.defenselink.mil/news/newsarticle.aspx?id=16650، وکتل شو په 7\7\2009. سي ايس ټي سي-ای، "د ګډ امنيتي انتقال قومانده-افغانستان، حقيقت پاڼه، 5\21\2008، مخ 1.

### د افغانستان د سيميز امنيتي ارتباط قوماندي

ای ار ایس ايي سيز هغه سيمييزې قوماندې دي چې په ټول افغانستان کې د ملي اردو د هر قول اردو سره تړلې دي. شمالي، جنوب، ختيځ، او مرکزي ای ار ایس ايي سيز د سي ایس ټي سي-ای د مشن ملاتړ کوي.[89]

### نړيوال سوله ساتی ځواک

د بون د کنفرانس نه سمدستي وروسته، ایساف د دې لپاره جوړ شو چې د افغانستان د انتقالي اداري سره د کابل په ساتلو کې مرسته او د ملي بيا رغونې په هڅو کې ملاتړ وکړي.[90] ناټو د ایساف مشري په ۲۰۰۳ کې وروسته له هغې ترلاسه کړه چې دا مشري شپږ مياشتې په ملي کچه په (۱) برتانيه، (۲) ترکيه، (۳) او المان او نيدرلينډ وګرځېدله.[91] په ۲۰۰۳ کې، کله چې ناټو قومانده په لاس کې واخيسته، ایساف شاوخوا ۵،۰۰۰ سرتېري لرل.[92] د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو محکمې راپور ورکړی چې تر جون ۲۰۰۹ پورې، ایساف د ۴۲ هېوادونو څخه د شاوخوا ۶۱،۰۰۰ سرتېرو پورې ځځېدلی و.[93] ایساف د افغان ملي امنيتي ځواکونو سره د روزنې، سرپرستی، او تجهيزاتو په ورکولو سره مرسته کوي. برسېره پر دې، دا ناقانونه وسلې او ناچاودېدلي توکي راغونډوي، ليستونه يې جوړوي، او له منځه يې وړي.[94]

## په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې د پوليسو مشن

په ۲۰۰۷ کې، اي يو پي او ايل د المان د پوليسو د پروژې د دفتر په ځای راغی، کوم چې د پوليسو د روزنې مشري له ۲۰۰۲ راهيسې کوله.[95] د اروپايي اتحاديې نولس غړي هېوادونه سره د کاناډا، کروشيا، نيوزيلينډ، او ناروی د اروپايي اتحاديې د پوليسو د مشن ملاتړ کوي څو د پوليسو يو داسې اغېزمن ملکي ځواک جوړ کړي چې د افغانانو د واک لاندې د پراخ جنايي عدالتي سيستم سره په سم ډول په ارتباط کې وي.[96]



**د ملي اردو عسکر** د يو کنډک د مشر په صنف کې د هرات په کمپ ظفر کې د کابل د نظامي روزنيز مرکز د اين سي او لارښود يو درس ته غوږ دي (د ایساف انځور)

# افغان ملي اردو

چوکاټ ۳.۳

**د دفاع وزارت او ملي اردو اجزاء**

| جزء | تشريح | تصديق شوی پرسونل |
|---|---|---|
| د دفاع وزارت او عمومي کارکوونکي | دفاع وزارت د افغان ملي اردو د جوړولو، مېدان ته د رسولو، او د هغې د فعاليتي تياري د باوري کولو مسووليت په غاړه لري. دفاع وزارت د افغانستان د دفاع لپاره ستراتيژيک پلانونه پر مخ وړي. عمومي کارکوونکي د دفاع وزارت کرنلارې او د ملي اردو لپاره لارښودنې تطبيقوي. | 3,246 |
| دوامداره اداري | د ملاتړ اسانتياوې، تنصيبات او سمبالښت، لاسته راوړنې، لوژيستيک، مخابراتي ملاتړ، د نظامي استخباراتو سيمييز دفترونه، د قېديانو فعاليتونه، طبي قومانده، د ملي اردو د روزلو او عسکرو ثبتولو قوماندې، نظامي پوليس، او د مرکزي دفتر ملاتړ او امنيتي قطعه.[الف] | 1,519 |
| د منځنۍ قوماندې کارکوونکي | | 15,484 |
| جنګي ځواکونه | د ملي اردو عمليات ترسره کوي. | 66,406 |
| هوايي ځواکونه | د هوايي بريد د ملاتړ، طبي لېږدونې، او رهبري ترانسپورت له لارې د ملي اردو او ملي پوليسو ملاتړ کوي. | 3,412 |
| نور[ب] | — | 13,408 |
| **ټول** | | **103,475** |

يادونې: د تاييد شوي پرسونل شمېرې هماغسې ښودل شوي چې د دفاع د محکمې د جون ۲۰۰۹ په راپور، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ" کې ورکړل شوي.

[الف] د ملي اردو يو يونټ چې تخصيصي تاکتيکي او رسمي مشنونه ترسره کوي.
[ب] په "نور" کې د قېديانو د عملياتو، د سي اين پياده کنډک، او ټي ټي ايچ ايس ډاټا شاملېږي.

سرچينه: جي او ای، "د افغانستان امنيت، ښايي د دوامداره وړتيا لرونکيو افغان ملي امنيتي ځواکونو د جوړولو د يو تفصيلي پلان د بشپړتيا د باوري کولو لپاره د کانګرس د نور اقدام اړتيا وي،" راپور جي او ای-۰۸-٦٦۱، ۲۰۰۸\٦، مخونه ۱۹، ٥٤. د دفاع محکمه، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ،" ۲۰۰۹\٦، مخ ۲٦.

## تاريخ

د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په ۱ نېټه، د افغانستان ولسمشر حامد کرزي يو فرمان صادر کړ چې له مخې يې افغان ملي اردو جوړه شوه. دا ټول داوطلب پوځ د افغانستان د ټولو اتنيکي ډلو د سرتېرو نه جوړ شوی دی.[97]

## مشن

د افغان ملي اردو مشن د هېواد ثبات ساتل، د دې د خپلواکۍ دفاع کول، او سيمييز امنيت ته کار کول، او سيمييز او اتنيکي توازن ساتل او د يو باوقار، مسوول، او مسلکي ځواک په توګه خپل شهرت ته دوام ورکول دي.[98]

## تشکيل

افغان ملي اردو د دفاع د وزارت لاندې راځي. د دفاع وزارت او افغان ملي اردو د ګڼ شمېر اجزاؤ نه جوړ شوي دي، په ګډون د دفاع وزارت او عمومي کارکوونکيو، دوامداره ادارو، د منځنۍ قوماندې کارکوونيکو، جنګيو ځواکونو، او د افغان ملي اردو د هوايي ځواک (ای اين ای ای سي) د پرسونل.[99] د دې اجزاؤ د تشريحاتو لپاره چوکاټ ۳.۳ وګورئ.

د افغان ملي اردو جنګي ځواکونه په پنځو قول اردو ويشل شوي دي. په يوه عامه قول اردو کې يو يا زيات کنډکونه وي او د تشکيل جوړښت يې هغه وي چې په انځور ۳.۲۳ کې ښودل شوی دی.[100] د افغان ملي اردو قول اردو د افغانستان په بيلابيلو سيمو کې موقعيت لري. د قول اردو د ځايونو د نقشې لپاره انځور ۳.۲٤ وګورئ.

انځور ۳.۲۳

د ملي اردو د يو عام قول اردو تشکيل




يادونه: يو قول اردو يو يا زيات کنډکونه لري. يو کنډک پنځه غونډه لري. د قول اردو اصلي تشکيل ښايي تر هغې جلا وي چې دلته ورکړل شوی دی.

سرچينه: جي ای او، "د افغانستان امنيت، د دوامدار او بااستعداده ملي امنيتي ځواکونو د جوړولو د تفصيلي پلان د بشپړولو د باوري کولو لپاره د کانګريس نور اقدام ته ښايي اړتيا وي، راپور جي ای او661-08-، 2008\6، مخ 7.

انځور ۳.۲٤

**پایگاه های منطقه ای اردوی ملی افغانستان و نیروهای هوایی اردوی ملی افغانستان**




منابع: دفتر حسابدهی دولت، "امنیت افغانستان، اقدامات بیشتری از طرف کنگره امریکا برای تکمیل پلان انکشاف و حفظ ظرفیت نیروهای امنیت ملی افغانستان ضروری است" راپور 6/2008 ،GAO-08-661، صفحه 22، قوماندانی انتقال امنیت متحد-افغانستان، "کتاب نکات اردوی ملی افغانستان"، 3/15/2009، جورنال جنگ طولانی، "دستور جنگ نیروهای امنیت ملی افغانستان"، www.longwarjournal.org/multimedia/ANSF%20OOBpage3-ANSF.pdf در تاریخ 6/21/2009

## د پوځونو درجې

د دفاع محکمې راپور ورکړ چې د مئ ۲۰۰۹ سره سم، افغان ملي اردو ۸٦،٥٥۸ سرتېري لرل، چې په ۷٤ غونډونو کې وو. د دفاع محکمې پیشنهاد کړی چې افغان ملي اردو به تر دسمبر ۲۰۱۱ پورې ۱۳٤،۰۰۰ ته ورسیږي.[101]

# افغان ملي اردو

## د ملي اردو روني ته عمومي کتنه

نوي عسکر د کابل په نظامي روزنيز مرکز کې د جنګيالي بنسټيز روزنيز کورس وايي، چېرته چې هغوی ته د افغان روزونکي د نړيوال ملاتړ سره زده کړه کوي. دا کورس هغه بنسټيز معيارونه ټاکي چې د افغان ملي اردو په ټولو روزنو کې د يو شان والي لپاره ورکول کېږي. عسکر همداراز د مشخصي ځانګي د جګړې پرمختللې روزنه هم ترلاسه کوي. يو ځل چې يو يونټ مېدان ته د لېږلو لپاره تيار شي، نو د هغې عسکر د جګړې له عملياتو وړاندې د ٦٠ ورځو انفرادي او اجتماعي روزني ترلاسه کوي.[104]

د دفاع د محکمې له مخې، هر افغان يونټ سره د متحده اياﻻتو د روزني مربوط يو ټيم او يا د ناټو-ايساف د فعاليتي سرپرستی او ارتباط ټيم ملګرى وي. دا ټيمونه د افغان ملي اردو د يونټ مشرتابه ته مشوري او د متحده اياﻻتو او ناټو-ايساف سرچينو ته نېغ په نېغه لاسرسی ورکوي. دا ټيمونه همداراز د افغان ملي اردو د يونټونو د پياوړتيا په معلومولو، د پرمختيايي مواقعو، او هغو کمزوريو چې بنايي پکې وي جاج اخلي.[105]

**د جنګيالي بنسټيز روزنيز کورس:**
هغه لومړنی روزنه چې نوي عسکر يې ملي اردو ته د ننوتو په وخت ترلاسه کوي[102]

**د جګړې پرمختللي روزنه:** هغه د مشخصي ځانګړې روزنه چې عسکر يې د خپلو وړتياو د پياوړې کولو لپاره ترلاسه کوي[103]

انځور ۳.۲۵

د افغان ملي اردو د روزنيزې قوماندې دننه د يونټ روزنه، جنوري 1 – جون 27، 2009

ټول يونټونه: 8، ټول فارغان: 3،305




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

## د روزنې حالت

سي ايس ټي سي-ای راپور ورکړی چې د ملي اردو ۲۵،۷۱۲ سرتېرو د جنوري ۱ او جون ۲۷، ۲۰۰۹ ترمنځ وخت کې د افغان ملي اردو د روزنې د قوماندې (ای اين ای ټي سي) دننه پروګرامونو څخه فارغ شوي دي. د دې ټولو نه، نږدې ۸۲% د عسکرو د کورسونو نه فارغ شوي دي. د کورس د درجې سره سم د انفرادي کورسونو د فارغانو لپاره وګورئ انځور ۳.۲۶.[106]

سي ايس ټي سي-ای راپور ورکړی چې د جنوري ۱ او جون ۲۷، ۲۰۰۹، ترمنځ وخت کې د ۳،۳۰۵ سرتېرو اته يونټونه د ای ان ای ټي سي د يونټ د روزنې د پروګرامونو څخه فارغ شوي دي. د دې يونټونو تر نيمو زيات، چې د ۱،۹۸۹ فارغانو استازيتوب يې کاوه، د مزار شريف ۲۰۹م قول اردو ته ورکړای شول.[107]

انځور ۳.۲۶

د ملي اردو دننه انفرادي روزنه
د روزنې قومانده، جنوري 1 – جون 27، 2009

ټول فارغان: 25،712




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

## د ملي اردو چمتووالی

د دفاع وزارت يو د تيارۍ د راپور سيستم کاروي کوم چې د معيارونو پر بنسټ يو د شننې او د پرېکړې د ملاتړ آله وړاندې کوي څو د ملي اردو تيارۍ بهتر کړي. د هر يونټ تکاملي جاج اخيستل کېږي چې د عملياتو د ترسره کولو توان يې وګوري او د ځلورو وړتيايي معيارونو (سي ايم) څخه د يو درجه ورته وټاکي کومې چې د يونټ وړتياوې انځوروي. هغه يونټونه چې د اساسي عملياتو د لړۍ مرستې سره يا له مرستې بغېر د ترسره کولو وړتيا ولري د سي ايم ۱ درجه ورکول کېږي په داسې حال کې چې نويو جوړو شويو يونټونو ته چې اساسي عملياتو د مشنونو د ترسره کولو وړتيا نلري ښايي د سي ايم ٤ درجه ورکړای شي. د يونټونو تکاملي جاج په مياشتنيز ډول اخيستل کېږي څو د ملي اردو ځواکونه په اغېزمن ډول سمبال کړای شي.[108]

- سي ايم ۱ هغه يونټ، اداره، د کارکوونکيو فعاليت، يا تنصيبات تشريح کوي کوم چې د عملياتو د اساسي مشنونو د ترسره کولو وړتيا ولري. په ځينو شرايطو کې دا يونټونه ښايي د نړيوالو شريکوالو څخه مشخصې مرستې ته اړتيا ولري.
- سي ايم ۲ هغه يونټ، اداره، د کارکوونکيو فعاليت، يا تنصيبات تشريح کوي کوم چې د نړيوالې ټولنې د ملاتړ يا پرې د اتکاء سره د عملياتو د اساسي مشنونو د ترسره کولو وړتيا ولري.
- سي ايم ۳ هغه يونټ، اداره، د کارکوونکيو فعاليت، يا تنصيبات تشريح کوي کوم چې د عملياتو د اساسي مشنونو د يوې برخې د ترسره کولو وړتيا لري خو بيا هم د نړيوالې ټولنې د ملاتړ څخه مرستې ته اړتيا يا پرې اتکاء لري.
- سي ايم ٤ هغه يونټ، اداره، د کارکوونکيو فعاليت، يا تنصيبات تشريح کوي کوم چې جوړ شوي وي خو تراوسه د عملياتو د اساسي مشنونو د ترسره کولو وړتيا نلري. دا ښايي د عملياتو د مشنونو د ځينو برخو د مسووليت اخيستلو وړتيا ولري، خو يواځې هله چې د نړيوالې ټولنې د ملاتړ څخه ورسره د پام وړ مرسته شوې وي.[109]

**وړتيايي معيار (سي ايم):** دا د ملي اردو او ملي پوليسو د خپلو ځواکونو د فعاليت کولو، روزنې او مجهزولو د پرمختګ د معلومولو لپاره د دفاع د محکمې معيار دی. د سي ايم د زيات وړتيا لرونکي، سي ايم ۱ نه تر کمې وړتيا لرونکي، سي ايم ٤ پورې رسېږي.[110]

انځور ۳.۲۷

د ملي اردو د انفراسټرکچر لپاره د ای ایس ایف ایف بوديجې، مالي کال 2005-2009
(په مليونونو ډالرو کې)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي او د 2009\30\6 سره سمې دي. د ای ایس ایف ایف د بوديجې اصطلاحات (برابر شوې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوي څنګه چې د دفاع محکمې لخوا ورکړل شوي بې له هغې چې مشخصې شوې دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 2009\10\7

انځور ۳.۲۶

د ملي اردو د وړتيايي معيار د درجې (د ای اين ای يونټونه)




يادونه: ښايي د ډزو ملاتړ، نږدې هوايي ملاتړ، او ايم اي ډي اي وي ای سي پکې شامل نه وي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو ته د دفاع محکمې، او ايس ډي ځواب، 2009\8\7. شمېرې د 2009\23\5 سره سم.

سي ایس ټي سي-ای راپور ورکړی چې د مئ ۲۳، ۲۰۰۹ سره سم، د ملي اردو د ۱۲۳ يونټونو څخه ۴۷ د سي ايم ۱ په توګه پېژندل شوي وو.[111] د ملي اردو د سي ايم درجو د لنډيز لپاره انځور ۳.۲۹ وګورئ.

## د انفراسټرکچر حالت

د دفاع محکمې راپور ورکړی چې د جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، ۲.۰۱ مليارده ډالر ای ایس ایف ایف ته د افغان ملي اردو د انفراسټرکچر لپاره برابر شوي وو. د دې پيسو نه، ۲.۰۰ مليارده ډالر منل شوي او ۱.۹۴ مليارد لګول شوي دي.[112] انځور ۳.۲۷ د افغان ملي اردو د انفراسټرکچر لپاره د ای ایس ایف ایف د بوديجو حالت انځوروي.

## د تجهيزاتو او ترانسپورټ حالت

د دفاع محکمې راپور ورکړی چې تر جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، ٤.۱۱ مليارده ډالر ای ایس ایف ایف ته د افغان ملي اردو د مجهزولو او ترانسپورټ لپاره برابر شوي وو. د دې پيسو نه، ٤.۰۸ مليارده منل شوي او ٤.۰٤ مليارده ډالر لګول شوي دي.[113] انځور ۳.۲۸ د ملي اردو د تجهيزاتو او ترانسپورټ لپاره د ای ایس ایف ایف بوديجې انځوروي.

انځور ۳.۲۸

د ملي اردو د تجهيزاتو او ترانسپورټ لپاره د ای ایس ایف ایف د بوديجو حالت، مالي کال 2005-2009 (په مليونونو ډالرو کې)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي او د جون30، 2009 سره سمې دي. د ای ایس ایف ایف د بوديجې اصطلاحات (برابر شوې، منل شوې، لګول شوې) هغسې راپور شوي څنګه چې د دفاع محکمې لخوا ورکړل شوي بې له هغې چې مشخصې شوې دي.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 2009\10\7.

## ننګوني

### بريدونه

دفاع محکمې د اکتوبر ۲۰۰٦ څخه تر جون ۲۰، ۲۰۰۹ پورې د افغان ملي اردو پر ضد د بريدونو د شمېر راپور ورکړی. په دې ډاټا کې هغه بريدونه دي چې د افغانستان د ۳٤ ولايتونو څخه په ۳۰ کې ترسره شوي دي. د اکتوبر ۲۰۰٦ راهيسې، په افغان ملي اردو باندې په ټول افغانستان کې ۱۲۷۷ بريدونه شوي دي. په ۲۰۰۹ کې، په افغان ملي اردو باندې په ۲۱ ولايتونو کې ۱۹۲ بريدونه وشول. زيات بريدونه په درېو ګاونډيو ولايتونو – هلمند، کندهار، او زابل - کې وشو– چې دا ټول د پاکستان سره پوله لري. په دې ولايتونو کې شوي بريدونه په ۲۰۰۹ کې د ټولو شويو بريدونو ۵۰.۰% او د اکتوبر ۲۰۰٦ راهيسې د ټولو بريدونو ۵۱.۷% جوړوي.[114] د کال او ولايت په حساب په ملي اردو د بريدونو لپاره انځور ۳.۳۰ وګورئ.

### تلفات

د ۲۰۰۷ راهيسې، د ملي اردو ۱۹۸۰ عسکر په عملياتو کې ټپيان شوي او ٦۵۱ په عملياتو کې وژل شوي دي. د جنورې ۱ نه تر جون ۲۲، ۲۰۰۹ پورې، د ملي اردو ۳۵۵ عسکر په عملياتو کې ټپيان شوي او ۱۱٤ په عملياتو کې وژل شوي دي.[115] د ملي اردو د تلفاتو د کاليزې پرتلې لپاره انځور ۳.۳۱ وګورئ.

انځور ۳.۳۱

د افغان ملي اردو تلفات، 2007-2009




يادونه: [الف]شمېرې د 2009\2\6 سره سم دي. .

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-اې ځواب، 2009\1\7.

انځور ۳.۳۰

په ملي اردو باندې بريدونه د ولايت په حساب، اکتوبر 2006- جون 20، 2009




يادونې: ضروري نده چې دا ډاټا د يو ولايت د امنيت پيمانه وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، په يو ولايت کې د بريدونو نشتوالی دا مانا لرلی شي چې په ملي اردو کوم بريد ندی شوی او يا دا چې په دغه ولايت کې د دې موجوديت او مشنونه د نورو ولايتونو څخه مختلف وو. په يو بريد کې ډېر تلفات رامنځته کېدلی شي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-اې ځواب، 2009\1\7.

# افغان ملي پوليس

انځور ۳.۳۲

د کورنيو چارو د وزارت او افغان ملي پوليسو تشکيل




يادونه: دا ګرافک د دې لپاره اسان کړای شوی دی چې په لاندې چوکاټ کې اجزاء انځور کړي او د کورنيو چارو د وزارت بشپړ تشکيلي جوړښت نه ښيي.

[الف] د افغان ملي پوليسو سيمييز قوماندانان د متحده پوليسو مرستيال مشر ته راپور ورکوي.

سرجيتې: د دفاع محکمه، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ،" جون 2009، مخ 26. جي او ای، "د افغانستان امنيت، متحده ايالات پروګرام لري چې د نظامي پرسونل او افغان همکارۍ د نشتوالي له امله له ننګونو سره مخ کورنيو چارو وزارت او ملي پوليسو کې نور ريفورمونه وکړي،" راپور جي او ای280-09-، 3\2009، مخ 36.

## تاريخ

په ۲۰۰۲ کې، المان د افغان ملي اردو پوليسو د بيا جوړولو د هڅو مشري کوله.۱۱٦ په ۲۰۰۵ کې متحده ايالاتو د افغان ملي پوليسو د ريفورمونو لپاره مشري په غاړه واخيسته. په ۲۰۰۷ کې، اروپايي ټولنې خپل د اي يو پي او ايل مشن پيل کړ.[117]

## هدف

نړيوال هدف د پوليسو د يو داسې اغېزمن، ښه منظم، کثير النسلي، او مسلکي ځواک جوړول دي چې د قانون پياوړې حاکميت رامنځته کړي.[118]

## تشکيل

افغان ملي پوليس د کورنيو چارو د وزارت لاندې راځي. د کورنيو چارو وزارت او افغان ملي پوليس د ګڼ شمېر اجزاؤ نه جوړ دي، په ګډون د کورنيو چارو د وزارت، افغان متحده پوليس (ای يو پي)، افغان سرحدي پوليس (ای بي پي)، د افغانستان ملي ملکي قانون پوليس (ای اين سي او پي)، او د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې پوليس (سي اين پي ای). د دې اجزاؤ د تشريح لپاره وګورئ چوکاټ ۳.٤ او انځور ۳.۳۲.

د افغان ملي پوليسو روزنه د کابل په مرکزي روزنيز مرکز او د اوو سيمييزو روزنيزو مرکزونو څخه په يو کې ترسره کېږي.[119] د دې روزنيزو مرکزونو د ځايونو لپاره انځور ۳.۳۳ وګورئ.

چوکاټ ۳.٤

**د کورنيو چارو وزارت او افغان ملي اردو اجزاء**

| جزو | تشريح | تاييد شوی پرسونل |
|---|---|---|
| د کورنيو چارو وزارت | د قانون د حاکميت د نافذولو مسوول | 5,059 |
| افغان متحده پوليس | د پوليسو په ولسواليو او ولايتي او سيمييزو قوماندو کې ټاکل شوي وي؛ په کارونو کې يې شامل دي ګزمې، د جرمونو مخنيوی، ترافيکي چارې، او د پوليسو عام کارونه | 47,384 |
| افغان سرحدي پوليس | په نړيوالو سرحدونو او د داخلې په خايونو کې د قانون د تطبيقولو پراخه ورتيا وراندې کوي | 17,621 |
| د افغانستان ملي ملکي قانون پوليس | د پوليسو يو ماهر ځواک چې د ملکي ناکرارۍ او بې قانونۍ د مقابلې لپاره روزل شوی او مجهز شوی | 5,365 |
| د مخدره موادو پر ضد پوليس | هغه قانون نافذوونکې اداره چې په افغانستان کې د مخدره موادو د توليد او کاروبار کمولو مسووليت لري | 2,519 |
| نور | — | 8,852 |
| **ټول** | | **86,800** |

يادونه: د واک ورکړل شوي پرسونل شمېرې هغسي ورکړل شوي چې د دفاع د محکمې د جون ۲۰۰۹ په راپور، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ،" کې ورکړل شوي دي.

سرچينه: جي ای او، "د افغانستان امنيت، متحده ايالات پلان لري چې د کورنيو چارو په وزارت ا و ملي پوليسو کې نور ريفورم وکړي کوم چې د نظامي پرسونل او افغاني همکارۍ د کمبود سره مخ دي،" راپور جي ای او ۰۹-۲۸۰، ۲۰۰۹\۳، مخ ۳۵. د دفاع محکمه، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ،" ۲۰۰۹\٦، مخ ٦.

انخور ۳.۳۳

مراکز آموزشی پولیس ملی افغانستان




منبع: قوماندانی انتقال امنیت متحد-افغانستان، "کتاب نکات پولیس ملی افغانستان"، 3/15/2009، صفحه 1

## د پوليسو درجې

د دفاع محکمي راپور ورکړی چې د مئ ۲۰۰۹ سره سم، د افغان ملي پوليسو پرسونل ۸۱،۵۰۹ تنه و. د دفاع محکمي راپور ورکړ چې په اپريل ۲۰۰۹ کې، د ګډ انسجام او نظارت اداري (جی سي ایم بي) د ملي پوليسو په هدف کې د اخري ځواک تر ۸۶،۸۰۰ پورې د زياتولو منظوري ورکړه.[120]

**د ګډ انسجام او نظارت اداره (جی سي ایم بي):** دا اداره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او نړيوالي ټولنې لخوا جوړه شوې چې په افغانستان کې د مرستې د نړيوالو هڅو مسووليت په غاړه لري[121]

# افغان ملي پوليس

## د افغان ملي پوليسو روزني ته عمومي کتنه

په ۲۰۰۲ کې، المان د افغان ملي پوليسو د جوړولو لپاره مشري په غاړه واخيسته.[122] المان د پوليس افسرانو د روزلو لپاره يو درې کلن روزنيز پروګرام او بې کمېشنه افسرانو (اين سي او) لپاره يو کلن روزنيز پروګرام پيل کړ. يو کال وروسته، د نړيوالو مخدره موادو او قانون د نفاذ د چارو (ايي اين ايل) د رياستي بيورو محکمې يو د پوليسو د روزنې مشن پيل کړ ځو د المان د پروګرام د سست رفتار ستونځې ځواب کړي.[123] ايي اين ايل په کابل کې د پوليسو مرکزي روزنيز مرکز او همداراز ګڼ شمېر سيمييز روزنيز مرکزونه (ار ټي سي) جوړ کړل.[124]

په ۲۰۰۵ کې، د افغانستان د نظامي همکارۍ دفتر (چې په ۲۰۰٦ کې يې نوم سي ايس ټي سي-ای ته بدل کړای شو) د افغان ملي پوليسو د جوړولو لپاره مشري په غاړه واخيسته.[125] ايي اين ايل د ملکي پوليسو د روزنې او سرپرستی د مشن د سمبالوني هدف په غاړه لري، د کوم لارښوونه چې د سي ايس ټي سي-ای لخوا کېږي. د پوليسو هغه ملکي مشاوران چې د ايي اين لخوا ټاکل شوي د ايي اين ايل د فعاليت په اوو سيمييزو روزنيزو مرکزونو او يو مرکزي روزنيز مرکز چې په کابل کې دی، او هغو کاري ميدانونو کې چې د افغانستان په ټولو ۳٤ ولايتونو کې دي، افغان ملي پوليسو ته روزنه ورکوي او سرپرستي يې کوي.[126] تر دې وخته، متحده اياالاتو په افغان ملي پوليسو او د کورنيو چارو په وزارت کې تر ٦.۲ مليارده ډالرو زيات لګولي دي.[127]



**د افغان ملي پوليسو غړي** د وردګ ولايت په مېدان ښار کې د فراغت لپاره تيارۍ کوي (د متحده اياالاتو د پوځ انځور، جوشوا لاپير)

## د روزني حالت

سي ايس تي سي-ای راپور ورکړی چي د افغان ملي پوليسو ۲۰،۸۹۸ پرسونل په ۲۰۰۸ کي روزل شوي او ٦،٥٤٨ نور د جنوري او مئ ۲۰۰۹ ترمنځ روزل شوي.[128] د افغان ملي پوليسو جاج هم په هغو ورتيايي معيارونو اخيستل کيږي چي د ملي اردو پرې اخيستل کيږي. د مئ ۲۳، ۲۰۰۹ پوري، د ملي پوليسو د ٥٥۹ هغو يونټونو څخه چي درجي ورکړل شوي وې ۲٤ د سي ايم ۱ درجي ټاکل شوي وي.[129] د ملي پوليسو د سي ايم درجو د لنډيز لپاره انځور ۳.۳٤ وګورئ.

## د انفراسټرکچر حالت

د دفاع محکمي راپور ورکړی چي تر جون ۳۰، ۲۰۰۹ پوري، ۱.۳٤ مليارده ډالر ای ايس ايف ته د ملي پوليسو د انفراسټرکچر لپاره ورکړل شوي وو. د دي پيسو تقريباً ټولي بوديجي منل شوي او لګول شوي دي.[130]

## د تجهيزاتو او ترانسپورټ حالت

د دفاع محکمي راپور ورکړی چي تر جون ۳۰، ۲۰۰۹ پوري، ای ايس ايف ته د ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورټ لپاره ۱.۳۲ مليارده ډالر برابر کړي وو. د دي پيسو نږدي ټولي منل شوي او لګول شوي دي.[131] انځور ۳.۳٥ د ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورټ لپاره د ای ايس ايف د بوديجو حالت انځوروي.

انځور ۳.۳٥

د افغان ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورټ لپاره د ای ايس ايف د بوديجو حالت، مالي کال 2005-2009 (په مليونونو ډالرو کي)




يادوني: شمېري په ګردي کولو اغېزمني شوي دي او د جون 30، 2009 سره سمي دي. د ای ايس ايف د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هماغسي راپور شوي چي د دفاع د محکمي لخوا ورکړل شوي استثنا له هغي چي مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمي ځواب، 2009\10\7.

انځور ۳.۳٤

د ملي پوليسو د وړتيايي معيار درجي (د ای اين پي يونټونه)




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمي او ايس ډي ځواب، 2009\8\7. شمېري د 2009\23\5 سره سمي.

## ننګوني

### بريدونه

د دفاع محکمې د اکتوبر ۲۰۰٦ څخه تر ۲۰ جون ۲۰۰۹ پورې د افغان ملي پوليسو پر ضد د بريدونو راپور ورکړی دی. په دې ډاټا د افغانستان د ۳٤ ولايتونو څخه ۳۲ راټول کړای شوي دي.

د اکتوبر ۲۰۰٦ څخه راپېځوا، په ملي پوليسو په ټول افغانستان کې ۲۸۳۹ بريدونه شوي دي. په ۲۰۰۹ کې، په ملي پوليسو په ۲۵ ولايتونو کې ٥۳۲ بريدونه شوي دي. تر ټولو زيات بريدونه په دوو ګاونډيو ولايتونو – کندهار او هلمند – کې شوي چې دواړه د پاکستان سره پوله لري. په دې دوو ولايتونو کې ترسره شوي بريدونه په ۲۰۰۹ کې د ټولو بريدونو ٤۲.۱% او له اکتوبر ۲۰۰٦ څخه د ټولو بريدونو ۳۱.۱% جوړېږي.[132] د کال او ولايت په حساب په ملي پوليسو د بريدونو لپاره انځور ۳.۳۷ وګورئ.

### تلفات

له ۲۰۰۷ راهيسې، د ملي پوليسو ۲۸۸٥ تنه پرسونل په عملياتو کې ټپيان شوي او ۱۷٦٤ په عملياتو کې وژل شوي دي. د جنورۍ ۱ څخه تر جون ۲۲، ۲۰۰۹ پورې، د ملي پوليسو ٦٤۰ پرسونل په کې ټپيان شوي او ۳٥۲ په عملياتو کې وژل شوي دي.[133] د ملي اردو د کاليزو تلفاتو سره د تلفاتو لپاره انځور ۳.۳٦ وګورئ.

انځور ۳.۳٦

د ملي پوليسو تلفات، 2007-2009




يادونه: [الف]شمېرې د 2009\22\6 سره سم دي. .

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

انځور ۳.۳۷

په ملي پوليسو د ولايت په حساب بريدونه، اکتوبر 2006-جون 20، 2009




يادونې: ضروري نده چې دا ډاټا د يو ولايت د امنيت پيمانه وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، په يو ولايت کې د بريدونو نشتوالی دا مانا لرلی شي چې په ملي اردو کوم بريد ندی شوی او يا دا چې په دغه ولايت کې د دې موجوديت او مشنونه د نورو ولايتونو څخه مختلف وو. په يو بريد کې ډېر تلفات رامنځته کېدلی شي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

## د امنیت په اړه اندېښنې

سي ایس تي سي-ای راپور ورکړی چې د امنیتي ستونځو له امله یې د افغان ملي پولیسو د رغولو ۲۸ پروژې فسخ کړې دي. په دوی کې یو قرارداد د اسانتیا لپاره ختم کړای شو او ۲۷ پروژې د موجودو قراردادونو نه وویستل شوې. د دې قراردادونو لپاره ورکړل شوې پیسې ۳۳.۵۳ ملیونه ډالر کېدل.[134] لکه چې څرنګه په انځور ۳.۳۸ کې ښودل شوي دي امنیتي ستونځو د افغانستان په ټولو سیمو کې پروژې اغېزمنې کړې دي پرته له شمالي سیمو.

انځور ۳.۳۸

پروژه های لغو شده پولیس ملی افغانستان به سبب عوارض امنیتی (په ملیونونو ډالرو کې)

د ټولو قراردادونو لپاره ورکړل شوي: 33.53 ملیونه ډالر




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ایس تي سي-ای ځواب، 2009\1\7.

”د دولتدارۍ هدف، د قانون حاکمیت، او د بشري حقونو ستن د دموکراتیکو پروسو او ادارو د پیاوړي کولو او د بشري حقونو د غځولو، د قانون د حاکمیت، د عوامي خدمتونو د رسولو او د دولت د احتساب لپاره دي.“

- د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي: دولتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه




# دولتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه

## عمومي کتنه

دا برخه د دولتداری، د قانون د حاکمیت، او بشري حقونو په برخو کې د افغانستان وروستی پرمختیاوې بحث کوي. د دې راپور د ورکولو پر مهال، د افغانستان خلکو او نړیوالي ټولني د اګست ۲۰، ۲۰۰۹، د ولسشمریزو او ولایتي ټاکنو لپاره چمتووالی نیوه. متحده ایالات دا ټولټاکنې د افغانستان د دولتداری د بهترولو په لور یو مهم قدم ګڼي. لکه څرنګه چې د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما د ۲۰۰۹ د جون په ۱٦مه په یوه مطبوعاتي پاڼه کې ویلي چې متحده ایالات "د افغانستان د خلکو د دې حق ملاتړ کوي چې خپل مشران غوره کړي."[135]

## د اګست ۲۰، ۲۰۰۹ ټولټاکنې

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون (ایي اي سي) د اګست ۲۰، ۲۰۰۹، د ټولټاکنو د افغانستان د جمهوري دولت د کورنیو چارو د وزارت او د دفاع وزارت، او د نړیوالو امنیتي ځواکونو په مرسته د ترسره کولو مسوولیت په غاړه لري.[136] د مئ ۹، ۲۰۰۹ پورې، افغانستان د دوو ښځو په ګډون ٤١ د ولسمشری کاندیدان لرل.[137] د ولسمشریزو ټاکنو د ګټلو لپاره یو کاندید باید د رایو اکثریت ترلاسه کړي، لږ تر لږه ٥٠% او یوه رایه.[138] که یو کاندید هم ٥٠% او یوه رایه یا زیات اعتباري رایي ترلاسه نه کړي، نو د ټاکنو دویمه دوره به ترسره کېږي.[139] هغه کاندید چې تر ټولو زیاتې رایي ترلاسه کړي ګټونکی اعلانېږي.[140] شاوخوا ۳۳۲٤ تنه، په ګډون د ۳٤۲ ښځو، د ۳٤ ولایتي شوراګانو په ټولټاکنو کې په ٤۲۰ چوکیو مقابله کوي.[141]

د ۲۰۰٤ د دموکراتیکو ټولټاکنو برخلاف، د نړیوالي ټولني رول د مشوره ورکوونکي تر حده دی. د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۸۰٦م قرارداد، چې نېټه یې مارچ ۲۰، ۲۰۰۸ ده، د لاندې نړیواله ټولنه د دې ټاکنو ملاتړ د په افغانستان کې د ملتونو د مشن (یوناما) له لارې کوي، کوم چې د دې لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د سبا لپاره د قانوني او انتخابي ظرفیت د غځولو (یو این ډي پي\اي ایل اي سي تي) پروژه ټاکلې ده چې د انتخابي پروسې لپاره نړیواله مرسته انسجام کړي.[142] متحده ایالاتو د ټولټاکنو د ملاتړ لپاره یو این ډي پي\اي ایل اي سي تي ته ۱۲۰ ملیونه ډالر ورکړي دي.[143]

د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیا اداره (یو ایس ای ایي ډي) په ا فغانستان کې د یو شمېر سیمییزو نظارت کوونکیو ډلو، او همدارنګ د امریکایي نادولتي موسسو، لکه نړیوال ریپبلک انستیتیوټ (ایي ار ایي)، ملي دموکراتیک انستیتیوټ، او د انتخابي سیستمونو د نړیوال بنیاد، له لارې د ټولټاکنو سره تړلیو جلا فعالیتونو لپاره بودیجې ورکوي.[144] د متحده ایالاتو د دفاع د محکمې له مخې، د متحده ایالاتو تمرکز د انتخابي پروسې د وقار په باوري کولو دی.[148] د افغانستان جمهوري دولت د ټاکنو د امنیت د پلان جوړولو د هڅو مشري کوي، په داسې حال کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه (یو ایس ایف او ار-ای) او نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د ملاتړ رول لوبوي.[149] د دفاع محکمې راپور ورکړی چې د ټولټاکنو په پروسه کې لاندې لاربنودنې باید د ټولو شریکوالو لپاره د لومړیتوب درجه ولري:

- د ولسشمریزو ټاکنو لپاره امنیت او ترانسپورت ته لاسرسی

د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا قرارداد لمبر ۱۸۰٦، چې د ۲۰۰۸ د مارچ په ۲۰مه نېټه منل شوی و، د "استقلال، خپلواکی، ځمکني وحدت او ملي یووالي" په لور د افغانستان د سفر لپاره د ملګرو ملتونو ژمنتیا تایید کړه.[145] قرارداد لمبر ۱۸۰٦ همدارنګ د افغانستان جمهوري دولت او افغانان "د دوماره سولي او د اساسي قانون پر بنسټ ولاړې دموکراسی د پیاوړې کولو لپاره" د هغوی د هڅو ملاتړ کوي.[146]

- د ضروري نړیوالو مبصرینو موجودګي د مناسبي لوژیستیکي مرستي سره
- د رسنیو لپاره د ټولټاکنو په اړه د راپور ورکولو ازادي
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، په ګډون د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون، لپاره امنیت او لوژیستیکي مرسته
- مناسبي امنیتي تیاری
- د ارتباطاتو د ستراتیژیک پلان تطبیق[150]

## د ټاکنو ننګوني

### امنیت

د ملګرو ملتونو له مخي، د کورنیو چارو د وزارت په اولنیو لومړیتوبونو کي د ټاکنو په ورځ په غټو ښارونو کي او په لویو لارو د امنیت برابرول او د دې خبرې باوري کول دي چي د ۲۰۰۹ ټولټاکني په ازاده، پاکه او شفافه طریقه ترسره شوې دي.[151] د کورنیو چارو وزارت د داسي په ځانګړې توګه روزل شویو قانون نافذوونکیو چارواکو د ځای پر ځای کولو مسوولیت په غاړه لري چي د ټاکنو پر مهال د مناسب امنیتي انتظام څخه خبر وي او د ټاکنو په پروسیجر پوهېږي.[152] افغان ملي اردو (ای این ای) او افغان ملي پولیس (ای این پي)، د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د ابتدایي ملاتړ سره، د انتخاباتو د امنیت مسوولیت په غاړه لري.[153]

یو ایس ای ایي ډي د داسي پلانونو اعلان کړی چي د اګست د ټولټاکنو د حفاظت په لړ کي د فساد ضد تدابیرو د تطبیق لپاره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشن ملاتړ وکړي.[154] د ټاکنو خپلواک کمیسیون یوه رسمي مجله خپره کړې چي پکي د رایو د مرکزونو د امنیت د ساتلو، د هغو واک لرونکیو کسانو د پېژندلو چي د رایو په مرکزونو کي د کار اجازه لري، او د ټاکنو په ورځ د نړیوال پوځ رول تعینوي، په لړ کي د افرادو مسوولیتونه تشریح کوي.[155]

> متحده ایالات ”غواړي چي د افغانانو سره اوږدمهاله ملګرتیا وساتي، نه د کوم خاص افغان مشر سره، ځو نوی افغان ولسمشر او نور چارواکي وتوانوي چي ټولو افغانانو ته په دولتدارۍ، امنیت، عدالت او اقتصادي مواقعو کي خدمت وکړي.“
>
> — د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما[147]

### د دوکي-ضد حفاظتونه

هغه رایه ورکوونکي چي د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ په ټولټاکنو کي یې نومونه ثبت کړي وو به د اګست په ټولټاکنو کي د خپلو کارتونو د بیا کارولو حق ولري.[156] په نومبر ۲۰۰۸ کي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نومونو د ثبتولو یو کمپاین د هغو خلکو لپاره پیل کړ چي ثبت کارتونه تري ورک شوي وو، د هېواد دننه له یو ځایه بل ته لېږدېدلي وو، او یا له ۲۰۰۵ وروسته د رایي ورکولو حق ته رسېدلي.[157] د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نومبر ۲۰۰۸ او فبروري ۲۰۰۹ ترمنځ د رایه ورکوونکیو د ثبتوني څلور پړاوونه ترسره کړل.[158] د ملګرو ملتونو د اندازې سره سم په دې موده کي ټول څلور نیم ملیونه افغانانو، چي ۳۸% یې ښځي وې، نومونه ثبت کړل (وګورئ انځور ۳.۳۹).[159] د پام وړ خبره ده چي د ملګرو ملتونو د حساب له مخي د نویو ثبت شویو رایه ورکوونکیو څخه ۵۴٦،۵۳۳ په تر ټولو زیاتو ناکراره ولایتونو کي ژوند کوي.[160]

# د ټاکنو خپلواک کميسيون

د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټولټاکنو د اداره کولو، نظارت او تګلارو جوړولو مسووليت په غاړه لري.[161] د ټاکنو خپلواک کميسيون د اوو کميشنرانو د يو پلاوي څخه جوړ دی چې د ولسمشر لخوا ټاکل شوي دي.[162] د ټاکنو د خپلواک کميسيون مشري د انتخابي پروسې يو غټ افسر کوي.[163] هر څو که د افغانستان اساسي قانون ويلي چې ټولټاکنې دې د ولسمشر د مودې له ختمېدو له ۳۰ تر ۶۰ پورې مخکې ترسره شي، چې دغه موده د مئ په ۲۲مه نېټه پای ته رسېده، خو د ټاکنو خپلواک کميسيون ټاکنې تر اګست ۲۰، ۲۰۰۹ وځنډولې تر څو زيات خلک پکې ګډون وکړای شي.[164] نړيوالې ټولنې دا ځنډونه تاييد کړه، او موافقه يې وکړه چې په ټولټاکنو کې زيات نه زيات افغانانو ته د موقعې ورکولو لپاره اضافي وخت ضروري و.[165] د ځنډونې پر ضد د احتجاجونو په ځواب کې د افغانستان ولسمشر د ۲۰۰۹ د فبرورۍ په ۲۸مه نېټه يو فرمان خپور کړ، او د ټاکنو د خپلواک کميسيون څخه يې غوښتنه وکړه چې باوري کړي چې ټولټاکنې د اساسي قانون د ټولو اړوندو مادو سره سمې ترسره شي.[166] د ټاکنو خپلواک کميسيون يو بيان خپور کړ چې پکې يې د اګست ۲۰مه نېټه د ټاکنو لپاره د غوره شوې ورځې په توګه د پرېکړې تصديق وکړ.[167]



يو افغان وګړی په ۲۰۰۵ کې د هېواد په لومړنيو پارليماني ټولټاکنو کې د خپلې رايې پاڼه په بکس کې اچوي (د متحده ايالاتو د پوځ انځور، جيسن ار. کراوزيک)

### د افغانستان د اساسي قانون اړوند شرطونه

د افغانستان د اساسي قانون ۱۵۶مه ماده د ټاکنو خپلواک کميسيون ته دا بشپړ او خانګړی واک ورکوي چې ټولټاکنې ترسره او نظارت يې وکړي.[168]

د افغانستان د اساسي قانون ۱۵۷مه ماده د ټاکنو خپلواک کميسيون د يوې داسې اداره په توګه پېژني چې د يووالي او دوام لپاره د اساسي قانون د مادو د تطبيقولو مسووليت په غاړه لري.[169]

د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون جوړښت




سرچينه: د ټولټاکنو خپلواک کميسون، "د ټولټاکنو د خپلواک کميسون جوړښت،" www.iec.org.af/content.asp?id=structure، وکتل شو په 2009\17\7.

## د ولسمشرۍ لپاره صلاحيت

د افغانستان د اساسي قانون ماده لمبر ۶۲ د ولسمشرۍ د کانديدانو د صلاحيت لپاره معيارونه ټاکي.[170] د دې لپاره چې د ولسمشر جوړېدو حق ولري، يو کانديد بايد:

- د افغانستان تابعيت لري، مسلمان وي، او د افغان موروپلار څخه زېږېدلی وي
- د کانديد جوړېدو په ورځ يې لږ تر لږه عمر ۴۰ کاله وي
- هيڅکله پرې کوم جنايت نه وي ثابت شوی
- د کوم نارسمي نظامي ځواک څخه خپلواک وي
- په دې چوکۍ يې د ولسمشرۍ د دوو مودو څخه زيات وخت نه وي تېر کړی[171]

انځور ۳.۹۳

د ثبت شویو رایه ورکوونکیو شمېر، نومبر 2008- فبروري 2009

ټول: 4,500,000




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي او اټکلونه دي.

سرچینه: د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور، "د افغانستان وضعه او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره یې پایلې،" 6\23\2009، مخ. 2.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایو د یو نه زیاتو پاڼو د اچولو د مخنیوي لپاره اقدام کړی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې ټاکل شوي اجنټان او مبصرین به د دې لپاره کارول کېږي چې باوري کړي چې ټوله انتخابي پروسه د ټولو قوانینو، قواعدو او نړیوالو معیارونو سره سمه ترسره شي.[174] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له مخې، ټول رایه ورکوونکي باید د رایې د پاڼې له اچولو وړاندې خپله پېژندنه ثابته کړي.[175] هر رایه ورکوونکی به په پټه د رایې ورکولو حق لري، او د رایې د پاڼې په ترلاسه کولو سره به د هر رایه ورکوونکي ګوته په نه تلونکي رنګ کې ککړولی شي.[176]

د رایه ورکولو د ټولو مرکزونو له بندېدو وروسته د رایې هر مرکز ته لارښودنه شوې چې د رایو پاڼې وشماري او اصلي شمېرې "په داسې بکسو مهر کړي چې مداخله پکې نشي کېدای" څو په کابل کې د رایو د شمېرلو ملي مرکز ته ولېږدول شي.[177] د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د دوکې یوه پلټنه کوي که داسې ثبوت پیدا شي چې مهر شوي بکسه کې ګوتې وهل شوې دي.[178] د دوکې له ټولو تحقیقاتو یا د غلطیو له سمولو وروسته به د ټاکنو خپلواک کمیسیون پایلې تاییدوي.[179]

## د افغانانو د عامې رایې ټولپوښتنه

ایي ار ایي په دې وروستیو کې راپور ورکړ چې ۲۱% هغه افغانانو چې پوښتنې ترې شوې وې د افغانستان د سیمې سیاسي نقشه باثباته او سوله بیزه یاده کړه.[180] د ایي ار ایي له مخې، د ټولپوښتنې هدف د افغانانو عام نظر معلومول او دغه معلومات د افغانستان د ټولټاکنو د پروسې د ملاتړ لپاره کارول وو.[181] نږدې نیمو ځواب ورکوونکیو وویل چې د افغانستان ثبات د تېر یو کال پر مهال غورځېدلی دی.[182]

د ایي ار ایي ټولپوښتنه په مئ ۳-۱۶، ۲۰۰۹ ترسره شوې وه.[183] د ایي ار ایي له مخې، روزل شویو مسلکیانو دا ټولپوښتنه د مخ په مخ مرکو په ترڅ کې ترسره کړې څو معلومات راغونډ او د ټولپوښتنې په راپور کې یې استعمال کړي.[184] د ټولو ۳۴ ولایتونو څخه پکې ځواب ورکوونکیو ګډون وکړ.[185]

# دولتداري

## شالید

د افغانستان دولت په هېواد کې د طالبانو د رژیم له ړنګول کېدو وروسته د دوهمو دموکراتیکو ټولټاکنو د راتګ په تمه کې د سخت نړیوال نظارت سره مخ دی.[186] د ولسمشر او ولایتي چارواکیو لپاره دا ټولټاکنې به د افغانستان په تاریخ کې هغه لومړنۍ ټاکنې وي چې د افغانستان د دولت لخوا ترسره شوې وي.[187]

د جنوري ۲۰۰٤ څخه راپدېخوا، افغانستان د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي، چې د یادونې وړ یې د نوي اساسي قانون منل او لومړنۍ دموکراتیکې ټولټاکنې دي — د افغانستان د اساسي قانون سره سم — چې د افغانستان په دولتي جوړښت کې یوه نوې لار جوړوي.[188] خو، د یو ایس ای ایي ډي معلومات وایي چې داسې فاکتورونه لکه د افغانستان د حکومت محدود ملي او سیمییز ظرفیت، په لوړ کچ د اداري فساد محدوده محاکمه، او د شفاف او تر احتساب لاندې حکومت لپاره محدود ملاتړ هغه څه دي چې افغانستان د وروسته پاتې هېوادونو په درجه کې راولي.[189] د نړیوال بانک د دولتدارۍ د درجو د لیست له مخې، په ۲۰۰۳ کې په درجو کې د افغانستان فیصدي د ۱.٤ څخه تر ۸.۷ رسېدله، په پرتله د هغې چې په ۲۰۰۸ کې له ۰.۵ نه تر ۱۱.۱ وه.[190] د افغانستان

**اجنټان:** ((د سیاسي ګوند او کاندیدانو اجنټان، لدې وروسته اجنټان)، د سیاسي ګوندونو ټاکل شوي غړي او یا د خپلواکو کاندیدانو استازي دي. سیاسي ګوندونه او کاندیدان باید د اجنټانو د نوملو لپاره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره ثبت شوي وي.[172]

**مبصرین:** بنایي کورني یا نړیوال مبصرین وي. د ټولټاکنو مبصرین د هغو کورنیو یا نړیوالو ادارو استازي دي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره ثبت شوي او واک ورکړل شوی وي.[173]

د دولتدارۍ د درجې نمره په ۲۰۰۳ کې، د ۲۰۰٤ د ټولټاکنو نه وړاندې، د دولتدارۍ د شپږو ښودونکیو څخه په هر یو کې ډېره ټیټه وه.[191]. په ۲۰۰۸ کې، د افغانستان د دولتدارۍ د درجې نمره د دولتدارۍ په هرو شپږو ښودونکیو او همداراز د فیصدي په درجو کې یو څه مخ پورته لاړه.[192] د افغانستان د دولتدارۍ د وړتیا ښودلو د درجې لپاره چوکاټ ۳.٥ وګورئ.

د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۸ ترمنځ موده کې د افغانستان د دولتدارۍ درجې د تېرو پنځو کلونو په وخت کې د ازادۍ او شفافې دموکراسۍ د لاس ته راوړلو د پرمختګ یوه داخلي کتنه وکړي. ای این ډي ایس د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۳ ترمنځ موده کې پنځو کلونو لپاره د افغانستان د جمهوري دولت تګلورۍ تشریح کوي.[193]

## د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي

ای این ډي ایس دولتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه د خپلو درېو ستنو څخه د یوې په توګه پېژني.[194] دا ستن د دې لپاره جوړه شوې چې:

- د دموکراتیکو پروسو او ادارو ملاتړ وکړي
- بشري حقونه او د قانون پرمختګ بهتر کړي
- د عامو خدمتونو رسول او د حکومت احتساب زیات کړي[195]

ای این ډي ایس د نړیوال بانک د ۲۰۰۰م کال د یوې اندازې حواله ورکوي چې د افغانستان د دولتدارۍ ظرفیت د ټولو هېوادونو لاندې ۱% ته ټیټ شوی دی.[196] د ای این ډي ایس له مخې، د اساسي قانون پر بنسټ د یوې اسلامي دموکراسۍ جوړول د حکومت د درېو خپلواکو او اغېزمنو څانګو سره، چې ټولې د احتساب او شفافیت څخه ډکې وي، د افغانستان د جمهوري دولت یو مهم لید دی.[197] د دغه لید یوې برخې د افغانستان د جمهوري دولت رسمي او نارسمي دولتداري پیاوړې کړې، د یو وړ او باثباته دموکراتیک سیاسي چاپېریال د جوړولو د سمدستي هدف سره.[198]

ای این ډي ایس د هغو مشخصو معیارونو چې د افغانستان په تړون کې څرګند شوي وو په خپلولو سره دې لید او د افغانستان د جمهوري دولت ژمنتیا ته وده ورکوي.[199] د دغې تړون له مخې، "دموکراتیکه دولتداري او د بشري حقونو لپاره کار په افغانستان کې د دوامداره سیاسي پرمختګ اساسي ټکی جوړوي."[200] د دې هدف د لاس ته

چوکاټ ۳.٥

| د نړیوال بانک د دولتدارۍ ښودونکي، فیصدي درجې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د دولتدارۍ ښودونکي | د ۲۰۰۳ فیصدي درجې (0—100) | ۲۰۰۳ دولتداري درجې (-2.5—+2.5) | د ۲۰۰۸ فیصدي درجې (0—100) | ۲۰۰۸ دولتداري د درجو نمره (-2.5—+2.5) |
| غږ او احتساب | 8.7 | -1.45 | 11.1 | -1.26 |
| سیاسي ثبات | 3.4 | -2 | 1 | -2.64 |
| د دولت اغېزمنتیا | 7.6 | -1.26 | 8.5 | -1.31 |
| تنظیمونکی معیار | 2.4 | -1.79 | 3.9 | -1.58 |
| Rule of Law | 1.4 | -1.76 | 0.5 | -2.01 |
| د اداري فساد کنټرول | 1.5 | -1.62 | 1.4 | -1.64 |

یادونه: لوړ ارزښت د دولتدارۍ د بهترې درجې ښودونکی دی.

سرچینه: نړیوال بانک، "د دولتدارۍ ښودونکي: افغانستان،" http://info.worldbank.org/governance/wgi/index.asp، وکتل شو په ۲۰۰۹\۱٦\۷.

# د افغانستان د سیاسي منظرې تاریخي شالید

د افغانستان رسمي نوم د افغانستان اسلامي دولت دی.[201] د افغانستان د اسلامي او جمهوري دولت د نوم لنډیز االجد (په انګلیسي کې جي ایي ار او ای) دی.[202] د راولپنډۍ د معاهدې له عملي کېدو وروسته افغانستان د ۱۹۱۹ کال د اګست په ۱۹مه نېټه د برتانوي امپراتورۍ څخه خپلواکي تر لاسه کړه.[203] افغانان د اګست ۱۹مه نېټه د خپلواکۍ د ورځې په توګه لمانځي.[204]

د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې برتانیې او روس دواړو د افغانستان د منځنۍ اسیا په زړه کې د ستراتیژیک موقعیت او د همالیې د غرونو چې هند ته رسېږي له امله د دې د کنټرول لپاره لاسونه وهل.[205] په دې موده کې برتانیې ته د پام وړ ځاني تلفاتو او مالي زیانونو څخه وروسته معلومه شوه چې د سختو او چټکو جنګیالیو په توګه د افغانانو شهرت په حقه دی.[206] د شلمې پېړۍ تر پای پورې د شوروي اتحادیې جمهوریتونو (شوروي اتحاد)، چې د روسي امپراتورۍ ځایناستی و، د ماتې په خوړلو سره د خپلو پوځونو له ایستلو وړاندې د همدغې تجربې سره مخ شو.[207]

د ۱۹۱۹ نه تر ۲۰۰۱ پورې د افغانستان دولتي جوړښت په مختلفو بڼو کې موجود و، په ګډون د ایيني پاچاهۍ، نامنتخب رژیم، قبایلي جنګسالاران، او یو بنیادپرست اسلامي واک.[208] په ۱۹۳۳ کې محمد ظاهر شاه د افغانستان د اخري پاچا په توګه وټاکل شو.[209] د ظاهر شاه واک تر ۴۰ کالو دوام وکړ.[210] په دې موده کې افغانستان د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال بې طرفه پاتې شو او څو لسیزې یې په داخلي توګه د سولې په شرایطو کې ژوند وکړ.[211] په ۱۹٦٤ کې ظاهر شاه د افغانستان په اساسي قانون کې د پاچاهۍ غوښتنې بدلې کړې.[212]

په ۱۹۷۳ کې محمد داود د ظاهر شاه خلاف یوه کودتا وکړه.[213] داود، چې د ظاهر شاه د تره ځوی او اوښی و، خپل ځان ولسمشر او لومړی وزیر اعلان کړ.[214] د داود په مشرتابه کې اقتصاد وغورځېد.[215] تر ۱۹۷۸ پورې یوې کمونستي ډلې داود له واکه لیرې کړی و.[216]

ګڼ شمېر قبایلي ډلو د افغانستان د کنټرولولو لپاره خپلې مقابلې ته دوام ورکړ تر څو چې شوروي اتحاد په ۱۹۷۹ کې د ۸۰،۰۰۰ پوځونو په واسطه اشغال کړ.[217] شوروي اتحاد ببرک کارمل د ولسمشر په توګه وټاکه.[218] مجاهد جنګیالیو، چې په ټول هېواد کې د بیلابیلو ډلو څخه جوړ شوي وو، د کارمل د ادارې او شوروي اشغال پر ضد د یوې لسیزې اوږده چریکي جګړه پیل کړه.[219] د دې جګړې پایله په زرګونو ځاني تلفات، د افغانستان د اقتصاد له منځه تلل، او د پنځه یا شپږ ملیونه خلکو مهاجر کېدل شول.[220] مجاهدینو سره پاکستان او متحده ایالاتو په ګډه مرسته کوله چې همدا یې په شوروي اتحاد پر وړاندې د بریالیتوب سبب شو.[221] په ۱۹۸۹ کې شوروي اتحاد له افغانستانه وتلو ته راضي شو.[222]

د مجاهدینو نظامي بری د لږ وخت و، ځکه چې د بیلابیلو ډلو ترمنځ خپلمنځي جګړه پیل شوه.[223] له ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹٦ پورې ګڼ شمېر سیاسي ایتلافونو په افغانستان کې واک ته د رسېدو لپاره لاس پښې ووهل.[224] په ۱۹۹٤ کې پښتنو طالبانو، یوه اسلامي بنیادپرسته ډله، چې د مخکنیو سیاسي ګوندونو څخه د خلکو د ناخوښۍ څخه یې کار واخیست، په افغانستان کې د یو پیاوړي سیاسي ځواک په توګه رامنځته شوه.[225]

تر ۱۹۹٦ پورې د طالبانو نظامي، اقتصادي او ټولنیز کنټرول تر زیات افغانستان پورې غځېدلی و.[226] طالبانو چې په سختو اسلامي پرینسپونو یې تکیه درلوده، یو داسې له بندېزونو ډک رژیم جوړ کړ چې ډېر افغانان یې له ځانه لیرې کړل.[227] د بېلګې په توګه، طالبانو د انجونو د ښوونځیو په بندولو، ښځې د کار نه په منع کولو، او سړو باندې په زیرو پرېښودلو د اسلامي بنیاد پرستۍ سخت جوړښتونه نافذ کړل.“[228]

فغانستان سیاسي تکامل




سرچینه: ایل او سي، "هېواد پېژندنه: افغانستان،" 8\2008، مخ 3، http://lcweb2.loc.gov/frd/cs/profiles/Afghanistan.pdf، وکتل شو په 7\17\2009

## پس له طالبانو دولتداري

په ۲۰۰۱ کې د متحده ایالاتو په مشرۍ ایتلاف، د بون کنفرانس د واک د لاندې، طالبان وروسته له هغې له واکه لیرې کړل چې د هغو تروریستانو د سپارلو په لړ کې نړیوال فشار ته په ځواب ویلو کې ناکام شول کومو چې د افغانستان خاوره د پټ ځای په توګه کاروله.[229] د بون موافقې د برخې په توګه، نړیوالې ټولنې واک د کال ۲۰۰۱ د دسمبر په ۲۲مه انتقالي ادارې ته انتقال کړ.[230] د بون موافقې پرېکړه وکړه چې د شپږو میاشتو دننه به یوه بیړنۍ لویه جرګه جوړېږي چې د ازادو او پاکو ټولټاکنو د ترسره کېدو پورې به د افغانستان مشري کوي.[231] دا لویه جرګه د ۲۰۰۲ د جون په ۱۰مه او ۲۰ نېټه جوړه شوه او انتقالي ادارې ته یې ۱۸ میاشتې وخت د دې لپاره ورکړ چې د افغانستان د نوي اساسي قانون لپاره دویمه ملي لویه جرګه جوړه کړي او ۲٤ میاشتې یې ورکړې چې ملي ټولټاکنې ترسره کړي.[232]

د ۲۰۰٤ کال د جنورۍ په ٤مه نېټه د اساسي قانون لویې جرګې د افغانستان نوی اساسي قانون ومانه، کوم چې د شخصي جاییداد او د بازار اقتصاد لپاره تحفظ او د یو دموکراتیک رژیم لپاره بنسټ برابر کړ.[233] افغانستان په ۲۰۰٤ کې "د ولسمشر، د ملي شورا، او د ولایتي شوراګانو لپاره ازادې او پاکې ټولټاکنې ترسره کړې." [234] تقریباً د ټولو حقدارو رایه ورکوونکیو څخه ۷۷%، په ګډون د ښځو، په ټولټاکنو کې برخه واخیسته.[235] د ۲۰۰٤ د اکتوبر په ۹مه نېټه، حامد کرزی د افغانستان د ولسمشر په توګه انتخاب شو.[236]



د ننګرهار د پي ار ټي غړي او د چپرهار د پولیسو د سرپرستۍ ټیم د تیریلي کلي په ښوونځي کې د کلي د مشرانو سره وکتل (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، کپتان ډستین هارټ).

1900

1950

1933: محمد ظاهر شاه د افغانستان د اخري پاچا په توګه وټاکل شو

اګست 19، 1919: د برتانیې د حکومت څخه د افغانستان د استقلال رسمي نېټه

1933: د ځلوېښت کلنې سولې پیل

راوړلو لپاره د افغانستان جمهوري دولت عامه خدمت ته کانديدان پېژني. د استعداد او هنر پر بنسټ.[245] په فلسفه کې دا بدلون د "د حکومت په ټولو کچو د يوې نورې اغېزمنې، تر احتساب لاندې او شفافې ادارې" پيل په نښه کوي.[246] بل هدف چې په ټرون کې پرې بحث شوی و د "د فساد پر ضد د مبارزې د پرمختګونو اندازې، د عدالت ترسره کول او د قانون د حاکميت تطبيقول، او د ټولو افغانانو بشري حقونو ته درناوی ورکول دي."[247]

لکه څنګه چې په انځور ۳.۴۰ کې ښودل شوي، د افغانستان جمهوري دولت د حکومت د درېو څانګو نه جوړ شوی دی: اجرائيه، مقننه او عدليه.[248] د هرې څانګې دننه د کافي ظرفيت د جوړولو په لور پرمختګ مختلف دی. د افغانستان جمهوري دولت د ډېرو ننګونو سره مخ دی – لکه د اداري فساد لوړه کچه، يو ناموثر او کم تشريح شوی عدالتي سيستم، او امنيتي کمزورۍ چې د افغانستان د جمهوري دولت اساسي پرمختګ ته زيان رسولی شي.[249]

د اجرائيوي څانګې لپاره د راتلونکيو ټولټاکنو بې له کومې پېښې ترسره کول د تېرو درېو مياشتو راهيسې اساسي تمرکز دی. د اګست ۲۰۰۹ ټولټاکنې د افغانستان د سياسي خپلواکۍ په پرمختيا کې يو مهم ګام دی. د دفاع د محکمې له مخې، د افغانستان د دولتدارۍ د ظرفيت پرمختيا کرار کرار پر مخ روانه ده.[250] دا ټولټاکنې، چې د دولتدارۍ يو مهم هدف دی، د دولتدارۍ هغو معيارونو ته د رسېدو لپاره مهمې دي چې په افغانستان ټرون کې ټاکل شوي او د ای اين ډي ايس لخوا خپلې کړای شوې دي.[251] د افغانستان جمهوري دولت وايي چې د ازادو او پاکو ټولټاکنو ترسره کېدل به پارليماني او د قانون سازۍ پروسې بهترې کړي.[252]

د مقننه څانګې دننه، ملي شورا سږ کال يو څه پرمختګ وکړ.[253] د بېلګې په توګه، ملي شورا د ګروي يو قانون او د پانګه اچونې يو قانون، او د اقتصادي پرمختيا د تشويقولو لپاره دوه ډېر ضروري قانونونه ومنل.[254] ملي شورا همداراز د اوبو د استعمال د قانون، د کانونو د صنعت، او د تېلو او ګازو د توليد په اړه د قانونونو په جوړولو پرمختګ کړی دی.[255] په ځينو مهمو برخو کې د يو څه پرمختګ باوجود، د ملي شورا عمومي کار د ډېرې غېر حاضرۍ او د معمول سره سم د قانون منلو د توان نه لرلو له امله ډېر ښه نه و.[256] د يادونې وړ ده چې ولسي جرګه د ۲۰۰۸ پر مهال د کار په تر نيمو زياتو ورځو کې د قانون سازۍ لپاره د اړينو غړيو د موجودګۍ په ساتلو کې ناکامه شوه، چې لدې امله يې د هرې ورځې اغېزمنتيا محدوده شوې.[257] په کومو ورځو چې د غړيو شمېر پوره شوی هم دی نو تر اخره پوره ندی پاتې شوی.[258]

د دفاع محکمې راپور ورکړی چې متحده ايالات او نړيواله ټولنه به د ای اين ډي ايس د قانون-د-حاکميت د اهدافو سره سم په افغانستان کې د عدالتي سيستم د ظرفيت لوړولو ته ادامه ورکړي.[259] د افغانستان جمهوري دولت، د متحده ايالاتو د انصاف د محکمې د لوړپوړو قانوني مشاورانو په مرسته، په کابل کې د مخدره موادو د مرکزي محکمې (سي اين ټي) او د جنايي عدالت هدف ځواک (سي جې ټي ايف) د لاندې د مخدره موادو د محکمو شمېر زيات کړی دی.[260] د شپږو مياشتو نه په زياته موده کې، د دفاع محکمې راپور ورکړ چې د سي جې ټي ايف او سي اين ټي د ګډو هڅو پايله لاندې راووتله:[261]

- د ۱۸۸ جلا جلا قضيو څېړنه چې ۲۰۱ شکمن کسان پکې ککړ وو
- د ولسوالۍ په محکمه کې د ۱۱۳ شکمنو کسانو سزاوار کېدل؛ د درخواست په محکمه کې د ۱۸۹ شکمنو کسانو سزاوار کېدل
- د قېد لپاره د ۵۰۳ تنو سپارل

"د دولتدارۍ بهترول د دولت د ملي تصور د لاس ته راوړلو او د پياوړې او فعالې ټولنې د جوړولو لپاره مهم دي."

—— د ا فغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي:

دولتداري، د قانون حاکميت او بشري حقونه

**د ۲۰۰۴م کال په اکتوبر کې انتخاب شوی حامد کرزی د افغانستان اوسنی ولسمشر دی.[237] د ولسمشر په توګه، هغه د اجرائيوي څانګې مشر دی، د نظامي ځواکونو د مشر قوماندان په توګه کار کوي، او د رياست رييس دی.[238] د افغانستان د ولسمشرۍ موده پنځه کاله ده.[239] د ولسمشر موده د تېرو ټولټاکنو د پنځم کال په ۲۲مه نېټه ختمېږي.[240]**

**ولسي جرګه د ۲۴۹ استازيو او د مشرانو جرګه د ۱۰۲ غړيو څخه جوړه ده.[241] د ولسي جرګې د چوکيو د حساب بنسټ په جغرافيوي لحاظ د ابادۍ په له پلوه دی، او د دې غړي د افغانستان د خلکو لخوا انتخابېږي.[242] ولايتي شوراګانې، د ولسواليو شوراګانې، او ولسمشر د مشرانو د جرګې ۱۰۲ غړي ټاکي.[243] ملي شورا د تر ټولو لوړې قانون جوړوونکې ادارې په توګه کار کوي.[244]**

د ای اين ډي ايس له مخې، د عامې ادارې په پياوړي کولو کې د ولايتي او ولسوالۍ د کچې د دولتدارۍ د ظرفيت جوړول شامل دي.[262] د يو ايس ای ايي ډي د سيمييزې دولتدارۍ او ټولنې د پرمختيا (ايل جي سي ډي) پروګرام، د ای اين ډي ايس سره څنګ په څنګ، د ولايتونو واليانو او مهمو وزارتونو ته لارښودان ورکوي او د ولايتونو په کچه د دولتدارۍ د پياوړې کولو لپاره واړه، د ټولنې په مشرۍ پرمختيايي هلې ځلې تنظيموي.[263] د يو ايس ای ايي ډي د افغانستان د ښاروالۍ د پياوړې کولو د پروګرام (ای ايم ايس پي) اهداف د ښارواليو لپاره د

انځور ۳.٤۰

د افغانستان د حکومت څانګې




سرچينې: د افغانستان اساسي قانون، باب 3 (ولسمشر)، باب 4 (دولت)، باب 5 (ملي شورا)، باب 7 (عدليه)، 1\4\2004؛ د اکانومسټ استخباراتي يونټ لميټډ، د افغانستان هېواد پېژندنه 2008، مخ 7.

"د افغانستان تړون د اهدافو څخه يو د ۲۰۰۹ تر پای پورې د ملکي تابعيت او د رايې د ثبت لپاره د يوې واحدې پېژندپاڼې جوړول دي."

- افغانستان تړون: تولټاکنې

ولسمشر او دوه برخې لرونکې ولسي جرګه، چې د ۲۰۰٤ په اساسي قانون کې تشريح شوي دي، انتخابي او ټاکل کېدونکې چوکۍ دي.[268] ولسي جرګه د دوو غړيو نه جوړه ده: ملي شورا او د مشرانو شورا.[269]

دولتدارۍ موجودې پروسې بهترولې.[264]

نور پروګرامونه د لګښت د راټرسره کولو پر بنسټ د بريښنا، اوبو، او پاکوالي په خدمتونو تمرکز کوي، او د ښاروالۍ د دولتدارۍ يو ستر، نوی پروګرام د منظورۍ په اخري پړاوونو کې دی.

## بشري حقونه

بل هدف چې په افغانستان تړون کې بحث شوی او وروسته د ای اين ډي ايس لخوا خپل کړای شوی "د فساد پر ضد د مبارزې پرمختګونو اندازې، د عدالت ترسره کول او د قانون د حاکميت تطبيقول، او د ټولو افغانانو بشري حقونو ته درناوی ورکولو" تطبيقول دي.[265] د ای اين ډي ايس سره سم، د بشري حقونو د خلاف ورزيو شمېره کمول د افغانستان د جمهوري دولت يو مهم لومړيتوب دی.[266] د دفاع د محکمې له مخې، د بشري حقونو د تحفظ بهترونې ډېرې کمې دي.[267]

د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور ورکړی چې افغانستان اوس هم د بشري حقونو د پام وړ ننګونو سره مخ دی، چې لامل يې د څو لسيزو ضعيف حکومت، پرله پسې اداري فساد، ډېر زيات غربت، او د ښځو او انجونو پر وړاندې امتيازي قوانين او چلند دي.[270]

د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي (ای این ډي ایس)




## د جنسي برابرۍ مسئلې

د ای این ډي ایس له مخې، د ښځو پر وړاندې د تاریخي امتیازي چلند د لیر کولو په واسطه جنسي برابرۍ ته وده ورکول یو له ډېرو مهمو برخو څخه دي.[271] د جنسي برابرۍ مهمه ستراتیژي د لاندې خبرو لپاره یو یونلور جوړوي:

- په ټولنه کې د ښځو سره چلند بدلول
- د هغوی ټولنیز او اقتصادي حالت بدلول
- پرمختیایي مواقعو ته د هغوی لاسرسی زیاتول

لکه چې په ای این ډي ایس کې یې تعریف شوی دی، "جنسي برابري" هغه ده چې کله ښځو او سړو دواړو ته خپل انفرادي حقونه ورکړل شوي وي او په برابرۍ سره په پرمختیایي چارو کې برخه او ګټه ترې اخیستلی شي، او هر یو ازاد وي چې بشپړ او د اطمینان وړ ژوند وکړي.[272] په جنسي برابرۍ کې پرمختګ ترلاسه کول اوس هم یوه ننګونه ده. ای این ډي ایس د جنسي برابرۍ د لاس ته راوړلو لپاره درې مهم لومړیتوبونه پېژني:

- د جنس سره مشخصو هغو معیارونو ته رسېدل چې په افغانستان ټرون کې پېژندل شوي دي (وګورئ چوکاټ ۳.٦)
- هغو ټولو جنسي ژمنتیاو ته رسېدل چې د ای این ډي ایس په هر سکټور کې تشریح شوي دي
- د جنسي برابرۍ لپاره د وزارتونو او دولتي ادارو په منځ کې بنسټیز اداري ظرفیتونه پیدا کول[273]

په مارچ ۲۰۰۹ کې د افغانستان ولسمشر د شیعه ګانو د شخصي حالت ماده لاسلیک کړه چې قانون جوړ شو.[274] متحده ایالات د دې شیعه شخصي حالت د قانون په اړه ملحوظات لري کوم چې مړونو ته د خپلو ښځو سره په زور د جنسي عمل قانوني اجازت ورکولو سره د افغانستان د اساسي قانون خلاف ورزي کوي.[275] د دفاع محکمې راپور ورکړی چې د پرله پسې نړیوالو او کورنیو احتجاجونو په ځواب کې به د شیعه د شخصي حالت قانون وځنډول شي او د افغانستان د ولسمشر کتنې ته به پروت وي.[276]

## کډوال

د تېرو دریو لسیزو په اوږدو کې تر شپږو ملیونو زیات افغانان کډوال شوي دي، چې په ګاونډیو هېوادونو لکه د پاکستان اسلامي جمهوریت او د ایران اسلامي جمهوریت د نړیوال تحفظ په لټه کې دي.[277] کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (یو این ایچ سي ار) اټکل کړی چې د نړۍ د کډوالو د ابادۍ ۲۵% بې ځایه شوي افغانان دي.[278]

د یو این ایچ سي ار له مخې افغان کډوال په ٦۹ هېوادونو کې خواره واره دي.[279] وطن ته د افغانانو د تښتېدلو رجحان اوس بدلېږي. په ۲۰۰۸ کې یو این ایچ سي ار اټکل کړی چې تر ۲۵۰،۰۰۰ زیات افغان کډوال وطن ته ستانه شوي، چې په دې سره د هغو ټولو کډوالو شمېر چې د ۲۰۰۲ راهیسې وطن ته ستانه شوي تر پنځو ملیونو زیاتېږي، چې دا د افغانانو د ټولې ابادۍ تقریباً پنځمه برخه ده.[280] د افغانستان جمهوري دولت، په ای این ډي ایس کې، اټکل کړی چې درې ملیونه نور افغان کډوال اوس هم په ایران او پاکستان کې ژوند کوي، کوم چې د افغانستان د جمهوري دولت او د د هغه د ګاونډیانو ترمنځ اړیکې خرابوي.[281] لکه چې په انځور ۳.٤۱ کې ښودل شوي، ۲.۱ ملیونه افغانان پاکستان او ۹۰۰،۰۰۰ ایران ته وتښتېدل.

"بنسټیز بشري حقونه او ازادي د هرې دموکراسۍ لپاره د ارزښت لرلو ترڅنګ د پیاوړي او ازاد اقتصاد لپاره اساسي ټکی دی."

- د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي: بشري حقونه

چوکاټ ۳.٦

| د ای این ډي ا یس د جنسي برابرۍ معیارونه | |
|---|---|
| **هدف نېټه** | **افغانستان تړون معیارونه** |
| د ۲۰۱۰ پای | د ښځو لپاره د ملي اقدام پلان به په بشپړ ډول تطبیق شي. |
| د ۲۰۱۰ پای | د ملي اقدام پلان به د زرو کالو د پرمختیایي اهدافو سره سم وي. |
| د ۲۰۱۰ پای | د افغانستان د دولتدارۍ په ټولو ادارو کې به د مېرمنو ګډون پیاوړی کړای شي. |
| د ۲۰۱۰ پای | محبسونه به د ښځو لپاره جلا بندیخانې ولري. |
| د ۲۰۱۰ پای | د انجونو په ابتدایي ښوونځیو کې به د داخلې شرحه ٦۰% وي. |
| د ۲۰۱۰ پای | د ښځینه ښوونکیو شمېر به ۵۰% زیات شي. |
| د ۲۰۱۰ پای | په پوهنتونونو کې د داخلو زده کوونکیو ۳۵% به ښځې وي (د ۱۰۰،۰۰ زده کوونکیو څخه) |
| د ۲۰۱۰ پای | د عمومي او خصوصي مرستو په کارولو سره به ۱۵۰،۰۰۰ سړي او ښځې د بازارموندنې په مهارتونو کې روزنې ترلاسه کړي. |
| د ۲۰۱۰ پای | د ښځو تر مشرۍ لاندې کورنیو حالت چې په پرله پسې توګه غریب دی به ۲۰% کم کړای شي. |
| د ۲۰۱۰ پای | ښځو لپاره د روزګار شرحه به ۲۰% زیاته شي. |

یادونه: ای این ډي ایس د افغانستان تړون لپاره معیارونه او وختونه خپل کړل.

سرچینه: د افغانستان جمهوري دولت، افغانستان تړون، ۲۰۰٦\۲، ضمیمه ایي، مخونه ٦-۱۱.

د کډوالو، راستنېدونکیو، او هېواد کې بې ځایه شویو خلکو لپاره د دې لپاره دي چې په وړ ډول د هغوی داوطلب راتګ او په ټولنه کې ګډون اسان کړي.

- د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي

ای این ډي ایس د سکټور یوه تایید شوي ستراتیژي وړاندي کوي د کومي هدف چې پاتي دري ملیونه افغانان دي.[282] د دې بیا کتل شوي ستراتیژۍ د لاندي، د افغانستان جمهوري دولت وایي چې د هغو مشخصو پروګرامونو له تطبیقولو وروسته به هم کوم چې د کډوالو او په وطن کې د بې ځایه شویو خلکو د ځای پر ځای کولو لپاره جوړ شوي دي، یوه د پام وړ شمېر ابادي به تر ۲۰۱۳ پوري په پاکستان او ایران کې پاتې شي.[283] د افغانستان جمهوري دولت اټکل کوي چې تر یو ملیون پوري زیات یا تر ٤۰۰،۰۰۰ پوري کم افغانان به په خپله خوښه یا په زور افغانستان ته ستانه شي.[284]

انځور ۳.٤۱

د ایران او پاکستان په اسلامي جمهوریتونو کې د افغان کډوالو ویش




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي.

## عدالتي اصلاحات او محاکمه

### عدالتي سیستم

د متحده ایالاتو پنځه اداري د افغانستان د عدالتي سیستم په جوړولو کار کوي: د بهرنیو چارو محکمه (ډي او ایس)، د مخدره توکیو پر وړاندي او د قانون د نافذولو نړیواله اداره (ایي این ایل)، د انصاف محکمه (ډي او جی)، یو ایس ای ایي ډي، د نشه یي توکیو په اړه د قانون د نافذولو اداره (ډي اي ای)، او د دفاع محکمه (ډي او ډي). ایي این ایل په افغانستان کې د عدالتي اصلاحاتو اساسي مسوولیت په غاړه لري.[285]

یو ایس ای ایي ډي راپور ورکړی چې افغانان د یو رسمي عدالتي سیستم په اړه په شک کې دي. د هغوی اندېښني د پلټونکو، محاکمه کوونکیو، او قاضیانو د ایمانداری په اړه دي، "کوم چې تل د ستونځې حل نه بلکې برخه وي."[286] ای این ډي ایس د عدالتي سیستم په اړه د افغانستان د جمهوري دولت د لید تشریح د یو داسې بې طرفه او خپلواک عدالتي سیستم په توګه کوي چې د ژوند، مذهب، شتمنۍ، فامیل او شهرت امنیت ساتي، د ازادۍ، قانون په وړاندي د برابرۍ، او عدالت د ټولو لپاره ته لاسرسي ته د درناوي سره.[287]

په ۲۰۰٤ کې له بدلون سره اساسي قانون د افغانستان د عدالتي سیسټم لپاره درې مهم ریفورمونه ومنل.[288] د اساسي قانون د ۱۱٦مي مادې په تعقیب، (۱) عدالت د "ریاست د یوې خپلواک ارګان" په توګه کار کوي، (۲) ستره محکمه د یو متحد عدالتي سیسټم د مشرې په توګه پېژندل شوې، او (۳) اساسي قانون د قانون د وضاحت لارښودونکي اداره ده.[289] د ای این ډي ایس له مخې، د افغانستان جمهوري دولت باید د ملکي، جنايي، او تجارتي قانون لپاره د ۲۰۱۰ کال تر پای د اساسي قانون د مادو سره سم یو قانوني چوکاټ داخل کړي (چوکاټ ۳.۷).[290]

ای این ډي ایس د افغانستان عدالتي سیسټم د ملکي قانون او اسلامي شرعي قانون چې د وخت په تېرېدو مخې ته راغلی دی د یو ګډ قانون په توګه تشریح کوي.[291] د ښارونو نه اخوا سیمو دننه ای این ډي ایس داسي دوديز قانوني سیسټم معلوم کړی چې بنسټ یې پر روایتي محاکمو دی.[292] ای این ډي ایس یو دوديز سیسټم د هغه سیسټم په توګه تشریح کوي چې بنسټ یې پر معافی غوښتلو، بخښني او جوړجاړي وي.[293]

په ورته توګه، د افغانستان هر ولایت د ۲۰۱۰ تر پای پورې د عدالت د فعالو ادارو د جوړولو لپاره ژمنتیا ښودلې.[294] تر دغه وخته پورې د افغانستان جمهوري دولت اراده لري چې د عدالت په مهمو ادارو کې په ریفورمونو تمرکز وکړي لکه د انصاف وزارت (ایم او جی)، عدلیه، د لوی څارنوال دفتر (ای جي او)، د کورنیو چارو وزارت (ایم او ایي)، او د ملي امنیت دفتر، څو مسلکیتوب، اعتبار، او ایمانداری ته وده ورکړي.[295]

## د عدالتي ریفورم او محاکمې لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ

د تړون له مخې، په افغانستان کې عدالتي اصلاحات د افغانستان د جمهوري دولت او نړیوالي ټولنې دواړه لپاره لومړیتوب دی.[296] د افغانستان عدالتي سیسټم د یوې سترې محکمې، ۳٤ ولایتي محکمو، او ٤۰۸ نورو محکمو څخه جوړ دی چې په ٤۰۰ ځایونو کې خورې ورې دي.[297] خپلواک عدالتي واک سترې محکمې ته ورکړل شوی دی، چې د افغانستان تر ټولو ستره محکمه ده.[298]

چوکاټ ۳.۷

**د ای این ډي ایس لخوا د قانون د حاکمیت معیاروه**

| هدف نېټه | د افغانستان تړون نېټه |
| --- | --- |
| د ۲۰۱۰ پای | د اساسي قانون په تعقیب، د قانوني چوکاټ تطبیقول، په ګډون د ملکي، جنايي، او تجارتي قانون چې جوړ شوی او ټولو عدالتي او قانون سازو ادارو ته رسول شوی دی. |
| د ۲۰۱۰ پای | هر ولایت به د انصاف یوه بشپړه فعاله اداره ولري. |
| د ۲۰۱۰ پای | د اداري فساد، د ضروري پروسې او د انصاف د نه رسېدو په اړه د نظارت د پروسو اصلاحات به په بشپړ ډول تطبیق شي. |
| د ۲۰۱۰ پای | د مسلکیتوب اعتبار، او ایمانداری د پیاوړي کولو لپاره د مهمو عدالتي ادارو (د انصاف وزارت، عدلیې، د لوی څارنوال د دفتر، د کورنیو چارو وزارت، او د ملي امنیت د دفتر) اصلاحات کول. |
| د ۲۰۱۰ پای | د عدالت په انفراسټرکچر به بیا کار کېږي تر څو د سړو او ښځو لپاره جلا جلا زندانونه او اسانتیاوې برابر کړای شي. |

یادوني: د حکومت د پرمختیا په ستراتیژۍ کې د عدالتي سکتور رول د افغانستان په عدالتي ادارو کې د بهتر یووالي، کاري وړتیا او انفراسټرکچر باوري کول دي.

سرچینه: د افغانستان جمهوري دولت، "د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي،" ۲۰۰۸\٦، مخ ٦٥.

په مئ ۲۰۰۵ کې، د افغانستان د عدالتي اصلاحاتو د اقداماتو د ملاتړ لپاره، ايي اين ايل د لاندې پرينسيپونو په جوړولو سره د افغانستان د عدالتي اصلاحاتو پروګرام ته وده ورکړه:

- په افغانستان کې بيا رغونه د قانون د حاکميت د نفاذ لپاره د يو فعال جنايي عدالتي سيستم پرته نشي بريالی کېدلی
- د افغانستان د پوليسو د پروګرام د اوږدمهالي اغېزمنتيا تکيه په يو فعال جنايي عدالتي سيستم باندې ده
- د مخدره موادو پر ضد د قانون د نفاذ هڅې بايد تېزې کړای او زياتې کړای شي چې د نشه يي توکيو ستونځه په اغېزمنه توګه کنټرول کړي."[299]

د ايي اين ايل له مخې، دا لاربودونکي پرينسيپونه د افغانستان د جمهوري دولت د مخدره موادو پر وړاندې د عدالتي سيستم بنياد دي.[300] ايي اين ايل د افغانستان د عدالتي سيستم د اداری د بهترولو لپاره ګڼ شمېر پروګرامونه لري.

## د ايي اين ايل عدالتي پروګرامونه

د مخدره موادو پر ضد عدالتي پروګرام د مخدره موادو پر ضد د پنځو ستنو د ستراتيژۍ برخه ده، کومې ته چې ايي اين ايل او د انصاف وزارت بوديجه ورکوي، څو يو داسې ماهرانه هدف ځواک جوړ کړي چې د مخدره موادو قضيې محاکمه کړي. د پروګرام په ټيم کې شپږ لوړپوړي مرکزي قانونپوهان، د دوو نه تر درېو جنايي پلټونکي، او د متحده ايالاتو د مارشال خدمت (يو ايس ايم ايس) غړي شامل دي.[301] د يو ايس ايم ايس د عملياتو ځانګړې ډلې (ايس او جي) ته د ايي اين ايل، يا د ايي اين ايل د مشن لخوا بوديجه نه ورکول کېږي.[302]

ايي اين ايل همدارز د انصاف محکمې ته مالي مرسته ورکوي څو د سي جې ټي ايف دننه د افغان قانونپوهانو او د پوليسو د پلټونکو لپاره روزني او لاربودني ترسره کړي.[303] د ۲۰۰۷ راهيسې، د يو ايس ايم ايس د عملياتو ځانګړې ډلې (ايس او جي)، چې په جلا توګه د ايي اين ايل لخوا بوديجه ورکول کېږي، په کابل کې د افغانستان د عدليې سره محکمې ته په امنيت برابرولو مرسته کړې ده.[304] څو مياشتې وړاندې د قاضي القضاة د وژلو څخه وروسته، يو ايس ايم ايس د عدليې غړو ته امنيت برابروي.[305] د انصاف د محکمې له مخې، يو ايس ايم ايس همداراز هغه روزنيز فعاليتونه ترسره کوي چې د مخدره موادو ضد عدالتي مرکز (سي اين جې سي) د عملياتو سره تړلي وي.[306] د ايي اين ايل له مخې سي اين جې سي د ۲۰۰۹ د مئ په ۱ نېټه فعاليتونه پيل کړل.[307] ايي اين ايل راپور ورکړی چې سي اين جې سي به د بندېزونو لپاره د افغانستان د جمهوري دولت د پرله پسې هڅو ملاتړ کوي.[308] په سي اين جې سي کې قېدخانې او د قانونپوهانو او قاضيانو لپاره د دفتر ځای او همداراز د اوسېدونکيو لپاره نوري اسانتياوې لکه د ډوډۍ خوړلو او ويده کېدو ځايونه، شامل دي.[309]

د دفاع محکمې راپور ورکړی چې د روزل شوي امنيتي پرسونل شمېره او د هغوی لاسته راوړنې هغه آلات دي چې ايس او جي يې د خپلو لاسته راوړنو لپاره د پيمانې په توګه کاروي.[310] ايس او جي ۱۶۰ تنه پرسونل روزلي او يا يې ورته لاربودني کړې دي او ټول ۸۱۰ ساعته روزنه يې ورته برابره کړې.[311] د جون ۳۰، ۲۰۰۹ پورې د انصاف محکمې راپور ورکړی چې په امنيت کې هيڅ خرابی نه و او نه په سي اين جې سي د کوم بريد راپور ورکړل شوی.[312]

د يو ايس ايم ايس پر فعاليتونو برسېره، د انصاف د محکمې جنايي ځانګې او ډي اي ای د عدليې د امنيت هڅو سره يو څه محدوده مرسته کړې.[313] د انصاف د محکمې له مخې، جنايي ځانګې د هغو نظامي موټرو په ترلاسه کولو کې مرسته کړې چې د عدليې د امنيت لپاره کارول کېږي.[314]

د عدالتي سکټور د ملاتړ پروګرام (جی ايس ايس پي)، چې په ۲۰۰۵ کې د تجرباتي پروګرام په توګه پيل شوی و، د جنايي عدالتي اصلاح لپاره د ايي اين ايل جامع پروګرام دی. جی ايس ايس پي د افغانستان د عدالتي سکټور ملاتړ کوي، په ګډون د انصاف د وزارت، د لوی څارنوال د دفتر، او د نورو اړوندو عدالتي ادارو د سرپرستی او روزنې.[315]

د لوی څارنوال د دفتر د مرستې برخې (ای جي او ای ايس) د لوی څارنوال سره مرسته وکړه چې د لوی څارنوال د دفتر پرمختيايي ستراتيژي جوړه کړي. ای جي او ای ايس د جی ايس ايس پي يو خپلواک جزؤ دی. د کورنيو چارو د وزارت سره په ارتباط، دې د پوليسو د ځواک او د قانونپوهانو ترمنځ د تفاهم بهترولو لپاره ايم او ايي-ای جي او کميسيون جوړ کړ.[316]

د عدالت او ايمانداری برخې ته لاسرسي (ای جې ايي ايس) د انصاف د وزارت سره د خپلواک ملي قانوني روزنيز مرکز (ايي اين ايل ټي سي) د جوړولو او يو داسې ترون په کښلو کې ملګرتيا وکړه چې اين ايل ټي سي يې د يوې داسې ځانګړې اداري په توګه ومنله چې د استغاثې قانونپوهان او دفاعي وکيلان او همداراز د ا فغانستان د قانونپوهانو د اتحاديې غړي تاييدوي. ای جې ايي ايس هم د جی ايس ايس پي يو خپلواک جزؤ دی. ای جې ايي ايس په ۲۰۰۸ کې تر ۱۱۰۰ زياتو عدالتي پرسونل ته روزني او لارښودنې برابرې کړې.[317]

د سمونو د سيستم د ملاتړ پروګرام (سي ايس ايس پي)، چې په ۲۰۰۶ کې جوړ شوی، د دې لپاره تشکيل شوی چې د افغانستان د زندانونو د مرکزي دفتر ملاتړ وکړي څو په روزنو، د ظرفيت لوړولو او انفراسټرکچر په چارو کې مرسته وکړي. سي ايس ايس پي تر ۳۰ زيات مشاوران لري چې په مختلفو سيمو کې ځای پر ځای شوي دي.[318] ايي اين ايل د واشنګټن پوهنتون د قانون د ښوونځي په ملګرتيا يو قانوني تعليمي پروګرام جوړ کړ چې د افغانستان د قانوني پروفيسورانو لپاره مالي سرچينې برابروي تر څو انګليسي زده کړې او همداراز سند ترلاسه کړي.[319]

## د مخدره موادو ضد عدالتي سيستم

د افغانستان د مخدره موادو ضد عدالتي سيستم د درېو مرکزي برخو نه جوړ شوی دی: سي جی ټي ايف، سي اين ټي، او سي اين جی ټي، چې ټول په کابل کې دي.[320] سي جی ټي ايف په افغانستان کې د مخدره موادو ضد قضيو د پلټنې او محاکمې مسوولیت په غاړه لري. سي اين ټي، کوم چې مخدره موادو-ضد چارو سره تړلې هغو ټولو جرمونو باندې واک لري چې تر يو خاص مقدار پورې وي (لکه د دوه کيلوگرامه هيروينو ساتل، ۱۰ کيلوگرامه اپيمو، ۵۰ کيلوگرامه حشيشو، او کيمياېي ماده)، په مخدره موادو سره تړليو جرمونو او د نشه يي توکيو سره تړلي اداري فساد باندې کار کوي.[321] سي اين جی سي د ټولو محاکمو ځای دی.[322] سي اين جی سي خپلې دروازې د ۲۰۰۹ د مۍ په ۱ پرانيستلې.[323] دا د مخدره موادو د غټو مجرمانو د نيولو او محاکمه کولو لپاره يو محفوظ زندان لري.[324] د دفاع محکمه د دې زندان د جوړولو لپاره مالي مرسته کوي.[325]

څرنگه چې په چوکاټ ۳.۸ کې ښودل شوي، د جی ايس پي سيمييز پروگرام د افغانستان د عدليې سره مرسته کوي. د لارښودنې له لارې د عدليې ملاتړ کول د افغانستان د جمهوري دولت د هغه ليد ملاتړ کوي چې د افغانستان د عدالتي سکټور بهترول د هغه معيارونو سره سم دي چې په ای اين ډي ايس کې ټاکل شوي وو.[326] ايي اين ايل راپور ورکړی چې د جی ايس ايس پي مشاورانو، د جی ايس ايس پي د پروگرام له لارې، د ټول افغانستان په ۱۵ ولايتونو کې د عارضي غټو قانونپوهانو او د جنايي پلټنې ځانگو روزنه او لارښودنه کړې.[327] انځور ۳.۴۲ هغه ولايتونه ښيي په کومو کې چې د افغانستان د عدليې غړو د لارښودنې او روزنې ملاتړ ترلاسه کړی دی.

چوکاټ ۳.۸

**د ايي اين ايل عدالتي او د قانون د حاکميت پروگرامونه (په مليونونو ډالرو کې)**

| د پروگرام نوم | تشريح | ورکړل شوې بوديجې |
|---|---|---|
| ايي ايس ايس پي | د افغانستان د عدالتي سکټور ملاتړ کوي | 132.5 ډالر |
| سي ايس ايس پي | د افغانستان د سمونو د سيستم ملاتړ کوي، ۸۸.۴ ډالر په گډون د انصاف د وزارت او د زندانونو د مرکزي محکمې سره د روزنو. | 88.4 ډالر |
| د مخدره موادو ضد عدالتي او ملاتړ کوي | او ملاتړ کوي د سي جی ټي ايف، اداري فساد ضد يونټ، او سي اين ټي ۷.۰ اداري فساد ضد | 7.0 ډالر |
| عدالتي ايمانداري | د سيميزو او ملي موسسو ملاتړ کوي په گډون د متحده ايالاتو ۲.۰ ډالر د سولې اداره | 2.0 ډالر |
| عدالتي امنيت | ملاتړ کوي د عدالتي امنيت د پرمختګونو لپاره ۲.۰ ډالر سي اين ټي او د انصاف د وزارت د مرستې لپاره | 2.0 ډالر |
| د عدالتي باور د بوديجې ملاتړ | د عدالتي سکټور د ملاتړ لپاره معاش ورکوي | 10.0 ډالر |
| قانوني زده کړه او عدالت لاسرسی | د افغانستان په قانوني سکټور کې د پرمختياو په اړه د افغانستان قانوني مسلکيانو او عامو افغانانو ته د اضافي زده کړې ملاتړ کوي. | 5.0 ډالر |
| عدالتي انفراسټرکچر | د عدالتي انفراسټرکچر د پرمختياو ملاتړ کوي | 10.6 ډالر |
| د سمونو انفراسټرکچر | د سمونو د سيستم د انفراسټرکچر د پرمختيا ملاتړ کوي | 15.0 ډالر |
| **ټول** | | **272.5 ډالر** |

يادونې: شمېرې په گردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ايي اين ايل د بوديجو اصطلاحات (ورکړل شوې) هغسې راپور شوي څرنگه چې د ايي اين ايل لخوا ورکړل شوې وې پرته له هغې چې مشخص شوې وي

سرچينه: د سيگار د معلوماتو پوښتنې ته د ايي اين ايل ځوابونه، ۲۰۰۹\۲\۷ او ۲۰۰۹\۷\۱۷

د هغو پروګرامونو سره سم چې د قانون د حاکمیت د بهترولو لپاره جوړ شوي دي، افغانستان دې ته ژمن دی چې په خپل عدالتي انفراسټرکچر (لکه زندانونو) کې بدلون راولي، په ګډون د ښځو او کم عمره ځوانانو لپاره د جلا زندانونو جوړولو.[328] د دفاع د محکمې له مخې، د افغانستان په زندانونو کې د قېدیانو شمېر په ۲۰۰۸ کې تر ۲۱% زیات شوی.[329] متحده ایالات د زندانونو د اصلاحاتو په یوه ستراتیژۍ غور کوي، د فعالیت معیاري پروسیجرونه کاږي، او د قېدیانو جزاوې او شرایط ګوري څو باوري کړي چې د قېدیانو حقونه ساتل شوي وي.[330] د تر ۴۰۰۰ قېدیانو د قضیو د دوسیو له کتلو وروسته، ۸۹ قېدیان داسې معلوم شوي وو چې د خوشې کېدو حقدار وو.[331]

یو ایس ای ایي ډي راپور ورکړی چې زیات افغانان فکر کوي چې اداري فساد په رسمي عدالتي سیستم کې شته او دوی په دې باره کې لږ باور لري چې عدالتي چارې به په سمه طریقه ترسره کېږي.[332] په ځای د دې چې شخړه د رسمي عدالتي سیستم له لارې حل کړای شي، ځیني افغانان، په ځانګړي توګه هغه چې د ښار د حدونو نه بهر اوسېږي، د ټولنې د جنجالونو د حل ځایونه کاروي لکه سیمییزې محکمې (جرګې).[333]

انځور ۳.۴۲

ایي این ایل جی ایس ایس پي، د لاربښودنې موجودګي په ولایت




سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د ایی این ایل ځواب، 2009\2\7.

## د قانون حاکمیت

د ۲۰۰۲ راهیسي، د متحده ایالاتو کانګرس ۷۶ ملیونه ډالر د هغو پروګرامو لپاره مختص کړي دي چې په افغانستان کې د قانون حاکمیت پیاوړی کړي.[336] چوکاټ ۳.۹ د ډي اي ای د هغو بودیجو حالت انځوروي چې مختص شوي دي.

## د مخدره موادو ضد د قانون حاکمیت

د مخدره موادو ضد د قانون د حاکمیت اقدامات د بندېزونو او د قانون د نفاذ (کوم چې د پولیسو او نورو قانون نافذوونکیو لپاره د روزنې او ملاتړ د پروګرامونو ملاتړ کوي) او د عدالتي اصلاحاتو او محاکمو (کوم چې د افغانستان د عدالتي سیستم او د هغې د ظرفیتونو د پراخولو لپاره کار کوي) ترمنځ ویشل شوي دي.[337]

**د بندېزونو پروګرامونه :** د دې لپاره کار کوي چې افغانستان ته د مخدره توکیو د ادارو د چلوونکیو د نیولو او محاکمه کولو توان ورکړي؛ دا به د مخدره موادو د قاچاق وړونکو ادارو د مخنیوي او ختمولو لپاره د افغانستان د ظرفیت مرسته وکړي.[334]

**د قانون د نفاذ پروګرامونه:** د مخدره موادو د قاچاق وړونکیو او رشوت خوړونکو چارواکو د نیولو، محاکمه کولو او پر مخ بیولو په لړ کې د افغانستان د ظرفیت د پراخولو لپاره کار کوي.[335]

### بندېزونه او د قانون نافذول

ایي این ایل راپور ورکړی چې متحده ایالات هر کال تقریباً ۲۰۰ ملیونه ډالر د مخدره موادو ضد بندېزونو او د قانون د نفاذ لپاره د دفاع د محکمې، ډي اي ای، او ایي این ایل له لارې ورکوي.[338]

## فعالیتي ډاټا او د استخباراتي معلوماتو راغونډول او تبادله

په ۲۰۰۸ کې فعالیتي او د استخباراتي معلوماتو راغونډولو او تبادلې (ډي ایي سي اي) د هیروینو لپاره د کیمیایي مادې، چې acetic anhydride نومېږي، په اروپا، ختیځه اسیا، او منځنې ختیځ کې لېږد معلوم کړ. د دې ایي سي اي عملیاتو د لېږد طریقې معلومې، او داسې سرچینې او هېوادونه یې رابرسېره کړل چې مخکې نه وو پېژندل شوي.[339] ایي این ایل راپور ورکړ چې د افغانستان جمهوري حکومت acetic anhydride داسې

چوکاټ ۳.۹

| **د ډي اي ای بودیجې، مالي کال ۲۰۰۲-۲۰۰۹ (په ملیونونو ډالرو کې)** | | | |
|---|---|---|---|
| **ټاکل شوې** | **اصلي** | **منل شوې** | **لګول شوې** |
| مالي کال 2002 | $0.58 | $0.58 | $0.58 |
| مالي کال 2003 | $2.87 | $2.74 | $2.74 |
| مالي کال 2004 | $3.72 | $3.27 | $3.27 |
| مالي کال 2005 | $16.77 | $12.30 | $12.30 |
| مالي کال 2006 | $23.66 | $21.27 | $21.08 |
| مالي کال 2007 | $15.79 | $15.79 | $10.26 |
| مالي کال 2007 (ضمیمه یې) | $4.59 | $4.89 | $4.72 |
| مالي کال 2008 | $18.20 | $13.28 | $8.97 |
| مالي کال 2008 (ضمیمه یې) | $22.39 | $12.73 | $9.17 |
| مالي کال 2009 | $18.80 | $6.62 | $3.35 |
| **ټول** | **$127.37** | **$93.47** | **$76.44** |

یادونې: دا چوکاټ د مالي کال ۲۰۰۱ څخه تر مالي کال ۲۰۰۹ پورې بودیجې وړاندې کوي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د انصاف د محکمې-ډي اي ای اصطلاحات (اصلي، منل شوې، او لګول شوې) هغسې راپور شوي څنګه چې د انصاف د محکمې لخوا ورکړل شوي پرته له هغې چې مشخص شوې وي.
سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د انصاف د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۷\۷.

پېژندلي چې په هېواد کې ”د استعمال روا وجه نلري.“[340] هغه نشه يي توکي چې د بوټو نه جوړېږي، په ګډون د کوکينو، مورفينو، او هيروينو، دې کېميايي مادې ته اړتيا لري (داسي کېميايي مواد چې د بوټي سره د نشه يي توکيو د جوړولو لپاره ګډول کېږي). د متحده ايالاتو د مخدره موادو ضد ستراتيژۍ کې د هيروينو د کېماوي موادو د ناقانونه تجارتي استعمال هدف جوړول شامل دي.[341] د ايي اين ايل سره سم، د داسي کېمياوي موادو کنټرولول لکه acetic anhydride د افغانستان لپاره يوه سخته ننګونه ګڼل کېږي ځکه چې افغانستان د نړۍ د اپيمو ۹۳% سرچينه او د مخ په زياتېدونکي لوړې فيصدي د هيروينو د توليد ځای دی.[342].

## د اداري فساد ضد هڅې

افغانستان د خپلې بيا رغونې د هڅو په ګڼ شمېر اړخونو کې د اداري فساد پر ضد مبارزه کې د ډېرو ننګونو سره مخ دی، لکه د امنيتي ځواکونو د روزلو لپاره د ستراتيژيو تطبيقول، د ازادو او پاکو ټولټاکنو له لارې دموکراسی ته وده ورکول، او د قانوني ذريعو له لارې اقتصادي پرمختيا راوستل.[343] د افغانستان تړون او د ای اين ډي ايس له مخې، د اداري فساد ضد مبارزه يوه مهمه موضوع ده.[344] څرنګه چې په چوکاټ ۳.۱۰ کې ښودل شوي ای اين ډي ايس فساد د کنټرولولو لپاره د افغانستان د جمهوري دولت ژمنتيا د افغانستان تړون د اداري فساد ضد معيارونو په کارولو تشريح کوي. په مشخص ډول، د افغانستان جمهوري دولت پوهېږي چې په عدالتي سيستم، مالي سمبالښت، او د حکومت د خدمت رسولو په مسووليتونو کې فساد د دولت قوت په بنيادي طريقه ډېر زيات اغېزمن کوي.[345]

يو ايس ای ايي ډي د اداري فساد تعريف ”د شخصي ګټو لپاره د دولتي چوکۍ ناسم استعمال“ په توګه کوي.“[346]

يو ای ايس ايي ډي راپور ورکړی چې په افغانستان کې ډېر زيات اداري فساد د امنيتي، اقتصادي پرمختګ، او د رياست او دموکراسۍ د جوړولو اقداماتو ته زيان رسوي.[347] د يو ای ايس ايي ډي له مخې د افغانستان د جمهوري دولت د واکمنۍ د پيدا کولو لپاره د مختلفو سيمييزو چارو او د ډېر زيات اداري فساد ترمنځ يو باريک توازن موندل ډېر ضروري دي.[348]

د تېرو ۳۰ کلونو نړيوالو او سيمييزو شخړو د افغانستان حکومتي اداری بې ثباته کړي او هېواد يې ګډوډ کړی دی. د اداري فساد پر ضد موجود قوانين پياوړي کولو ته اړتيا لري چې د منع شويو چارو او د ورسره تړلي جزا تعريف وکړي. د بېلګې په ډول، يو ای ايس ايي ډي ته معلومه شوي چې د رشوت او اداري فساد پر ضد د کمپاين قانون د منع شوي چلند لکه رشوت ورکول، په ناقانونه توګه سپارښتنه کول، غوښتنه کول، او چا ته کار کول تعريف وکړي.[349] يو ای ايس ايي ډي راپور ورکړی چې د افغانستان جمهوري دولت د اداري فساد د مخنيوي

> ”متحده ايالات، زمونږ نړيوال ملګري، او تر ټولو زيات مهم، افغانان، بايد د فساد د کمولو او د قانون د حاکميت د پياوړي کولو لپاره کار وکړي. پر دې مسئلو د اصلي پرمختګ پرته به برياليتوب ته رسېدل ډېر ګران وي.“
>
> — افغانستان ته د متحده ايالاتو سفير کارل ډبليو. ايکنبري.[353]

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای اين ډي ايس)




چوکاټ ۳.۱۰

| د ای اين ډي ايس د اداري فساد ضد معيارونه | | |
|---|---|---|
| **هدف نېټه** | **مهمه موضوع** | **معيار** |
| د ۲۰۱۰ پای | د اداري فساد ضد | د اساسي قانون د ۵۰مې مادې له مخې، اتباع به د افغانستان د جمهوري دولت د دفترونو څخه معلوماتو ته د نامحدود لاسرسي حق لري. |
| د ۲۰۱۰ پای | د اداري فساد ضد | د افغانستان جمهوري دولت به د مخدره موادو د کاروباريانو او رشوت خوړونکو چارواکو ګرفتاری او محاکمې زياتې کړي. |
| د ۲۰۱۳ پای | د اداري فساد ضد | د افغانستان جمهوري دولت به د عدليې او دولت د امنيت، ګمرکونو، ملکي اداری، او ښاروالیو په برخو کې په اداري فساد کې د پام وړ کموالی راولي. |

سرچينه: د افغانستان جمهوري دولت، ”د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،“ ۲۰۰۸/٦، مخ.۷۲.

لپاره د ځينو خاصو شرطونو تطبيقولو، مربوطولو او اغېزمن کولو، او د اداري فساد پر ضد د موجودو قوانينو د تمرين پياوړي کولو ته اړتيا لري.[350]

## د اداري فساد ضد پروګرامونه

يو ايس ای ايي ډي د افغانستان د جمهوري دولت سره په ملي او ولايتي کچه د حکومتونو د مهمو فعاليتونو د شفافيت، احتساب، او اغېزمنتيا د پياوړي کولو په هڅه کي مرسته کوي.[351] د يو ای ايس ايي ډي له مخي، اداري فساد نه د بچ کېدو د هڅو لوری د اساسي دولتداری او د قانون د حاکميت د ظرفيت د پروګرامونو طرف ته شوی کوم چي د حکومت د مهمو برخو دننه د شفافيت او احتساب د بهترولو لپاره ځانګړي شوي دي.[352] د ظرفيت د پرمختيا پروګرام، د ولسمشر دفتر\د حکومت د مرکز لپاره ملاتړ (او او پي\ايس سي او جي)، او د افغانستان د قانون د حاکميت پروګرام (ای ار او ايل پي) د دې لپاره جوړ شوي چي د اداري فساد د فعاليتونو نه د بچ کېدو لپاره شفافيت، احتساب، او اغېزمنتيا ته وده ورکړي.[355]

د ظرفيت د پرمختيا پروګرام د مالي د وزير او د اداري اصلاح او ملکي خدمت د خپلواک کميسيون سره له نږدې کار کوي څو د مالي او بشري سرچينو سمبالښت عصري کړي.

د ولسمشر دفتر\د حکومت د مرکز ملاتړ (او او پي\ايس سي او جي) د مالي سمبالښت، معلوماتي تکنالوژۍ او نورو د ظرفيت نورو مهمو پرمختياو لپاره د بنسټيز عامه ظرفيت د پرمختيا ملاتړ کوي.

د افغانستان د قانون د حاکميت پروګرام (ای ار او ايل پي) د زرو نه زياتو قاضيانو ته روزنه ورکوي؛ د قضيې د سمبالښت، معلومولو، او محکمو لپاره د پرانيستي معلوماتو د سيسټمونو د پرمختيا ملاتړ کوي؛ او قاضيانو لپاره د يوې اخلاق نامې د جوړولو مرسته کوي.[354]

يو ايس ای ايي ډي د متحده ايالاتو د حکومت نورو اداري په ګوته کړي چي هغه هم د افغانستان د اداري فساد ضد هڅو د ملاتړ لپاره اصولي مرسته کوي.[356] د بهرنيو چارو محکمه، د خپلې اقتصادي ځانګې په واسطه، د افغانستان د حکومت د اداري فساد ضد هڅو ته د ودې ورکولو او پياوړي کولو لپاره مرکزي وزيرانو ته د تګلارو لارښودنه کوي. يو ای ايس ايي ډي راپور ورکړی چي د بهرنيو چارو د محکمي سياسي او د سياسي وزارت برخي د اداري فساد ضد مسئلو د ځوابولو لپاره د افغانستان د وزارتونو او ملي شورا سره له نږدې کار کوي.[357] د يو ای ايس ايي ډي له مخي، د متحده ايالاتو خزانې هم د عامه بوديجو په کارولو کې د شفافيت د باوري کولو لپاره ايم او ايف سره د عامه مالي سمبالښت په اصلاح کي د لارښودني مرسته کړې ده.[358]

د ايي اين ايل په مرسته د لوی څارنوال په دفتر کي د اداري فساد ضد يونټ (ای سي يو) جوړ شوی و.[359] د ايي اين ايل له مخي ای سي يو د هغو پلټونکو قانونپوهانو چي په ځانګړې توګه د لوی څارنوال لخوا په ټول هېواد کي د فساد د پلټني او محاکمي لپاره ټاکل شوي يو ۱۵-کسيز ټيم دی.[360] د جي ايس ايس پي مشاوران او د ايي اين ايل لخوا بوديجه ورکړل شوي د انصاف د محکمي قانونپوهان د لارښودني خدمتونه ورکوي.[361] لوی څارنوال د نړيوالي ټولني سره په ای سي يو کي د اوسنيو او راتلونکيو قانونپوهانو لپاره د يوې نوې تجرباتي پروسې د پېل کولو ملګرتيا کړې ده.[362]

## د اداري فساد ضد ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د نظارت عالي دفتر

د اداري فساد ضد ستراتيژۍ لپاره د نظارت عالي دفتر (ايچ او او) خپل د کابل مرکزي دفتر په جولای ۲۰۰۸ کي پرانيست.[363] د يو ايس ای ايي ډي له مخي، د ايچ او او جوړول، کومه چي د اداري فساد ضد نوې او ځانګړې اداره ده، د افغانستان د جمهوري دولت يوه د پام وړ لاسته راوړنه ده.[364] په دې کاري دايره کي به ايچ او او د خپلو سرچينو تمرکز د اداري فساد په مخنيوي او همداراز په ولس کي د حکومت د وزارتونو او محکمو د پروسو او لګښتونو په اړه د نورو معلوماتو په خورولو کوي.[365]

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، د ايچ او د اساسي مسووليتونو څخه يو د ولسمشر، د سترې محکمې، د لوی څارنوال، او د انصاف د وزارت سره باقاعده ليدنې دي.[366] يو ايس ای ايي ډي راپور ورکړی چې نسبتاً د يوې نوې اداري په توګه به ايچ او د هغې لارښودنې په کارولو سره چې د ملګرو ملتونو د اداري فساد ضد کنوينشن (يو اين سي ای سي) کې مشخص شوي د افغانستان د حکومت نظارت کوي او راپور به ورکوي.[367]

د يو ايس ای ايي ډي له مخې، ايچ او د لاندې فعاليتونو مسووليت په غاړه لري:

- ستراتيژي
- نظارت
- مخنيوی
- شکايتونه
- د قضيو تعقيب
- د شتمنۍ ثبتول
- ولس ته پراخوالی

يو ايس ای ايي ډي د ايچ او او سره د اداري بنياد لپاره تخنيکي مرسته او د دې دننه د فساد د مخنيوي لپاره د کارکوونکيو روزنه او نوره مرسته کوي.[368] د يو ايس ای ايي ډي سره سم، په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې هڅې بنسټيزه دولتداري او د قانون د حاکميت د ظرفيت پرمختيا په نبنه کوي.[369] د افغانستان جمهوري دولت به د خپلو وزارتونو او ادارو له لارې د ايچ او او سره همکاري کوي څو د اداري فساد پر وړاندې کمزوري ځايونه وپېژني او د ايمانداری طريقو ته وده ورکړي.[370] د يو ايس ای ايي ډي له مخې د ايچ او او مشن به د افغانستان په فساد ضد هڅو په يوه تلپاتي او مربوطه طريقه په منظمولو باندې تمرکز ولري.[371] سيګار پلان لري چې د خپلې نظارت د فعاليتونو د يوې برخې په توګه د ايچ او او د وړتياو او کار جاج واخلي.

**د اداري فساد پر ضد د ملګرو ملتونو کنوينشن (يو اين سي ای سي)، چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۹مه نېټه فعال شوی، د ”سيستماتيک فساد د مخنيوي، پلټنې، او محاکمې لپاره“ يو تفصيلي، جامع او ګڼ اړخيزه ډسپلين لرونکی نظر لري. په يو اين سي ای سي کې ۷۱ مادې داسې موضوعات بحث کوي لکه ولس ته راپور ورکول، د ناقانونه پيسو د لېږدولو مخنيوی، او جنايي تنفيذ. دې همدارز د داسې فساد ضد مخنيوي کوونکيو تګلارو او تمرينونو سپارښتنه کړې چې يو خپلواک ملت يې د خپلې دولتداری او ميکانزم له لارې تطبيقولی شي.[372]**

”د ای این ډي ایس ستراتیژیک هدف
خصوصي سکټور په دې توانول دي چې د
افغانستان پرمختیا د مارکیټ پر بنسټ د مقابلې
اقتصاد ته بوځي په کوم کې چې حکومت د
اقتصادي تګلارو جوړوونکی او تطبیقوونکی
وي، نه مقابله کوونکی.“

- د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي:
اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای اين ډي ايس)

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا




## عمومي کتنه

د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ای اين ډي ايس) له مخې، خصوصي کول او بهرنۍ پانګې په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا لپاره ډېرې مهمې دي. د تمرکز په نورو برخو کې شامل دي بريښنا ته اعتباري لاسرسی، د اوبو د سرچينو سمبالښت، او خوندي او باوقاره ترانسپورټ.[373] دا برخه د افغانستان په اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا تمرکز کوي، د افغانستان د مخدره موادو ضد هڅې رونوي، او د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو (پي ار ټي) وروستنی حال وړاندې کوي.

په پرمختيايي پروګرامونو کې د متحده ايالاتو او نورو نړيوالو پانګو باوجود افغانستان اوس هم د لوړې کچې اقتصادي ننګونو سره مخ دی. په افغانستان کې د ژوند کولو شرايط په نړۍ کې تر ټولو ټيټ دي.[374] پانګې د ضعيفو ادارو او ضعيف تنفيذ له امله نه راځي.[375] برسېره پر دې، د نشه يي توکيو کاروبار اوس هم د افغانستان د جمهوري دولت لخوا د پرمختيايي اقدامونو او ثبات د پراخولو د ټولو هڅو پر مخ خنډ دی.[376]

د ملګرو ملتونو له مخې، د بانکي سکټور ناپرمختيايي حالت، په شريکه د بانکي کميشن د لوړو بيو سره، افغانان د دې نه درولي چې رسمي بانکي لارې چارې وکاروي. د پرمختيايي بانکي جوړښت د نشتوالي له امله ډېر افغانان په داخل او بهر کې د پيسو د انتقال لپاره په يو نارسمي مالي سيستم حواله اتکاء کوي.[379]

د حوالو کاروونکي (چې حواله داران ورته وايي) زياتره په کابل کې، د پيسو د بدلولو په مارکېټ کې دي. دا حواله داران خپلو مشتريانو ته مالي خدمتونه وړاندې کوي په ګډون د پيسو د بدلولو او راکړې ورکړې، د بوديجو ليږدول، کوچنی مالي چارې، تجارتي مالي چارې، او د پيسو ساتل. هغوی همدارز تجارانو ته مالي خدمتونه هم وړاندې کوي لکه د اسعارو بدلول، د پيسو کورنی او بهرنی ليږد راليږد، او د پيسو د ساتلو خدمتونه.[380] د امريکا د خزانې راپور دی چې په افغانستان کې د يو شمېر کورنې بانکونو شاليد په حواله کې دی.[381]

## مهم اقتصادي بنودونکي

ای اين ډي ايس د افغانستان د اقتصادي پرمختيا د بهترولو په ارزښت زور ورکوي. د دغې پرمختيا په لړ کې په ځينو مهمو اقتصاد ښودونکيو کې شامل دي يو اغېزمن بانکي سيستم، يو زياتېدونکی عمده کورنی توليد (جي ډي پي)، درنه پيسه، او د بې کارۍ ټيټه شرحه.

### بانکداري

په ۲۰۰٤ کې د افغانستان د جمهوري دولت قانون سازو د بانکدارۍ يو قانون ومانه، چې له مخې يې د افغانستان بانکي جوړښت رسمي شو. له دغه وخته راپديخوا بانکي شتمنۍ په تېزۍ زياتي شوي دي. د مارچ ۲۰۰۹ سره سم، د متحده ايالاتو خزانې اندازه لګولې چې بانکي شتمنۍ تقريباً ۲.٤۱ مليارده وې، او پانګه ټوله تقريباً ۳۵۵ مليونه. په تېر کال کې، بانکي شتمنۍ ٦٦% زياتي شوې دي او بانکي حسابونه ٦۹% زيات شوي دي.[377]

د افغانستان په بانکي سيستم کې شامل دي دوه دولتي بانکونه، دوه د افغانانو بانکونه، او اوه د بهرنيانو بانکونه. درې تر ټولو غټ بانکونه کابل بانک، عزيزي بانک، او پښتني بانک دي. دا درې بانکونه تر ٥۰% زيات د افغانستان بانکي شتمنۍ لري. کابل او عزيزي دواړه شخصي دي، او پښتني دولتي بانک دی.[378]

د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، د شمسي کاليز په وختونو کار کوي، په داسې حال کې چې تجارتي بانکونه عيسوي کاليز کاروي، کوم چې په عام ډول د متحده اياالاتو او نړيوالو تجارتي مالي ادارو او مرکزي بانکونو لخوا کارول کېږي. د افغانستان بانک پلان جوړ کړی و چې تر جون ۲۰۰۸ پورې به د افغانستان د بانکي سيستم لپاره يو د وخت يو واحد چوکاټ جوړ کړي خو بيا يې پرېکړه وکړه چې دا به عملي نشي. د پيسو نړيوالې بوديجې (ايي ايم ايف) راپور ورکړی چې مرکزي بانک د تجارتي بانکونو سره دې مفاهمت ته رسېدلی چې په مهمو معلوماتي نکتو به له يو بل سره همکاري کوي.[384] انځور ۳.٤۳ د شمسي او عيسوي کالونو د کاليزونو ترمنځ وخت ښيي.

**شمسي کاليز:** هر شمسي کال (ايس وايي) د مارچ په ۲۲مه پيلېږي او د بل کال د مارچ تر ۲۱مې رسېږي. په شمسي کاليز کې، جولای ۲۰۰۹ د شمسي کال په ۱۳۸۸ کې راځي.[382]

انځور ۳.٤۳

د شمسي کال پرتله د عيسوي کال د کاليز سره




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د يو ايس ای ايي ډي ځواب، 2009\2\7.

## عمده کورنی توليد

تمه کېږي چې په افغانستان کې به اصلي او په نوم جي ډي پي دواړه په ۲۰۰۹ کې زيات شي. د امريکا خزانې راپور ورکړی چې د افغانستان د جي ډي پي اټکلونه ډېر مختلف دي، چې عمده لامل يې په هېواد کې دننه د معلوماتو محدوديتونه دي. د امريکا خزانه د جي ډي پي د لګښتونو د معلومولو لپاره د ايي ايم د جي ډي پي اټکلونه کاروي. خدمتونه، په ګډون د مالي او ټليفوني ارتباطاتو د شرکتونو، د جي ډي پي تر ټولو ستر ونډه اخيستونکي دي. کرنيز توليد (په ګډون د غنمو) دويم تر ټولو ستر ګډونوال دی، چې ورپسې د مصنوعاتو شرکتونه دي.[385] چوکاټ ۳.۱۱ د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۰ ترمنځ د جي ډي پي اصلي او په نوم دواړه اټکلونه ښيي.

جي ډي پي د اپيم توليدونکي غټ صنعت تشريح نه کوي؛ ځينې اټکلونه ښيي چې د اپيمو تجارت کېدای شي همدومره غټ وي څومره چې روا اقتصاد دی.[386]

**په افغانستان کې، "روا جي ډي پي" د يو ستر ناروا (ناقانونه) امدن وجود مني، په ځانګړې توګه د کوکنارو د توليد له لارې.[383]**

## د افغانۍ ثبات

د افغانستان پيسه افغانۍ ده.[387] د جولای ۱، ۲۰۰۹ سره سم، د افغانستان بانک د بدلون د بيې راپور تقريباً پنځوس افغانۍ د يو امريکايي ډالر په بدل کې ورکړی.[388] ايي ايم ايف راپور ورکړی چې افغانۍ په ټول ۲۰۰۸ کال کې پياوړې وه؛ د دې ارزښت د امريکايي ډالر په وړاندې يو څه کم شوی و خو د تجارتي وزن په چارو کې ښه و. د افغانستان بانک د پانګه يي لوټونو لپاره د مارکېټ په ښه کولو او برقي راجسترۍ په جوړولو سره د افغانۍ د ارزښت د ښه ساتلو کوښښ کړی دی.[389]

## روزګار

ای اين ډي ايس وايي د دې لپاره چې په افغانستان کې د غربت لوړه شرحه کمه شي، دا هېواد بايد د روزګار د مواقعو د زياتولو په لور پرمختګ وکړي.[390] په ۲۰۰۸ کې، د افغانستان د بې کارۍ د شرحې اټکل ٤۰% شوی و، چې په نړۍ کې تر ټولو جيګ و؛ د ۱۹۹ هېوادونو څخه چې په دې درجو کې راوستل شوي وو (۱ تر ټولو ټيټه د بې کارۍ شرحه وه)، افغانستان په ۱۸۵ لمبر و.[391]

چوکاټ ۳.۱۱

**د افغانستان د جي ډي پي د زياتېدو اټکلونه**

| | 2002/03 | 2003/04 | 2004/05 | 2005/06 | 2006/07 | 2007/08 | 2008/09 | 2009/10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په نوم جي ډي پي (په ملياردونو ډالرو کې) | 4 | 4.4 | 5.4 | 6.5 | 7.7 | 9.7 | 11.7 | 13.4 |
| د جي ډي پي اصلي زياتېدنه (%بدلون، کال په کال) | — | 15.1 | 8.8 | 16.1 | 8.2 | 12.1 | 3.4 | 9 |

يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ۲۰۰۸\۲۰۰۹ او ۲۰۰۹\۲۰۱۰ دواړو شمېرې اټکلونه دي.
سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د متحده اياالاتو د خزانې ځواب، ۲۰۰۹\۱۰\۱۷.

د تقريباً ۱۵ مليونه زياركښو افغانانو څخه، ۸۰% په زراعت کې په کار لګول شوي، ۱۰% په صنعت کې، او ۱۰% په (عامه) خدمتونو کې.[392]

## اساسي خدمتونه

### انرژي

د انرژي سکټور لپاره د ای اين ډي ايس په مهمو هدفونو کې شامل دي د يو اعتباري او ارزان انرژي سيسټم او د خصوصي کولو زياتونه د افغانستان د جمهوري دولت د نظارت سره. د دې هدفونو په ذهن کې نيولو سره ای اين ډي ايس تمه لري چې د انرژۍ په پرمختيا کې وړاندې قدمونه به د خدمتونو پراخول او د ټولو غريبو مشتريانو لپاره د مقابلې د قيمتونو ساتل وي. د پراخولو مسووليت به د مرستندويانو د بوديجو د پروژو وي، په داسې حال کې چې د خصوصي کولو مسووليت به د افغانستان د جمهوري دولت په غاړه وي.[393]

متحده ايالاتو د انرژي د پرمختيا لپاره د اقتصادي ملاتړ د بوديجې (اي ايس ايف) له لارې مرسته کړې، دغه اداره د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيا د ادارې (يو ايس ای ايي ډي)، او د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (سي اي ار پي) لخوا سمباليږي.[394] ګڼ شمېر د برېښنا د لويې کچې پروژې په لاره دي، په ګډون د شمالي-ختيځ برېښنايي سيسټم،[395] د کابل برېښنايي پلانټ،[396] د پراخولو، او يو د ۳.۷۵ مليونه ډالرو د جايزې څو د انرژۍ او اوبو د وزارت سره په معلوماتو او تخنيکي مرسته کې ملاتړ وشي. برسېره پر دې، د درونټې د اوبو برېښنايي پلانټ بيا جوړونه (چې د متحده ايالاتو لخوا يې د ۹.۸۶ مليونه ډالرو په بوديجه مرسته شوې)، د ننګرهار لپاره د پرمختګ په حال کې ده.[397]

ګاونډي هېواد ازبکستان سره يوې وروستۍ موافقې دې ته لاره هواره کړې چې د افغانستان د شمالي سرحد په لاره د يو برېښنايي مزي راتېرول بشپړ کړای شي. د دې مزي د بشپړېدو سره د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور ورکړې چې د کابل ځينو برخو ته "نږدې بشپړه برېښنا راستنه شوه."[398]

### تعليم

د نړيوالو مرستندويانو د مرستې سره، د افغانستان جمهوري دولت راپور ورکړی چې په ټول افغانستان کې تعليم ته لاسرسی بهتر شوی دی. په ۲۰۰۸ کې، تقريباً ۵۲،۲۰۰ زده کوونکي په عالي تعليم کې اخته وو، او تقريباً ٦ مليونه ماشومان ښوونځي ته تلل،[399] په ګډون د تقريباً دوه مليونه انجونو. د طالبانو په واکمنۍ کې تر يو مليون کم هلکان په ښوونځيو کې وو او انجونو ته اجازه نه وه چې ښوونځيو ته لاړې شي.[400]

په افغان ښوونځيو کې د زده کوونکيو د ښځې زياتېدو سره، د ای اين ډي ايس اهداف د موجود تعليم د معيار په زياتولو تمرکز کوي. د دې هدف د ملاتړ لپاره د ښوونکيو د زياتې روزنې او ملاتړ لپاره د راتلونکي تعليمي جوړښت دننه پلان جوړ شوی دی.[401]

د طالبانو د رژيم پر مهال په افغانستان کې تقريباً ۸۰% ښوونځي تخريب شوي يا له منځه وړل شوي وو. متحده ايالاتو په افغانستان کې د ٦۸۰ څخه د زياتو ښوونځيو د بيا جوړولو او بشپړولو سره مرسته کړې ده. تر ٦۰ مليونو زيات نصابي کتابونه د يو ايس ای ايي ډي له لارې ويشل شوي دي.[402]

## اوبه

ای این ډي ایس د اوبو په سمبالښت کې د بهتر تقسیم ضرورت ته د اوبو د سکټور د پرمختیا د مهم جزؤ په توګه زور ورکوي. په دې توګه، ای این ډي ایس د پروژه په پروژه کار څخه د اوبو د سرچینو د سمبالښت د مربوط (ايي ډبليو ار ايم) پروګرام په لور د تګ سپارښتنه کوي، کوم چې به د اوبو د زیرمه کولو د اسانتیاو، د مینځونکو د بیا ډکولو، د ډېرو هدف لرونکو بندونو، او د اوبه خور د سیستمونو په ښه کولو تمرکز کوي.[403]

د ای این ډي ایس له پیلېدو راوروسته، افغانستان یو داسې ايي ډبليو ار ايم جوړ کړی دی چې د اوبو د سکټور لپاره ګڼ شمېر تفصیلي اهداف وړاندې کوي. یو ایس ای ایي ډي راپور ورکړې چې ايي ډبليو ار ايم د اوبو د پرمختیا لپاره په نړیوال کچ منل شوی پروګرام دی. د افغانستان د ايي ډبلي ار ايم په لومړیتوبونو کې شامل دي:[404]

- د ګڼ اهداف لرونکو بندونو جوړول، کوم چې د اوبه خور سیستمونه، د سیلابونو کنټرول، د اوبو رسول، او برېښنا جوړوي
- د کلیوالو، ښاروالیو او ښاري سیمو د اوبو د رسولو او د نالیو د پاکولو د سیستمونو بهترول

د جون ۲۰۰۹ د پاریس په مرستندویه کنفرانس کې افغانستان د اوبو د سکټور لپاره د ۵.۳ ملیارده ډالرو د لګښتونو یو پلان وړاندې کړ.[405] متحده ایالات د افغانستان د اوبو او د نالیو د پاکولو د پرمختیا سره ملاتړ ته دوام ورکوي.[406]

هر څو که افغانانو ته د اوبو په رسولو کې یو څه پرمختګ شوی دی، خو د ټولې ابادی د څلورمي برخې څخه کم خلک د څښلو اوبو ته مسلسل لاسرسی لري. د ۲۰۰۱ راهیسې، د ملګرو ملتونو د ماشومانو بودیجې (یونیسیف) د پاکو اوبو په رسولو کې د تېزو پرمختیاو راپورونه ورکړي دي. خو هغه خلک چې په لیرې سیمو کې اوسېږي اوس هم پاکو اوبو ته په لاسرسي کې له ستونځو سره مخ دي.[407]

د اوبو د وتلو او د نالیو د پاکوالي د سیستمونو نشتوالی له روغتیا زیات څه اغېزمن کوي؛ دا تعلیم موقعي هم اغېزمني کوي. د یونیسیف له مخې، د جنس سره مشخصو تشنابونو نشتوالی ډېرې انجونې ښوونځیو ته له تللو منع کوي. یونیسیف د افغانستان د جمهوري دولت د هغو هڅو ملاتړ کوي چې په ښوونځیو کې د څښلو اوبو او د جنس سره مشخص تشنابونو ته د لاسرسي ورکولو لپاره یې کوي.[408]

## روغتیايي علاج

یو ایس ای ایي ډي د افغانانو روغتیايي حالت "په نړۍ کې د تر ټولو خرابو څخه"[409] په توګه تعریف کړی او ای این ډي ایس وايي چې "په هره حواله، د افغانستان خلک د خرابې روغتیا سره مخ دي."[410] ای این ډي ایس د افغانستان د خلکو د روغتیا په وړاندې د ننګونو یو لیست راپېژني:[411]

- د مهمو پروګرامونو لپاره ناکافي بودیجه
- د مرستندویانو د بودیجو د بشپړېدو پر مهال د پلانونو محدوده دوامداري
- د روغتیايي کارکوونکیو لپاره ناکافي روزنې
- د کلیوالو سیمو لپاره د محدودې باسواده ښځینه روغتیايي کارکوونکي
- په کلیو کې د زیات نفوس او د روغتیايي علاج اسانتیاو ته محدود لاسرسی
- د استعمال لاندې خدمتونه، په ځانګړې توګه د مخنیوي خدمتونه
- د روغتیايي علاج د خدمت د معیار د کچو نابرابری
- په ځینو ولایتونو کې امنیتي ستونځې چې روغتیايي علاج ته د خوندي لاسرسي مخنیوی کوي
- غریبو کورنیو ته د کم لګښت د روغتیايي علاج د رسولو لپاره محدود انفراسټرکچر
- د خصوصي سکټور د دوایانو د قانون او ملاتړ لپاره محدود انفراسټرکچر



**د یو افغان سړي** په یوه طبي مرکز کې (ایم اي ډي سي ای پي) کې علاج کېږي. (د امریکایي میرینز ځواکونو انځور).

د افغانستان جمهوري دولت په هغو مشخصو ننګونو تمرکز کوي چې په ای این ډي ایس کې تشریح شوې دي. په هغو کې شامل دي د ۲۰۰۰ کال د کچو څخه په زېږون کې د ښځو د مړینې ۱۵% کموالی، د ۵ کالو نه کمو ماشومانو په مړینه کې ۲۰% کموالی، او د تي د ماشومانو په مړینه کې ۲۰% کموالی.[412]

یو ایس ای ایي ډي راپور ورکوي چې د دې درېو اهدافو څخه دوه (د پنځو کالو نه کمو ماشومانو او د تي د ماشومانو په مړینه کې د کموالي اهداف) ترلاسه شوي دي،[413] او د افغانانو عمومي روغتیايي حالتونه بهتر‌ېږي.[414] د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۷ ترمنځ موده کې د تي بې د معلومولو شرحه دوه برابره شوې ده (په ۲۰۰۱ کې د ۲۹% نه په ۲۰۰۷ کې ۶٤% ته).[415] چوکاټ ۳.۱۲ د پرمختیا ځینې ښودونکي ښیي.

یو ای ایس ایي ډي راپور ورکوي چې د افغانستان ټول ولایتونه اوس مهال روغتیايي علاج ته لاسرسی لري؛ خو، ځینې کلیوالي سیمې اوس هم د طبي مرکزونو څخه د دوو څخه تر څلورو ساعتونو په مزل لیرې دي. روغتیايي علاج ته د لاسرسي لپاره د سفر په نړیواله توګه منل شوی مناسب واټن دوه ساعته او یا کم دی.[416]

چوکاټ ۳.۱۳ هغه طریقې انځوروي چې یو ایس ای ایي ډي پکې د روغتیايي علاج د سکټور په پرمختیا کې مرسته کوي.

د یو ایس ای ایي ډي پر پروژو برسېره، د افغانستان د روغتیايي علاج سکټور د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو د محکمې (ایچ ایچ ایس) او د دفاع د محکمې څخه مرسته ترلاسه کوي. د روغتیايي علاج اضافي بودیجه د نړیوال بانک، د اروپایي کمیسیون، د جاپان د نړیوالي همکارۍ د اداري (جي ایي سي ای)، د فرانسې د حکومت، د اسیايي پرمختیايي بانک، د ایټالیې د حکومت، د شخصي بودیجو د نادولتي ادارو (نادولتي موسسو)، او نورو نړیوالو حکومتونو لخوا د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو له لارې ترلاسه کېږي.[417] د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره په دې برخه کې د پي ار ټي د بحث برخه وګورئ.

**د جاپان د نړیوالي همکارۍ اداره (جي ایي سي ای):** یوه نړیواله پرمختیايي ډله ده چې د پرمخ تلونکیو هېوادونو سره کار کوي په ګډون د میکسیکو، پاکستان، ترکیې، او افغانستان.[418]

**اسیايي پرمختیايي بانک:** یوه نړیواله پرمختیايي مالي اداره ده چې په اسیا او سمندري جزیرو کې د غربت د ختمولو او د ژوند د معیار د ښه کولو د پروګرامونو ملاتړ کوي.[419]

TABLE 3.12

**په افغانستان کې د روغتیايي علاج د پرمختیا ښودونکي**

| د ای این ډي ایس د هدف | د پرمختیا ښودونکی د جولای ۲۰۰۹ سره سم |
|---|---|
| د ۲۰۰۳ (شمسي کال ۱۹۸۲) او ۲۰۱۵ (شمسي کال ۱۳۹٤) ترمنځ به د ۵ کالو نه کم عمره ماشومانو مړینه ۵۰% کمه شي. | تر ۵ کالو کم عمره ماشومانو مړینه ۲۶% کمه شوې (۱۹۱) مړینه په هر ۱،۰۰۰ ژوندي پیدا کېدو کې. |
| تر مارچ ۲۰۱۰ (د شمسي کال ۱۳۸۹ تر پای) د تي د ماشومانو مړینه به ۲۰% کمه شي. | د تي د ماشومانو مړینه ۲۲% کمه شوې (۱۲۹) مرګونه په هر ۱،۰۰۰ ژوندي پیدا کېدو کې. |
| تر مارچ ۲۰۱۰ (د شمسي کال ۱۳۸۹ تر پای) به ۹۰% افغانان علاج معالجې ته لاسرسی ولري. | تر ۸۰% زیات افغانان علاج معالجې ته لاسرسی لري، په پرتله د ۸% په ۲۰۰۲ کې. |
| تر مارچ ۲۰۱۰ (د شمسي کال ۱۳۸۹ تر پای) به ۱۰۰% تر ۵ کالو کم عمره ماشومان د هغو مرضونو لپاره واکسین شوي وي چې په واکسینو یې مخنیوی کېږي. | تر ۹۰% زیاتو تر ۵ کالو کم عمره ماشومانو ته د ګوزڼ واکسین شوي دي. |

سرچینې: د افغانستان جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختیايي ستراتیژي،" ۲۰۰۸\۱۲، مخونه ۱۱۱-۱۱۲؛ یو ایس ای ایي ډي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۰۹\۲\۷؛ د سیګار تجربې ته د یو ایس ای ایي ډي ځواب، ۲۰۰۹\۱۶\۷؛ یو ایس ای ایي ډي، "یو ایس ای ایي ډي: افغانستان،" www.usaid.gov، په ۲۰۰۹\۹\۱۶ وکتل شو.

چوکاټ ۳.۱۳

**په افغانستان کې د روغتيايي علاج د پروګرامونو لپاره د يو ايس ای ايي ډي روانه مرسته**

| د فعاليت | تشريح | اټکل شوی پيل – بشپړول نېټې |
|---|---|---|
| د ګوزڼ د ختمولو پروژه | يو ايس ای ايي ډي د يونيسيف د ګوزڼ د ختمولو د پروژې مرسته کوي، کومه چې د واکسينو په ملي ورځ دروازه په دروازه ګرځي. دا پروژه روانه ده. په ۲۰۰٦ کې، د ۷ مليونو نه زياتو ماشومانو د ګوزڼ واکسين وشول. | رواني |
| د خصوصي روغتيايي علاج لپاره د ظرفيت پرمختيا | يو ايس ای ايي ډي د چلند د بدلون لپاره د ارتباط ملاتړ کوي: د خصوصي سکټور د روغتيايي توليداتو او په افغانستان کې د خدمتونو (سي او ايم پي ار ايي-ای) پروژه، کومه چې د عامه معلوماتو له لارې روغتيايي علاج زياتوي د روغتيايي علاج او د ماشوم د بقا لپاره بيا توليد ته د لاسرسي زياتول، او د خصوصي او عامه روغتيايي خدمتونو ترمنځ انسجام. | 3/2010–2/2006 |
| تخنيکي خدمت | د يو ايس ای ايي ډي د "تخنيکي خدمت" د عامې روغتيا د سمبالښت د معلوماتو د سيستم د ښه کولو لپاره کار کوي. د پروګرام د عامې روغتيا د وزارت سره د روغتيايي کلينکونو په نظارت کې مرسته کوي او د هغو دوايانو په اخيستلو او رسولو کې خدمت کوي چې د ۳۵۰ نه زياتو روغتيايي کلينکونو او ۳۸۰۰ روغتيايي مرکزونو لخوا کارول کېږي. | 6/2010–7/2006 |
| د روغتيايي خدمتونو د ملاتړ پروژه (ايچ ايس ايس پي) | ايچ ايس ايس پي د نادولتي ادارو (موسسو) سره د هغو خدمتونو په تطبيقولو کې مرسته کوي چې د افغانستان د روغتيايي کلينکونو سمبالښت بهتر کړي. د پروژې په هدفونو شامل دي د هغو سيستمونو بهترول چې د خدمت د رسولو د معيار مرسته کوي؛ د روغتيايي علاج د وړاندې کوونکيو شمېر زياتوي. په ځانګړې توګه په کليوالو او ناټاکل شويو سيمو کې د ښځو لپاره؛ او په افغان کورنيو او ټولنو کې د روغتيايي علاج په اړه د مثبت چلند مرسته کول. | 9/2010–7/2006 |

سرچينه: يو ايس ای ايي ډي، "پروګرامونه: روغتيا،" http://afghanistan.usaid.gov، په ۲۰۰۹/۱۳/۱۷ وکتل شو.

## ټرانسپورټيشن

د ټرانسپورټيشن مرکزي هدف چې د ای اين ډي ايس لخوا تشريح شوی لازمي کوي چې افغانستان د هېواد دننه د ټرانسپورټيشن يوه محفوظه، مربوطه شبکه جوړه او وساتي. د ټرانسپورټيشن سيستم بايد د کم لګښت وي او ښه اعتباري وي څو د خلکو او سامانونو لېږد تشويق کړي. ای اين ډي ايس همداراز د افغانستان ټرون څخه د ټرانسپورټيشن درې مهم هدفونه خپل کړي دي:[420]

- حلقه يي سرک: د شمسي کال ۱۳۸۷ (۲۰۰۸-۲۰۰۹) پورې په ټول افغانستان کې د سرک يو ښه ساتل شوی، عصري سيستم، په ګډون د هغو مربوطوونکو سرکونو چې د هېواد نه بهر ووځي، او د سرکونو د ساتلو يو دوامداره سيستم
- د هوايي ډګر بيا رغونه: د کال ۱۳۸۹ (۲۰۱۰-۲۰۱۱) پورې د کابل نړيوال هوايي ډګر او د هرات هوايي ډګر سره د سمون لپاره بشپړ نړيوال ملکي هوايي سازمان، او همداراز د رن وی جوړول او پورته کول
- د سرحد سمبالښت: د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰-۲۰۱۱) پورې د ګاونډيو هېوادونو سره د تجارت او لېږد رالېږد يو شمېر ټړونونه، چې د افغانستان او سرحدي ملتونو ترمنځ تګ راتګ اسان کړي



**د کابل-کندهار په سرک** چې د حلقه يي سرک برخه ده، کار کېږي. (د يو ايس ای ايي ډي انځور)

يو ايس ای ايي ډي د حلقه يي سرک د پروژې نظارت کوي، کوم چې د افغانستان د سرکونو د سيستم په بيا جوړولو کار کوي. کله چې دا پروژه بشپړه شي، نو تقريباً ٦٠% افغانان به د حلقه يي سرک نه ٥٠ کيلوميټره په واټن کې اوسېږي.[421] تر سپتمبر ۲۰۰۸ پورې، د ۱٦٥۰ ميله نه زيات سرک د يو ايس ای ايي ډي په مرسته بيا رغول شوي يا کتل شوي دي.[422] د يو ايس ای ايي ډي له مخې، د ملي حلقه يي سرک د سيستم د مرستې لپاره د لاندې ورکړو ژمنه شوې وه:[423]

- جاپان: د ۱۱٦ کيلوميټره لپاره بوديجې ورکول
- سعودي عربيه: ۱۱٥ کيلوميټره لپاره بوديجې ورکول
- متحده ايالات: د ۳۲٦ کيلوميټره لپاره بوديجې او امنيت، له ماينونو پاکول، ډيزاين، او د سعودي عربيه د ۱۱٥ کيلوميټره سرک د بيا رغونې سمبالښت

هلمند ولايت
د بست د هوايي مېدان ځای



سرچينه: يو اين او ډي سي، "د مخدره موادو نړيوال راپور 2009"، 2009\24\6

## په افغانستان کې طبعي ګاز

**د ۱۹٦۷ او ۱۹۸۹ ترمنځ، د طبعي ګاز خرڅلاو د تقريباً ۳۰۰ مليونه ډالرو د صادراتو د کلني عايد په توګه تشريح شوي - شاوخوا ۵٦% د افغانستان د ټولو صادراتو؛ خو، د دې عايد تقريباً ۹۰% شوروي اتحاد ته د وارداتو د لګښتونو او پور ورکولو کې کارول شوي وو. په ۱۹۸۹ کې، کله چې شوروي پوځونه د افغانستان نه ووتل، د طبعي ګاز پټي بند کړای شول څو د مجاهدينو لخوا يې د خرابولو مخنيوی وشي. په جنوري ۲۰۰۹ کې د يو ايس ای ايي ډي د راپور له مخې، د شوروي اتحاد په ړنګېدو پسې سيمييزې بې ثباتۍ او د تجارتي شريکوالو د لاسه ورکولو دا د افغانستان لپاره ګرانه کړې چې دغه پټې بيا فعال کړي.**

په جون ۲۰۰۹ کې، د بست هوايي مېدان په جنوبي افغانستان کې د يوائينې تجارتي هوايي مېدان په توګه پرانيستل شو. د بست هوايي ډګر چې د هلمند په ولايت کې موقعيت لري په اوږدوالي کې ۲،۰۰۰ ميټره دی او په اساسي ډول به سپکې الوتکې پرې کوزېږي؛ تر دې مخکې دا د يو نظامي هوايي ډګر په توګه کارول کېده. تمه کېدله چې د سپرليو تجارتي الوتکې به د بست هوايي ډګر په جولای ۲۰۰۹ کې کارول پيل کړي. دا هوايي ډګر د يو ايس ای ايي ډي لخوا د افغانستان د ترانسپورت او ملکي هوانوردۍ (ايم او ټي سي ای) د وزارت په ملګرتيا جوړ شوی دی.[424] د ۲۰۰۸ کال سره سم، افغانستان ۵۰ هوايي ډګرونه لرل، په ګډون د ۱٤ هغو چې رن ويز يې پخې شوي او ۳٦ هغو چې رن ويز يې نه دي پخې شوې.[425]

## د صنعت زياتېدل

د افغانستان د صنعت اساسي بنسټ پر زراعت دی. د فصلونو د پرله پسې توليد برسېره، افغانستان د خوړو فصلونه د تجارتي استعمال لپاره هم کوي، په ګډون د غنمو، انګورو، شفتالانو، او انارو، او صنعتي فصلونه، په ګډون د پومبې، تماکو، madder، د castor دانې، او د بورې بوټي. افغانستان همداراز ډېرې طبعي زيرمې لري لکه طبعي ګاز، پټرول، کوله (سکاره)، او مِس؛ خو، د هېواد بې ثباتۍ او ګرانو غرنيو لارو د دې سرچينو څخه کار اخيستل مشکل کړي دي.[426]

## زراعت

د افغانستان مرکزي زراعتي هدف، څرنګه چې په ای اين ډي ايس کې تعريف شوی، په دې سکټور کې پرمختيا د دې لپاره کارول دي چې د کليوالو غريبو سيمو د خلکو لپاره د ژوند ښې موقعې برابرې کړای شي.[427] د يو اټکل له مخې ۸۰% افغانان خپل ژوند په بزګرۍ او څاروو څرولو تېروي. د افغانستان تقريباً ۱۲% ځمکه د بزګرۍ وړ ده خو يوازې ٦% دا مهال کرل کېږي.[428]

ای اين ډي ايس د زراعت د سکټور د پرمختيا لپاره يوه دوه برخيزه ستراتيژي وړاندې کوي: د هراړخيز زراعت او د کليو د پرمختيا (سي ای ار ډي) اقدام، او د زراعت او کليو د پرمختيا زون (ای ار ډي زيډ). د سي ای ار ډي د اقدام تمرکز د نويو اقتصادي مواقعو د پيدا کولو له لارې د غربت کمول دي[429] او د بزګرانو او زراعتي تجارت په توانولو سره د خصوصي سکټور پرمختيا.[430] د سي ای ار ډي لومړيتوبونه، د سيمييزو اړتياو په اتکاء، مختلف دي، خو عمومي سوچ د افغانستان تر ټولو وروسته پاتې او کمزورې برخې يانې کليواليو غريبو سيمو مرسته کول دي. ای ار ډي زيډ د افغانستان د جمهوري حکومت هغه ستراتيژي وړاندې کوي چې د زراعتي توليداتو د بهترولو لپاره د تجارتي فعاليتونو پراخول دي.[431]

متحده ايالات د زراعتي پرمختيا د بهترولو لپاره د ولايتونو د هڅو لپاره مرسته برابروي. په اپريل ۲۰۰۹ کې، د هلمند د زراعتي مرکز رغول پيل شو، دا د زراعتي تجارت يو صنعتي پارک دی چې د يو ايس ای ايي ډي لخوا يې مرسته کېږي. تمه کېږي چې په جنوبي ولايت هلمند کې دا مرکز به د جوړولو، پروسې، خدمتونو او د ځای د انتظام په برخه کې تقريباً ۲،۵۰۰ کسانو ته وظيفې برابر کړي.[432]

## وچکالي

د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ په ژمي کې د نورمال سطحې نه کښته بارانونه او واورې په افغانستان کې د سختې وچکالۍ سبب شو. دې وچکالۍ د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال د غنمو ترلاسه کول اغېزمن کړل، چې له امله يې د تېر کال څخه د غنمو توليد ۵۵% او د وربشو توليد ۶۷% ټيټ شو.[433] د بيو د لوړوالي د کمولو لپاره د ملګرو ملتونو او د افغانستان د جمهوري دولت د هڅو باوجود د متحده اياالاتو د زراعت محکمې (يو ايس ډي ای) راپور ورکړ چې د غنمو بيه د هغه نورمال کچ څخه چې عموماً په افغانستان کې وي ۲۰۰% لوړه شوه.[434]

هر څو که افغانستان د غنمو د کمبود د پوره کولو لپاره مختلف ډوله بشپړ زراعتي اقتصاد لري، خو يو ايس ای ايي ډي راپور ورکړ چې د غنمو د ښه توليد زيان دا اندېښنه پيدا کړه چې که غنمو ته لاسرسی ونشي ښايي چې عمومي ناکراري رامنځته شي. د راتلونکيو ولسمشريزو ټاکنو په پام کې نيولو سره د افغانستان جمهوري دولت او نړيوالو مرستندويانو د غنمو د توليد د زياتولو لپاره اضافي مرسته برابره کړه. يو ايس ای ايي ډي په افغانستان کې د توليد د زياتولو لپاره د ۶۰ مليونه ډالرو زراعتي مراعات برابر کړل. اټکلونه ښيي چې د غنمو راتلونکی فصل به په تېرو دېرشو کلونو کې تر ټولو ښه وي.[435]

## معدنونه


لوګر ولايت
د عينک مسو د معدن ځای

سرچينه: يو اين او ډي سي، "د مخدره موادو نړيوال راپور 2009،" 2009\24\6

د معدنونو د سکټور لپاره د ای اين ډي ايس هدف خصوصي پانګه او پرمختيا تشويقول دي. د معدنونو د صنعت د زياتېدو په متوقع پايلو کې شامل دي دولتي عايد زياتېدل او د روزګار مواقع بهترېدل. اداري خصوصي کولو ته د هڅولو لپاره ای اين ډي ايس تمه لري چې د افغانستان د معادنو وزارت به د توليداتو د توليدوونکي څخه د خصوصي صنعت نظارت کوونکي ته انتقال شي.[436] خو، د جولای ۸، ۲۰۰۹ سره سم، دې وزارت بيا هم خپل ځان "د معدنونو او هايدروکاربنونو په تحقيق، رابرسېره کولو، پرمختيا، کارولو او پروسه" کې د بوخت په توګه تشريح کړ.[437]

په مئ ۲۰۰۸ کې د معادنو وزارت چين سره د عينک د مس د ايستلو لپاره يو تړون لاسليک کړ. وزارت د خبرو اترو له لارې په دې وتوانېده چې چين ته باور ورکړي چې، په ځای د دې چې خام مواد د پروسې لپاره چين ته يوسي، د دې د رابرسېره کولو، کارولو، پروسې، ويلې کولو او د استعمالولو چارې د افغانستان د سرحدونو دننه ترسره کړي. د معدنونو د وزارت له مخې دا تړون به مهارتونه د هېواد دننه وساتي او د معدن په ولايت (لوګر) کې به انفراسټرکچر زيات کړي، چې دا به په دغه ولايت کې د ابتدايي او منځنيو ښوونځيو او سيمييزو بازارونو پرمختيا پر مخ بوځي.[438] ای اين ډي ايس وايي چې دا د معدنونو د وزارت لپاره مهمه ده چې د عينک مسو تړون د معدنونو په سکټور کې د نورو پانګو د ترلاسه کولو لپاره وکاروي.[439]

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای اين ډي ايس)




## مخدره موادو سره مبارزه

ای اين ډي ايس مخدره موادو سره مبارزه د يوې مهمې مسئلې په توګه پېژني، په دې مانا چې دا د بيا رغونې په ټولو درېو ستنو کې مداخله کوي: چې هغه امنيت؛ دولتداري، د قانون حاکميت، او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا دي. د مخدره موادو سره د مبارزې پروګرامونه دې څلورو هدفونو ته د ودې ورکولو لپاره جوړ شوي دي:[440]

- د مخدره مواو کاروبار ختمول
- په کليوالو سيمو کې د ژوند د قانوني چارو پياوړي کول او زياتول دي
- د ناقانونه درملو د غوښتنې کمول او د نشه يي توکيو د کاروونکيو او روږدو کسانو علاج بهترول
- د مخدره موادو پر ضد جګړې کولو لپاره د دولتي ادارو پياوړي کول

د متحده ايالاتو د حکومت د احتساب د دفتر (جي ای او) له مخې، "د مخدره موادو کاروبار د افغانستان د حکومت لخوا د سياسي ثبات، اقتصادي پرمختګ، د قانون د حاکميت او د داخلي امنيت د ستونځو د حل کولو لپاره د دې د ظرفيت د جوړولو د هڅو تقريباً هر اړخ کمزوری کړی دی."[441] ناقانونه قاچاق هم د طالبانو او نورو حکومت ضد عناصرو لپاره بوديجې برابروي.[442] افغانستان اوس هم د کوکنارو د کرلو له لارې د نړۍ تر ۹۰% زيات اپيم پيدا کوي.[443] کوکنار د اپيمو ذريعه ده، او دا د هيروينو او ګڼ شمېرو نورو نشو، په ګډون د مورفين، د جوړولو مهم توکی دی.[444]

د ۲۰۰۸ سره سم، تقريباً ۲.٤ مليونه افغانان – ياني د افغانستان د ابادۍ تقريباً ۱۰% - د اپيمو په توليد کې بوخت وو.[445]

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د محکمې (ډي او ايس) د مخدره موادو او د قانون د نفاذ نړيوال دفتر (ايي اين ايل) له مخې، که اپيم يو قانوني توليد وی، نو دا به د افغانستان د ۲۰۰۸ کال تقريباً ۷% جي ډي پي وای - چې دا د ۲۰۰۷ (۱۲%) څخه يو مهم ټيټوالی دی.[446] چوکاټ ۳.۱٤ په تېرو دريو کلونو کې د اپيمو د کر په ځای کې په ارزښت کې بدلون ښيي.

د فارم د دروازې ارزښت: د توليد مخکې له وړل کېدو، يا د فارم په دروازه کې بيې ته اشاره کوي.

يو هکتار: تقريباً د ځمکې د ۲.٤۷۱ ايکړو برابر دی.[450]

د کوکنارو تقريباً ۹۸% کر په جنوبي ولايتونو کې کېږي چېرته چې طالبان او ياغيان اوس هم پياوړي دي.[447] د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جنايي جرمونو دفتر (يو اين او ډي سي) اټکل کوي چې په ۲۰۰۹ کې به د افغانستان ۲۲ ولايتونه د "کوکنارو څخه پاک" وي - چې دا به د ۲۰۰۸ په اټکل کې د څلورو ولايتونو (بدخشان، بغلان، فارياب، او هرات) زياتېدل وي.[448] يو ولايت ته "د کوکنارو څخه پاک" هله ويل کېږي چې د ۱۰۰ هکتاره څخه کمه ځمکه باندې يې اپيم کرل شوي وي.[449] انځور ۳.٤۵ د افغانستان په ټولو ولايتونو کې د کوکنارو کر ښيي.

**د ايي اين اي له مخې، په افغانستان کې د اپيمو قانوني فارمونه نشته.[451]**

چوکاټ ۳.۱٤

**د افغانستان د جي ډي پي په تړاو د اپيمو توليد**

| کال | روا جي تي پي ټول | د اپيمو د کر په ځای کې ارزښت کال | د کر په ځای کې ارزښت د جي ډي پي د فيصدي په حساب |
|---|---|---|---|
| 2008 | $10.2 مليونونه | $730 مليونونه | 7% |
| 2007 | $8.2 ملياره | $1.0 ملياره | 12% |
| 2006 | $6.9 ملياره | $0.76 ملياره | 11% |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۲\۱۷.

انځور ۳.٤۵

د اپيمو د کر کچې د ولايت په تناسب




سرچينه: يو اين او ډي سي، "د مخدره موادو نړيوال راپور 2009، " 6\24\2009، مخ. 191.

انځور ۳.٤٤

د افغانستان د کوکنارو توليد په کال
(په زرګونو هکتاره)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي او د ملګرو ملتونو اټکلونه دي.

سرچينه: يو اين او ډي سي، "د مخدره موادو نړيوال راپور،" 6\24\2009.

په ۲۰۰۸ کې، د يو اين او ډي سي د راپور له مخې، په افغانستان کې د اپيمو توليد د تېر کال په نسبت ۱۹% ټيټ شو.[452] انځور ۳.٤٤ د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۸ ترمنځ د اپيمو توليد کال په کال انځوروي.

## د مخدره موادو پر ضد مبارزه کې د متحده ايالاتو هڅې

د جولای ۲، ۲۰۰۹ سره سم، متحده ايالات په افغانستان کې د مخدره موادو پر ضد مبارزه کې په نړيوال کچ تر ټولو زياتې نبضې پرېښې دي.[453] په مالي کال ۲۰۰۹ کې، متحده ايالاتو د افغانستان د مخدره موادو پر وړاندې مبارزې لپاره تقريباً د ۱۷۲ مليونه ډالرو مرسته پراخه کړې ده.[454]

### بديل پرمختيايي پروګرامونه

د ايي اين ايل له مخې، بديل پرمختيايي پروګرامونه د کوکنارو د توليد څخه بهر عامه اقتصادي او سياسي وضعه بهترې ته وهڅوي، يا د بديلو فصلونو د توليد له لارې او يا د غير زراعتي زيار له لارې.[455] يو ايس ای ايي ډي راپور ورکړی چې پرته له فارمونو د وظيفو ترلاسه کېدنه او د قانوني فصلونو د خرڅولو مواقع به دا امکان زيات کړي چې بزګر خپله مخه د کوکنارو له کرلو واړوي.[456]

تقريباً ۸.۵ مليونه ډالر ايي اين ايل ته د بديل معيشت د پروګرامونو د پرمختيا لپاره ټېل شوي دي. ايي اين ايل تقريباً دغه ټولې بوديجې (۸.۴۵ مليونه) لګولې دي.[457] د دغو پروګرامونو ځينې د دې لپاره جوړ شوي وو چې د بديل معيشت پرمختيا تشويق کړي په ګډون د:[458]

- د باغونو او نورو مستقيمو فصلونو پرمختيا
- د سړکونو پرمختيا ځو کليوالي سيمې بازارونو ته لاسرسى ولري
- فصلونو لپاره د سټور کولو بهترو اسانتياو ته لاسرسى
- په سړکونو د فساد ضد هڅو لا زيات تنفيذ
- د زراعت د بهرنۍ پروسې پراخول (د بېلګې په توګه، د غلې ميلونه چې د غنمو نه اوړه جوړ کړي)
- د زراعتي تکنالوژۍ پرمختيا (د بېلګې په توګه، د فصلونو حفاظتي کورونه د فصلونو د موسمونو د زياتولو لپاره

چوکاټ ۳.۱۵ هغه سيمييز کار تشريح کوي چې يو ايس ای ايي ډي د بديل معيشت پرمختيا ته د ودې ورکولو لپاره ترسره کړی دی.

يو ايس ای ايي ډي د بديل معيشت د پرمختيا يو نوی پروګرام تطبيقوي چې نوم يې دی هغه ښېګڼې چې د شمال، ختيځ، او لويديځ لپاره اقتصادي بديل معيشت راولي (ايي ډي اي اى اين اي ډبليو). دا پروګرام به په شمال او ختيځ کې د بديل معيشت د پرمختيايي پروګرامونو ځای ونيسي. يو ايس ای ايي ډي راپور ورکړی چې تمه کېږي ايي ډي اي اى اين اي ډبليو به ختيځ کې "د کوکنارو پر وړاندې کمزورو ولايتونو" باندې تمرکز وکړي. په جنوبي ولايتونو کې د بديل معيشت د پرمختيا يو جلا پروګرام کار کوي، کوم چې په جولای ۲۰۰۹ کې اضافي

**د مخدره موادو په توليد کې د کوکنارو رول**

**تقريباً يوه اونۍ وروسته له هغې چې کوکنار خپلې د ګلونو پاڼې له لاسه ورکړي، د ګلونو د تخمونو په خانو کې يوه ماده پيدا کېږي؛ دا ماده د اپيمو ماده ده. دا ماده وچېدو ته پرېښودل کېږي (چې جاوله اپيم ترې جوړ شي) او بيا د منځ په يو تن او يا نبغ په نبغه په قاچاقبر خرڅول کېږي، څوک چې دا په کيمياوي موادو کې ګډوي او اپيم، مورفين (يا خام او يا يو څه پاک شوي)، هيروين، يا سپين هيروين (د هايډروکلورايډ هيروين) ترې جوړوي. د مخدره موادو توليد په زياتېدونکې ډول په هېواد کې ترسره کېږي.[460]**

چوکاټ ۳.۱۵

**د مخدره موادو پر وړاندې مبارزې لپاره د يو ايس ای ايي ډي سيمييزو پروګرامونه**

| د يو ايس ای ايي ډي سيمييز پروګرام | د يو ايس ای ايي ډي د پروګرام تشريح | د فعاليت نېټې | حالت |
|---|---|---|---|
| د شمال د بديل معيشت د پرمختيا پروګرام (اى ډي پي شمال) | د دې لپاره کار کړی چې د سيمې اقتصاد له ناروا ځخه روا زراعت ته بدل کړي د اپيمو د اوسني او مهم توليد د مرستې له لارې کمول جوړوونکي او تولني. د يو ايس ای ايي ډي ټيم په درېو مرکزي اجزاؤ تمرکز وکړ: پيسې-د-کار-لپاره، د دوام لرونکيو کاروبارونو جوړول او ملاتړ يې (د کر په ځای کې توليد، د زراعت د پروسې کاروبارونه، او د بازار ملاتړ)، او په هدف سيمو کې د انفراسټرکچر (سړکونو، پولچکونو، د اوبه خور سيسټمونو، شخصي\عامه اداري ملاتړ او ظرفيت جوړولو، او کاروباري خدمتونو په بهترولو سره) د بانکي چاپېريال پراخول. دې پروګرام د پروژې په فعاليتونو کې د ښځو شاملولو ته ځانګړی پام کړی دی. | ۲۰۰۵-فبرورى ۲۰۰۹ | بشپړ |
| د شمال لويديځ د بديل معيشت د پرمختيا پروګرام | دى هدف لري چې د بلخ، جوزجان او فراه ولايت اقتصادي اتکاء ختمه کړي او غور د کوکنارو په توليد، پروسه، او تجارت. د دې پروګرام له لارې، يو ايس ايي ډي هيله لري د ټولنو سره مرسته وکړي چې له قانوني لارو د روزګار دوامداره موقعې پيدا کړي. د پروګرام په متوقع هدفونو کې شامل دي د ځمکې نه لرونکيو مزدورانو، غريبو کونډو او نورو هغو خلکو لپاره چې د اپيمو د توليد، پروسې، او تجارت په وړاندې کمزوري دي، لپاره د روزګار د سيمييزو مواقعو په زياتولو سره د انفراسټرکچر بهترول؛ او د داسې ډلو لپاره مواقع زياتول چې سيمييز کاروبارونه پيل کړي يا وغخوي؛ د سيمييزو کاروبارونو د زياتولو لپاره کار وکړي؛ او يا د بازارموندنې، پروسې، او کاروباري پرمختيايي بهترونو له لارې د زراعت او يا بل پياوړی عايد پيدا کړي. | 2010–2008 | روان |

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۱۲\۷؛ د سيګار د تجربې لپاره د يو ايس ای ايي ډي ځواب، ۲۰۰۹\۱۲\۷.

په بل مخ جاري دی

چوکاټ ۳.۱۵ (جاري)

| د مخدره موادو پر وړاندې مبارزې لپاره د يو ايس ای ايي ډي سيمييزو پروګرامونه | | | |
|---|---|---|---|
| **د يو ايس ای ايي ډي سيمييز پروګرام** | **د يو ايس ای ايي ډي د پروګرام تشريح** | **د فعاليت نېټې** | **حالت** |
| د ختيځ د بديل معيشت پرمختيايي پروګرام | د مخ پر تېزې سيمييز اقتصاد د زياتولو لپاره يې مرسته برابره کړې او د ننګرهار، لغمان، کونړ، او نورستان په ولايتونو کې د هغو لپاره د بديلو ګټو سرچيني چې اتکاء يې يې د اپيمو په توليد ده.يو ايس ای ايي ډي راپور ورکړ چې دې پروګرام خپلو  اهدافو ته د باغونو د بوټو، د څاروو، د مستقيمو فصلونو، د کاروباري خدمتونو، د جنس او کوچنيو او ظرفيت لوړوونکيو افرادو سره په مرسته کولو خپلو اهدافو ته په په رسېدو کې پرمختګ کړی و. دې پروګرام په هغو پروګرامونو په جوړولو په ځانګړي ډول زور راوړ چې چلوونکي يې ښځې وې. | ۲۰۰۵-مارچ ۲۰۰۹* پروګرام غځول شوی و* جون ۲۰۰۹ ته څو د هغه نوي پروګرام سره يو ځای واوړي چې په مارچ ۲۰۰۹ کې پيل شوی و. | بشپړ |
| د جنوبي سيمې لپاره د بديل معيشت پرمختيايي پروګرام جنوبي سيمه | د جنوبي سيمې لپاره د بديل معيشت پرمختيايي پروګرام د هلمند، کندهار، او  ارزګان ولايتونو لپاره وړاندې کوي. يو ای ايس ايي ډي پلان لري چې ۳۰۰ کيلوميټره هغو بازار ته تلليو سرکونو بيا کار وکړي چې باجري پرې اچول شوې ده؛ ٤۰ کيلوميټره د تيرو سرکونه جوړ کړي؛ د ٦۵۰۰۰ هکتاره کرهنيزې ځمکې لپاره ۲۵۰ کيلوميټره اوبه خور د لښتي د بهتروني کار بشپړ کړي؛ د لښکرګاه برقي سټيشن جوړ کړي څو د ۸۰۰۰ کورنيو او کاروبارونو لپاره د برق لاسرسی بهتر کړي؛ د څاروو د علاج معالجې ١٤ يونټونه جوړ کړي؛ د خوراک تجارتي ملونه جوړ کړي؛ د ۲۰۰۰۰ نه په زياتو بزګرانو د څاروو خوراک وويشي او د ۳۰۰۰۰ نه زياتو بزګرانو لپاره د سبزيو تخمونه بهتر کړي؛ او بزګرانو او د هغوی دهقانانو او کارکوونکيو ته روزنه ورکړي. | ۲۰۰۵-۲۰۰۹ | روان |

سرچيني: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\|۲\|۷؛ د سيګار د تجربي معلوماتو ته د يو ايس ای ايي ډي ځواب، ۲۰۰۹\|١٦\|۷.

بوديجې ترلاسه کړي.[459]

د بديل معيشت د پرمختيا پروګرامونه د دې لپاره دي چې د اپيمو د کاروبار لپاره تشويقوونکو فاکټورونو باندې برى ومومي. په ځينو هغو لاملونو کې چې بزګران د نورو فصلونو په ځای کوکنار کرل غوره کوي دا شامل دي:[461]

- د کوکنارو ګټه په اسانی ترلاسه کېدل
- د توليد په اسانه خرڅېدل
- په اسانه ساتل (اپيم نه خرابېږي)



**د کوکنارو بوټي** د هلمند په ولايت کې وچېږي (د متحده ايالاتو د ميرينز د ځواک انځور، جيمس پورشويټز).

برسېره پر دې، د کوکنارو د فصلونو خطره کمه وي. وچکالي او چينجي دې فصلونو ته زيان نشي رسولی، او د مخدره موادو کاروبار کوونکيو د دوه طرفه يقين ټولنې منظمې کړې دي، ياني بزګرانو ته بيمه ورکوي که د کوکنارو د اړولو تيمونه يې فصلونه له منځه يوسي.[462] ايي اين ايل دې خبرې ته اشاره کوي چې ځينې بزګران پر بقا لرونکيو فصلونو برسېره اپيم خرڅوي - لامل يې دا دی چې اپيم خرڅول اسان او ډېر ګټور دي، دا بزګرانو ته اضافي رقم برابروي او د نورو فصلونو لپاره د هغوی توان ته زيان نه رسوي.[463]

د يو اين او ډي سي يوې مطالعې چې په جنوري ۲۰۰۹ کې خپره شوې وه د کوکنارو د کرلو اضافي تشويقي فاکټورونه هم پيژندلي دي. په سروی کې په افغانستان کې د کليو د مشرانو نه پوښتنه شوې چې د کوکنارو د کرلو لپاره خپل اساسي سببونه ووايي. يو اين او ډي سي راپور ورکړ چې تر ۵۰% زياتو کليوالو مشرانو لوړه بيه د خپل لامل په توګه وښودله.د کوکنارو منع کوونکي لاملونه په جلا جلا ځايونو کې مختلف وو. په جنوبي او لويديځ افغانستان کې چېرته چې د افغانستان ۹۸% اپيم کېږي، د غنمو مخ په بره بيه د کوکنارو د کرلو نه تر ټولو غټ منع کوونکی لامل و (د ۲۲% ځواب ورکوونکيو). په نورو سيمو کې، تر ۵۰% زياتو خلکو د دولتي چارواکيو لخوا فشار د منع کوونکي لامل په توګه وښوده.[464]

### عامه معلومات

د عامه معلوماتو د پروژو تمرکز افغانانو ته د مخدره موادو پر ضد مبارزې په اړه معلومات ورکول دي. د معلوماتو کمپاينونه او فعاليتونه د افغانستان د جمهوري دولت لخوا د متحده ايالاتو په ملاتړ سره ترسره کيږي.[465] چوکاټ ۳.۱۶ د ايي اين ايل د ځينو هغو پروژو خاکه ښيي چې د اپيمو توليد او خرڅول منع کوي.

### د کوکنارو له منځه وړل او اړول

د ايي اين ايل له مخې، د کوکنارو کر د دوو کلونو د ريکارډ توليد څخه وروسته په ۲۰۰۸ کې ۱۹% کم شو.[466] د اپيمو په کاروبار کې د ککړو کورنيو شمېر د بهرنيو چارو د محکمې د راپور له مخې ۲۸% کم شوی.[467] ايي اين ايل دا کموالی د يو شمېر مسئلو سره تړي، په ګډون د خراب موسم د شرايطو، د نورو فصلونو په مناسبت د اپيمو د ارزښت غورځېدل، او د دولتداری او امنيت بهترېدل.[468]

ايي اين ايل راپور ورکړی چې د کوکنارو د اړولو پروګرامونه (په کومو کې چې د کوکنارو پټي کنټل کيږي او له منځه وړل کيږي) به په ۲۰۰۹ کې ختم شي، او دغه سرچيني به په زراعت، په بندېزونو او د عامه معلوماتو په پروګرامونو تمرکز کړای شي. خو، متحده ايالات به د ښه کار د اقدام مرستې ته دوام ورکړي، کوم چې هغو ولايتي واليانو او حکومتونو ته مراعات ورکوي چې په خپلو سيمو کې د کوکنارو د کر په کمولو يا له منځه وړلو کې بريالي شوي دي.[469] متحده ايالات به د والي په مشرۍ اړولو (جي ايل اي) مرستې ته هم دوام ورکړي، کوم چې ولايتي حکومتونو ته د کوکنارو د اړولو لپاره پيسې ورکوي. د جي ايل اي پيسې ورکول د هغو کوکنارو د اړولو پر بنسټ دي چې تصديق يې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د وزارت او يو اين او ډي سي لخوا شوی وي. په ۲۰۰۹ کې ولايتي حکومتونو ته د يو هکتار تصديق شوي اړول شويو کوکنارو پر سر ۱۳۵ ډالر ورکړل شو دي. برتانيې هم د کوکنارو د اړولو د هڅو لپاره بوديجې ورکړې دي، او اوس يې هم ورکوي.[470]

چوکاټ ۳.۱۶

**په افغانستان کې د متحده ايالاتو د عامه معلوماتو پروژې**

| د پروګرام ډول | تشريح |
|---|---|
| نوی رسنۍ | د امريکا غږ (راډيو) سره په ملګرتيا کې دا پروګرام تقريباً ۱۳۰،۰۰۰ د ګرځنده تليفونونو کاروونکيو ته د مخدره موادو پر ضد پيغامونه، مشيني تليفونونه او تازه خبرونه لېږي. |
| نشرول | دا پروګرام هم د امريکا غږ (راډيو) سره په ملګرتيا کې د مخدره موادو پر وړاندې مبارزې په اړه په اونۍ کې دوه ځل د يو راډيويي پروګرام مرسته کوي. دا پروګرام په يو شمېر افغاني راډيويي چينلونو په دري او پښتو دواړو ژبو کې او همداراز د افغان تلويزيون په ځينو ځايونو کې نشرېږي. |
| نبغ په نبغه مبارزه | دا پروګرام د افغانستان په اوو ولايتونو (هلمند، فراه، کندهار، ارزګان، بلخ، بدخشان، او ننګرهار) کې د مخدره موادو پر ضد د مشاورتي ټيم (سي اين ای ټي) د اقداماتو ملاتړ کوي. د سي اين ای ټي هر ټيم د مخدره موادو ضد فعاليتونه تطبيقوي، په ګډون د ميانډې د مخدره موادو پر ضد (ايم ای ډي)، چې دا په نشه روږدو ښځو لپاره د ګنډلو پروژه ده، ښوونځيو ته ټګ او مقابلې، او د بزګرانو لپاره ورکشاپونه. |
| ژوندی تياتر | دا پروګرام د برابر لاسرسي د موسسې په مرسته فعاليت کوي. دا د مخدره موادو پر ضد ګرځنده تياتر برابروي، کوم چې د (پورته يادو شوو) سي اين ای ډي ولايتونو ترمنځ سفرونه کوي، په درځنو ژوندی تماشې ښيي او د ځوانانو لپاره ورکشاپونه ترسره کوي. |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۷.

يو اين او ډي سي راپور ورکړی چې په ۲۰۰۸ کې د کوکنارو کر تر ھغې زيات شو چې په نړۍ کې يې غوښتنه کېدله. په داسي حال کې چې اقتصادي شرايطو د بازار بيې ټيټې کړې دي، يو اين او ډي سي ګومان کوي چې د کوکنارو نه پيدا کېدونکو نشو (په ګډون د اپيمو، هيروينو، او مورفين) يوه غټه فيصدي د بازار نه پاتې کړای شوي او چيرته ساتل شوي دي. د کوکنارو د له منځه وړلو او اړولو د يوې برخې په توګه يو اين او ډي سي راپور ورکړی چې دا ساتل شوي نشې "د عامې روغتيا او نړيوال لپاره يو د وخت بم دی."[473]

## د افغانستان د مخدره موادو ضد هڅې

د مخدره موادو د قاچاق د پرله پسې ننګونو په ځواب کې افغانستان يوه د افغانستان د مخدره موادو د کنټرول ملي ستراتيژي په نامه ستراتيژي جوړه کړه کومه چې د پرمختيا په اتو برخو تمرکز لري:[474]

- عامه معلومات خلکو ته رسول
- د بديل معيشت پرمختيا
- د قانون تنفيذ
- د عدالت د سکټور اصلاح
- د غوښتنې کمول
- نړيواله او سيمييزه مبارزه
- د ادارو جوړول
- اړول

دا برخې د ای اين ډي ايس د امنيت؛ دولتداري، د قانون حاکميت، او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا د ستنو سره مربوطې دي.[475]

## د مخدره موادو ضد نړيوالې هڅې

ملګري ملتونه او برتانيه هم د مخدره موادو ضد هڅو غټ مرسته کوونکي دي.[476]

د بون د تړون سره په برابرۍ کې، برتانيې د مخدره موادو ضد هڅو کې تر کال ۲۰۰۶ پورې مشري کوله. په تېرو درېو کلونو کې برتانيې په افغانستان کې د قانون د حاکميت او د مخدره موادو ضد پروګرامونو ته تر ۴۸۰ مليونه ډالرو زيات برابر کړي دي. دې بوديجو د مخدره موادو په وزارت کې د ظرفيت د پرمختيا د پروګرامونو، د پروګرام د پلان او پرمختيا، او تجهيزاتو، په ګډون د تراکتورونو او د غنمو د تخم، کې مرسته کړې ده.[477]

ملګري ملتونه هم په افغانستان کې د مخدره موادو پر ضد ستر حضور لري، په ځانګړي ډول د يو اين او ډي سي له لارې. يو اين او ډي سي په جون ۲۴، ۲۰۰۹ خپل د ۲۰۰۹ کال "د مخدره موادو نړيوال راپور" خپور کړی دی.[478] په دې راپور کې تېر کال کې په افغانستان کې د پرمختګ په اړه اعداد و شمار ورکړل شوي دي.[479] د ۲۰۰۶ کال راهيسې، ايې اين ايل، يو اين او ډي سي ته په افغانستان کې د مخدره موادو ضد سره تړليو پروژو ته ۷.۹۴ مليونه ډالر ورکړي دي.[480]

## د ولايتي بيا رغوني ټيمونه (پي ار ټي)

د ولايتي بيا رغوني ټيمونه د دې لپاره جوړ شوي وو چې په حکومت کولو او افغانانو ته د مهمو عامه خدمتونو په رسولو کې د افغانستان د جمهوري حکومت د توان په زياتولو سره په افغانستان کې ثبات بهتر کړي.[481] د جولای ۲۰۰۹ سره سم، په افغانستان کې د ولايتي بيا رغوني ۲۶ ټيمونه وو، په کومو کې چې د ۱۲ انتظام د

د متحده ايالاتو تر انتظام لاندې د ولايتي بيا رغوني ټيمونه انتقالي اداري دي چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د مختلفو ادارو، لکه د بهرنيو چارو محکمه، د دفاع محکمه، او يو ايس ډي ای، ترمنځ د ډيلوماتي، اقتصادي، بيا رغونې او ياغيتوب ضد هڅو کې کارول کېږي.[471]

د متحده ايالاتو په مشرۍ ايتلاف په ۲۰۰۲ کې لومړني د ولايتي بيا رغوني ټيمونه د تلپاتې ازادۍ د عملياتو (او اي ايف) د برخې په توګه جوړ کړل. د ولايتي بيا رغوني ټيمونو په پيل کې په ټولو ولايتونو کې د امنيتي او بيا رغونې د هڅو او همداراز د سيمييزو خلکو ترمنځ د اعتماد او باور د پيدا کولو مرسته کوله. تر دغه وخته راپدېخوا په افغانستان کې د ولايتي بيا رغوني د ټيمونو مشن پراخ شوی او د سيمييز حکومت د عملياتو مرسته او د ټولنيزې پرمختيا بهترول پکې شامل شوي دي.[472]

متحده ایالاتو په لاس کې دی.[482] چوکاټ ۳.۱۷ په ټول هیواد کې د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو یوه عمومي کتنه وړاندې کوي.

نړيوال سوله ساتی ځواک (ایساف) په افغانستان کې د ولایتي بیا رغوني د ټولو ټیمونو د نظامي برخي نظارت کوي او لارښودنه ورته برابروي؛ خو، د ولایتي بیا رغوني د هر ټیم ملکي برخه، په ګډون د هغو ټیمونو چې انتظام یې د متحده ایالاتو په لاس کې دی، دا اختیار لري چې د خپل ولایتي ټیم د مرستي جوړښت او کچه پخپله جوړه کړي.[483]

د ولایتي بیا رغوني زیات ټیمونه د یو قوماندان او د بهرنیو چارو د محکمي، یو ایس ای ایي ډي، او یو ایس ډي ای د یو استازي څخه جوړ شوي دي.[484] د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو د فعالیتونو په بېلګو کې شامل دي د روانو پروژو او سیمییزو شرایطو پرمختیا، بیا رغونه، نظارت، او راپور ورکول.[485]

د ولایتي بیا رغوني ټیمونه د داسي اقداماتو مرسته کوي چې د سیمییزې پرمختیا ملاتړ کوي. د بېلګې په توګه، د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو یو مخ پر زیاتېدو شمېر په خپل ولایتي کار کې د زراعتي تجارت د پرمختیا ټیمونه (ای ډي ټي) شاملوي.[486] د ای ډي ټي غړي عموماً د متحده ایالاتو د ملي محافظینو د یونټ سرتېري وي، کوم چې زیاتره وخت د زراعتي ایالتونو څخه وي او په زراعت، څاروو، او د ملي سرچینو په کرنه کې تجربه لري. د ای ډي ټي غړي دا مهارتونه د کلیوالي پرمختیا په اقداماتو کې د مشورې لپاره کاروي. په ننګرهار ولایت کې، ای ډي ټي د تقریباً ۵.۶ ملیونه ډالرو د ارزښت تر ۷۰ زیاتي فعالي پروژې لري، په ګډون د:[487]

- د غنمو جرندي جوړولو
- د غنمو د نويو تخمونو معرفي کولو
- د کرل شويو سبزيانو او مېوو د شربت کولو او ډبو کې بندولو د فابريکو جوړول
- په شمسي توان د راختونکو فصلونو د ساتلو لپاره د يخ ساتلو د اسانتياو جوړول
- د څاروو د غوښي د پاکوالي ساتلو لپاره د ذبح کولو د مايکرو اسانتياو نظارت
- د څاروو لپاره روغتيايي کلينکونه چې تمرکز يې د څاروو د چينجيو پاکول وي
- د ځنګلونو د بيا کرلو د پروژو لپاره مشورې ورکول
- د فصلونو د حاصلاتو د تجارتي استعمال زياتول
- د کبانو د بچو ساتلو لپاره د يخو او تودو اوبو ډنډونه فعالول

چوکاټ ۳.۱۷

**د ولايتونو لخوا سمبالېدونکي د ولايتي بيا رغوني ټيمونه**

| د ولايتي بيا رغوني ټيمونو چلول په | هيواد |
|---|---|
| کاناډا | کندهار |
| چيک جمهوريت | لوګر |
| المان | بدخشان |
| المان | کندز |
| هنګري | بغلان |
| ايتاليا | هرات |
| ليتوانيا | غور |
| نيوزيلاند | باميان |
| ناروې | فارياب |
| سپين | بادغيس |
| سويډن | بلخ |
| هالند | ارزګان |
| ترکيه | وردک |
| برتانيه | هلمند |
| متحده ايالات | فراه |
| متحده ايالات | غزني |
| متحده ايالات | خوست |
| متحده ايالات | کونړ |
| متحده ايالات | لغمان |
| متحده ايالات | ننګرهار |
| متحده ايالات | نورستان |
| متحده ايالات | پکتيکا |
| متحده ايالات | پکتيا |
| متحده ايالات | پنجشېر |
| متحده ايالات | زابل |
| متحده ايالات، مرستندويه هڅي په پروان جنوبي | کوريا |

سرچينه: يو ايس ای ايي ډي، "د ولايتي بيا رغوني ټيمونه" وکتل شو په ۲۰۰۹/۱۱/۱۷؛ ايساف، "نړيوال سوله ساتونکي ځواک: حقيقتونه او شماري،" ۲۰۰۹/۱۰/۱۶

**د پکتیا د ولایتي بیا رغونې ټیم**

**د متحده ایالاتو د پوځ کپتان میګان اوکانر، چې د پکتیا د پي ار ټي د ملکي چارو د ټیم مشر دی، د ګردېز ښار ته د یو سفر پر مهال د یو نوي ولایتي زندان د جوړېدو په ځای کې د جوړېدو د پلانونو کتنه کوي. (د دفاع د محکمې انځور، فرېډ ډبلیو. بیکر دریم)**

# 4

# د نورو
# ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هره درې میاشتنۍ کې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی (سیګار) د نورو حکومتي ادارو نه د نظارت د هغو فعالیتونو په اړه چې بشپړ شوي د تازه حال او د د نظارت د هغو فعالیتونو شمېر غواړي چې اوسمهال روان دي. لاندې اداري دا مهال په افغانستان کې د نظارت فعالیتونه ترسره کوي او سیګار ته یې پایلې ورکوي:

- د دفاع د محکمې د دفتر عمومي پلټونکی (ډي او ډي او ایي جي)
- د بهرنیو چارو د محکمې د دفتر عمومي پلټونکی (ایس او ډي او ایي جي)
- د حکومت د احتساب دفتر (جي او ای)
- د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا د ادارې د دفتر عمومي پلټونکی (یو ایس ای ایي ډي او ایي جي)

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

چوکاټ ٤.١ د جون ٣٠، ٢٠٠٩ سره سم د نظارت د بشپړو شویو پروژو یو لیست درکوي. په دې درې میاشتنۍ کې شپږ پروژې بشپړې شوې دي.

**چوکاټ ٤.١**

**د جون ٣٠، ٢٠٠٩ سره سم د متحده ایالاتو د نورو ادارو لخوا د نظارت وروستي بشپړ شوي فعالیتونه**

| اداره | پروژې لمبر | د خپرېدو نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| د دفاع د محکمې د دفتر عمومي پلټونکی | D-2009-075 | 5/21/2009 | د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه پراو ٣-د هغو وسلو احتساب چې د افغانستان په ملي اردو ویشل شوې دي |
| د دفاع د محکمې د دفتر عمومي پلټونکی | D-2009-076 | 4/14/2009 | د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیچه پړاو ٣-د متحده ایالاتو د نظامي قول اردو د انجینیرانو د جاییدادونو احتساب |
| د حکومت د احتساب دفتر | GAO-09-615 | 5/18/2009 | نظامي عملیات: په افغانستان کې د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام د نظارت او بین الاداري ارتباط د بهترولو لپاره اړین اقدامات |
| د حکومت د احتساب دفتر | GAO-09-473SP | 4/21/2009 | افغانستان: د کانګرس د نظارت لپاره مهم موضوعات |
| یو ایس ای ایي ډي د عمومي پلټونکي دفتر | 5-306-09-004-P | 6/8/2009 | یو ایس ای ایي ډي\د افغانستان د ځمکو د حقوقو او اقتصادي بیا جوړښت پروژه |
| یو ایس ای ایي ډي د عمومي پلټونکي دفتر | 5-306-09-003-P | 5/11/2009 | یو ایس ای ایي ډي\د افغانستان په جنوبي او ختیځو سیمو کې د افغانستان د سیمییزې دولتدارۍ او د ټولنې د پرمختیا پروژې |

## روان نظارتونه

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، د نظارت ۲۲ فعالیتونه پر کار لګیا وو. دغه فعالیتونه د ادارو په مناسبت جلا کړای شوي دي. د دوی تعریفونه، څرنګه چې سیګار ته ورکړل شوي وو، ښکاري چې د دې راپور د تېرو برخو سره د برابر لپاره میکانکي بدلونونه لري: د تکراري بشپړو نومونو په ځای مخففات او لنډیزونه؛ معیاري غټ توري، د تورو ترمنځ کرښې، او غوره شوي هجې؛ او د حاضر ګرامري جوړښت په ځای د غایب کارول.

### د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر

په مئ ۲۰۰۹ کې، د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر، د دفاع د محکمې د غړي او د نظارت د مرکزي ادارو له طرفه، د قانوني ضرورت له مخې د جنوب لویدیځې اسیا لپاره د نظارت د جامع پلان اداري ته تازه حال ورکړ چې په هغې کې د مالي کال ۲۰۰۹ د قانوني ضرورت اضافي نظارت شامل وه.

د جنوب لویدیځې اسیا د نظارت په جامع پلان کې شامل دي د دفاع د محکمې، د بهرنیو چارو د محکمې، او د یو ایس ای ایي ډي د عمومي پلټونکیو انفرادي د نظارت پلانونه؛ د عراق د بیا رغوني لپاره عمومي پلټونکی؛ او سیګار. په دې کې همداراز د پوځ د پلټنې د اداري، د بحري پوځ د پلټنې، د هوایي ځواک د پلټنې د اداري، او د دفاع د قرارداد د پلټنې د اداري د نظارت کار شامل دی څکه چې دوی د پوځ د ملاتړ د وړتیا او اغېزمنتیا د بهترولو لپاره درنې مرستې کړې دي. دا جامع پلان د قانوني غوښتنو څخه اخوا پراخ کړای شوی څو نورې هغه فعالیت لرونکې سیمې پکې شامل کړي چې [د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر] ګومان کوي چې په جنوب لویدیځه اسیا کې د عملیاتو، په ګډون د تلپاتې ازادی د عملیاتو (او اي ایف) لپاره ګټور دي، لکه د قرارداد اداره کول او سمبالښت، د تجهیزاتو بیا ترتیبول، مالي سمبالښت، او د بیا رغوني د ملاتړ هڅې. برسېره پر دې، په هغه وروستي حال کې چې په مئ ۲۰۰۹ کې خپور شوی، په هغې کې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي د دفتر او د خدمتونو د پلټنې د ادارو څخه دا غوښتنه شامله ده چې په جنوب لویدیځه اسیا کې دننه دې د شتمنیو احتساب ته کتنه وکړي.

د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي د دفتر په مشرۍ د جنوب لویدیځې اسیا د ګډ پلان جوړوني ډله د نظارت مرکزي او د دفاع د محکمې د او سي او سره تړلیو فعالیتونو رابطه جوړوي او له شخړو یې وباسي. دې ډلې خپله نهمه غونډه د ۲۰۰۹ کال د مئ په میاشت کې وکړه.

د مالي کال ۲۰۰۹ د درېمې درې میاشتنی پر مهال د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر په عراق او افغانستان کې د اضافي حساب کتونکیو او پلټونکیو د ځای پر ځای کولو سره په جنوب لویدیځه اسیا کې خپل حضور پراخ کړ. دا اضافي کارکوونکي د نظارت د هغه مخ پر زیاتېدونکي کاري بار مرسته کوي چې د قانوني غوښتنو، د کانګرس د غوښتنو، د دفاع د محکمې د لوړپوړو نظامي چارواکو د غوښتنو، او څرنګه چې [د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر] پرېکړه کوي چې بنسټ یې په عملیاتو کې په سترو خطرو او ننګونو دی، د غوښتنو له مخې لازمي دی. په قطر، عراق، کویت، او افغانستان کې ځایي دفترونه د دفاع د محکمې عملیاتو ته د او سي او د ملاتړ لپاره د پلټنو، معاینو او څېړنو توان پراخوي.

د مالي کال ۲۰۰۹ پر مهال د دفاع د محکمې د عمومي پلټنونکي دفتر د او اي ایف سره تړلي د نظارت هغه روان فعالیتونه بشپړ کړل چې لاندې برخې یې ځوابولې:

- د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجو کارول او احتساب
- د شتمنۍ احتساب
- د قرارداد اداره کول

**د نظارت فعالیتونه**

**د دفاع د محکمي د مسوولیتونو او د هغو بودیجو د لګښتونو بین الاداري پلټنه چې د بهرنیو چارو محکمې ته د افغان ملي پولیسو د روزني او سرپرستی لپاره ورکړل شوي وي**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۹-ډي۰۰۰جيبي-۰۲۳۰.۰۰۰، پیل شوه په جون ۵، ۲۰۰۹)
د دفاع محکمي او بهرنیو چارو محکمي عمومي پلټونکی دا ګډه پلټنه د کانګرس د یوې غوښتني په ځواب کې ترسره کوي. [د] دې هدف د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجي (ای ایس ایف ایف) د هغو پیسو د حالت کتنه ده چې د دفاع محکمي د بهرنیو چارو محکمي ته د افغان ملي پولیسو (ای این پي) د روزني لپاره ورکړې وي. په مشخصه توګه، د دفاع د محکمي عمومي پلټونکی به د قرارداد د یو نقل، د سمو هدف امرونو، د کار د بیانیو، او د روزني یا سرپرستی لپاره د هر د قرارداد یا هدف امر د تاییدوني کتنه کوي ځو باوري کړي چې دا د اړوندو مرکزي قواعدو سره سم دي او د دفاع د محکمي د اړتیاو سره سمون خوري. برسېره پر دې، [هغوی] به د قراردادي د بیجکونو (انوایسونو) نقلونو ته کتنه کوي څو باوري کړي چې غوښتل شوي لګښتونه د ترلاسه شویو خدمتونو لپاره مناسب، برابر او معقول دي. د بهرنیو چارو د محکمي عمومي پلټونکی به په دې پلټنه کې مرسته کوي او د پولیسو د ملکي روزونکو په اړه به د کارکوونکیو، روزني، د قرارداد د سمبالښت، او د قرارداد د اغېزمنتیا اندازه لګوي.

د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو، مجهزولو، او مېدان ته ایستلو لپاره د متحده ایالاتو او ایتلافیانو اندازه اخیستنه

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۹-ډي۰۰ایس پي او-۰۱۱۳.۰۰۰، پیل شوه په فبروري ۳، ۲۰۰۹)
ایس پي او پرېکړه کوي چې ایا د متحده ایالاتو حکومت، ایتلاف، د افغانستان د دفاع وزارت، او د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت اهداف، پلانونه او د روزني، مجهزوني، او مېدان ته ایستني لپاره لاربنودنه د پراخ افغان ملي اردو (ای این ای) او افغان ملي پولیسو (ای این پي) لپاره چمتو شوي، خپره شوي، فعالیت کوونکي او اړونده ده که نه. د دې یو لیکلی راپور د تیارېدو په حال کې دی.

د هغو وسلو، مهماتو، او چاودېدونکیو توکیو (ای ای او اي) احتساب او کنټرول چې د افغانستان امنیتي ځواکونو ته ورکړل شوي دي

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۹-ډي۰۰ایس پي او-۰۱٤۸.۰۰۰، پیل شوی په فبروري ۳، ۲۰۰۹)
ایس پي او پرېکړه کوي چې ایا افغان ملي امنیتي ځواکونو (ای این ایس ایف) ته د متحده ایالاتو لخوا د ورکول کېدونکیو وسلو او مهماتو احتساب او کنټرول دقیق او اغېزمن دی که نه. برسېره پر دې، [ایس پي او] به د هغو سپارښتنو د تطبیق حالت تعقیبوي چې په افغانستان کې د وسلو او مهماتو د احتساب او کنټرول د لومړنی اندازې پر مهال ورکړل شوي وي (وګورئ د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي راپور لمبر ایس پي او-۲۰۰۹-۰۰۱، "د وسلو، مهماتو، او چاودېدونکیو توکیو د کنټرول او احتساب اندازه؛ امنیتي مرسته؛ او د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره دوامداري،" اکتوبر ۲٤، ۲۰۰۸). د دې لیکلی راپور د تیارېدو په حال کې دی.

**د افغان ملي امنيتي ځواکونو د دوامداره طبي وړتيا د پرمختيا لپاره د متحده اياالاتو او ايتلاف د هڅو جاج اخيستنه**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۹—ډي۰۰ايس پي او-۰۰۰.۰۱۱۵، پيل شوې په دسمبر ۱۷، ۲۰۰۸)

ايس پي او معلوموي چې ايا د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روغتيايي علاج د سيسټم لپاره د متحده اياالاتو د حکومت، ايتلاف، د افغانستان د دفاع د وزارت، او د کورنيو چارو د وزارت هدفونه، موخې، پلانونه، او لاربنودنه جوړ شوي او فعال دي؛ چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روغتيايي علاج د سيسټم د ودې او دوامدارۍ په اړه د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي د دفتر مخکينی سپارښتنې تطبيق شوې که نه (وګورئ د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي راپور لمبر ايس پي او-۲۰۰۹-۰۰۱، "د وسلو، مهماتو، او چاودېدونکيو توکيو د کنټرول او احتساب؛ د امنيتي مرستې؛ او د افغان ملي امنيتي ځواکونو د دوامدارۍ جاج اخيستنه،" اکتوبر ۲٤، ۲۰۰۸)؛ او دا چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روغتيايي علاج د سيسټم د تلپاتې پرمختيا لپاره رواني هڅې اغېزمنې دي که نه. د دې ليکلی راپور تيارېږي.

**د جنګي قومانډې بشري مرسته او په مصيبت کې د ارام عمليات**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۹-ډي۰۰۰جی ای-۰۰۰.۰۰۸۵، پيل شوې په نومبر ۱۳، ۲۰۰۹)

د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر د جنګي قوماندو د بشري مرستې او په مصيبت کې د ارام د عملياتو، په ګډون د او اي ايف لپاره د مرستې، د پلان د توان د تکاملي جاج اخلي.

**د هغو بوديجو د پلټنې بيا اعلانول چې د افغانستان او عراق لپاره ځانګړې شوې وې او د بهرني پوځ د خرڅ د باور د بوديجې له لارې ورکړل شوي وې**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۷-ډي۰۰۰ايف ډي-۰۰۱.۰۱۹۸، پيل شوې په اکتوبر ۱۰، ۲۰۰۸)

د اصلي اعلان شوې پروژې (ډي۲۰۰۷-ډي۰۰۰ايف ډي-۰۰۰.۰۱۹۸) لاندې د کارځای د پلټنو د مشاهدو پر مهال، د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر پرېکړه وکړه چې د کارځای د کار پر مهال د پېژندل شويو اړوندو مسئلو په جلا توګه د بحث کولو لپاره د يوې اضافي پروژې اړتيا ده. په همدې توګه د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر ايف ايم ايس باور بوديجې ته د بوديجو لېږد او دې بوديجو نه د اداري فيسونو راغونډول په راپور لمبر ډي-۲۰۰۹-۰٦۳ کې بحث کړل. د دويمې اعلان شوې پروژې (ډي۲۰۰۷-ډي۰۰۰ايف ډي-۰۰۱.۰۱۹۸) لاندې د دفاع د محکې د عمومي پلټونکي دفتر معلوموي چې ايا په افغانستان او عراق کې د امنيت، بيا رغونې، او مرستې لپاره ځانګړې شوې بوديجې چې د بهرني پوځ د خرڅ د باور بوديجې له لارې ورکړل شوي په مناسب ډول سمبالېږي که نه. خو د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر ضمني اهداف دې ته راکم کړي چې معلومه کړي ايا ځانګړې شوې بوديجې چې د بهرني پوځ د خرڅ د باور بوديجې ته لېږدول شوې وې په مناسب ډول تشريح شوي، د غوښتل شوي هدف لپاره کارول شوي، او د دفاع د محکمې په مالي راپورونو کې په مناسب ډول راپور شوي که نه.

**وروستی حال - د هغو ننګونو د راپور لنډيز چې د عراق د ازادۍ او ټلپاتي ازادۍ په عملياتو اغېز لري او راپور شوي د نظارت د غټو سازمانونو لخوا، پيل په مالي کال ۲۰۰۳ کې تر مالي کال ۲۰۰۸**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۸-ډي۰۰۰جی سي-۰۲۷٤.۰۰۰، پيل شوی په اګست ۲۸، ۲۰۰۸)

د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر د هغو قراردادونو، بوديجو د سمبالښت، او نورو احتسابي موضوعاتو د يو لنډيز جوړولو تياری کوي چې په هغو احتسابي راپورونو او د شاهدۍ بيانونو کې پېژندل شوي چې د مالي کال ۲۰۰۳ څخه تر مالي کال ۲۰۰۸ د عراق د ازادۍ او ټلپاتي ازادۍ د مهم ملاتړ مشن بحث کوي. د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي د دفتر لومړني لنډيز راپور، ډي-۲۰۰۸-۰۸٦، په هغو راپورونو او د شاهدۍ په بيانونو تمرکز کاوه چې د مالي کال ۲۰۰۳ څخه تر مالي کال ۲۰۰۷ خپاره شوي وو. د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر به دا راپور د مخکيني لنډيز راپور، راپور لمبر ډي-۲۰۰۸-۰۸٦، په معلوماتو سره تازه کړي څو د هغو سپارښتنو حالت پکي شامل کړي چې د عراق د ازادۍ او د ټلپاتي ازادۍ د عملياتو په اړه په ټول مالي کال ۲۰۰۳ کې تر مالي کال ۲۰۰۷ پورې راپورونو کې شوي وې. برسېره پر دې، د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر به د مالي کال ۲۰۰۸ د پلټنو د راپورونو د موندني او سپارښتني معلومات پکې شاملوي او هغه رجحانات به معلوموي چې په دغو معلوماتو کې ښودل شوي وي.

**هغه قراردادونه چې د دفاع د محکمي د مخدره موادو د او تروريزم د پروګرام ملاتړ کوي**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۸-ډي۰۰۰ای ايس-۰۲۵۵.۰۰۰، پيل شوی په جولای ۳۱، ۲۰۰۸)

د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر معلوموي چې ايا هغه قراردادونه چې د دفاع د محکمي د مخدره موادو او تروريزم ضد پروګرام مرسته کوي په مناسب ډول سمبال شوي او اداره شوي دي که نه. په مشخصه توګه، د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر به معلوموي چې ايا دا قراردادونه د مرکزي او د دفاع د محکمي د تګلارې سره سم دي که نه.

**د بوديجو ويش او د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې-پړاو ۳ د سمبالښت لپاره د قواعدو اعتبار**

(پروژه لمبر ډي۲۰۰۷-ډي۰۰۰ايل کيو-۰۱٦۱.۰۰۲، پيل شوی په دسمبر ۱۰، ۲۰۰۷)

د دفاع د محکمي د عمومي پلټونکي دفتر د عامه قانون ۱۰۹-۲۳٤، کوم چې عمومي قوماندان ته لارښودنه کړې وه چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو نظارت وکړي، په ځواب کې د ډېرو پړاوونو د يوې پلټني درېم پړاو ترسره کوي. د دې درېم پړاو لاندې د کتنو يوه لړۍ پلان لري چې ايا په جنوب لويديځه اسيا کې هغه سازمانونه چې د متحده ايالاتو مرکزي قوماندې ورته د ای ايس ايف ايف د سمبالولو مسووليت ورکړی په مناسب ډول د هغو سامانونو او خدمتونو تشريح کوي چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو لپاره د ای ايس ايف ايف په کارولو سره اخيستل شوي وو او دا چې ايا دا سامانونه او خدمتونه په مناسب ډول د افغانستان امنيتي ځواکونو ته ورکړل شوي وو که نه. راپور ډي-۲۰۰۹-۰۳۱، ”د بوديجو ويش او د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې د سمبالښت لپاره د لوازماتو اعتبار،“ دسمبر ۲۹، ۲۰۰۸، د افغانستان د امنيتي ځواکونو لپاره د جاييدادونو د رغوني هغه بوديجې بحث کوي چې په هغو قراردادونو کې ليست شوي دي کومې چې د هوايي ځواک د انجينرۍ او چاپېريال د مرکز لخوا ورکړل شوي دي. راپور ډي-۲۰۰۹-۰۷۵، ”د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه پړاو ۳ – د هغو وسلو احتساب چې د افغانستان په ملي اردو ويشل شوي دي،“ اپرېل ١٤، ۲۰۰۹، د هغو وسلو احتساب کوي چې د افغانستان په ملي اردو ويشل شوي دي. راپور ډي-۲۰۰۹-۰۷٦، ”د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه پړاو ۳ – د متحده ايالاتو د انجنيرانو د قول اردو د جاييدادونو احتساب،“ مئ ۲۱، ۲۰۰۹، د متحده ايالاتو د پوځي قول اردو د انجنيرانو د جاييدادونو احتساب کوي.

## د بهرنیو چارو د محکمې د عمومي پلټونکي دفتر – د منځني ختیځ سیمییز دفتر (ډي او ایس او ایي جي ایم اي ار او)

### د نظارت فعالیتونه

**د افغانستان د ملي پولیسو د روزني او سرپرستی پروگرام (د دفاع د محکمې د عمومي پلټونکي د دفتر سره په ګډه)**

(پروژه لمبر ۰۹-ایم اي ار او-۳۰۰۹، پیل شوې په جون ۲۰۰۹ کې)

اهداف – د افغان ملي پولیسو د روزني او سرپرستۍ د پروګرام د قرارداد د غوښتنو، شرطونو، او لګښتونو یوه عمومي کتنه او لنډیز وړاندې کول؛ د قراردادونو او هدف امرونو موخې، د کاري وړتیا د پیماني لپاره کوم ښودونکي ټاکل شوي دي؛ او دا چې د بهرنیو چارو محکمې څرنګه د ډین کور د کاري وړتیا او د قراردا د لګښتونو د نظارت لپاره د خپل قرارداد نظارت کړې. دا د بهرنیو چارو د محکمې او د دفاع د محکمې د مشن لپاره د قرارداد د تاریخچو، د سمبالښت د کنټرولونو، لګښتونو، او ارزښت اندازه لګوي.

**په افغانستان کې د مخدره موادو پر ضد پروګرامونو اغېزمنتیا**

(پروژه لمبر ۰۹-ایم اي ار او-۳۰۰٤، پیل شوې په اپریل ۲۰۰۹ کې)

اهداف – په افغانستان کې د مخدره موادو ضد فعالیتونو د پلان جوړولو او سمبالولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو اندازه اخیستل، په ګډون د (۱) متحده ایالاتو د لوازماتو او خرچو، (۲) د مرستندویه پروژو د پایلو، ۰۳) د مرستې د ارتباط او میکانزم د ستراتیژی، او (٤) هغو سترو خنډونو چې د متحده ایالاتو د موخو ترلاسه کول اغېزمن کوي، د بوی شنني.

**د شخصي امنیتي تفصیل (ډبلیو پي پي ایس) قراردادونه – افغانستان، (د متحده ایالاتو روزنیز مرکز (یو ایس ټي سي)**

(پروژه لمبر ۰۹-ایم اي ار او-۳۰۰۵، پیل شوې په مارچ ۲۰۰۹ کې)

اهداف – د ډبلیو پي پي ایس د قرارداد غوښتنو او شرطونو ته کتنه کول؛ د قراردادونو او هدف امرونو موخې، د کاري وړتیا د پیماني لپاره کوم ښودونکي ټاکل شوي دي؛ او دا چې محکمې څرنګه دا قرارداد اداره کړ چې د ډبلیو پي پي ایس د قرارداد د متحده ایالاتو د روزنیز مرکز (پخوانی بلیک واټر) نظارت وکړي.

**د ډبلیو پي پي ایس – افغانستان د ډپلوماتیک امنیت (ډي ایس) سمبالښت**

پروژه لمبر ۰۹-ایم اي ار او-۳۰۰٦، پیل شوی په مارچ ۲۰۰۹ کې)

اهداف – دې ته کتنه کول چې د ډپلوماتیک امنیت د دفتر لخوا په افغانستان کې د پي پي ایس د غوښتنو د معلومولو لپاره کومې مطالعې او د اړتیاو اندازې ترسره شوې وې او کوم میکانزمونه په کار اچول شوي چې باوري کړي چې د شخصي حفاظتي خدمتونو شتمنی په وړ او اغېزمنه طریقه کارول شوې دي.

## د حکومت د احتساب دفتر (جي ای او)

د تېرې درې میاشتنی پر مهال، د حکومت د احتساب دفتر یو ځانګړی راپور (جي ای او-۰۹-۴۷۳ایس پي) خپور کړ چې د ۱۱۱م کانګرس او نوې ادارې لپاره یې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د هڅو سره تړلې د نګرانی ګڼ شمېر مسئلې وپېژندلي او په نښه کړې. دې ځانګړې خپروني د نګرانی د اجنډو د پر مخ وړلو او په افغانستان کې د سولې او ثبات د معلومولو د مخ په وړاندې لاره باندې غور کولو لپاره مهمې مسئلې په نښه کړې دي. دې همداراز هغه بهتروني پېژندلي دي چې اړتیا ورته او ډېر هغه خنډونه هم چې بریالیتوب اغېزمن کوي او باید د پروګرام په پلان او تطبیق کې تر غور لاندې ونیول شي. د متحده ایالاتو د تېر وخت د زیاتو هڅو په اړه جي ای او معلومه کړه چې د پلان د بهترولو اړتیا شته، په ګډون د هغو مربوطو بین الاداري پلانونو چې د پیمانه کېدونکي اهداف، مشخص وختي چوکاټونه، د لګښتونو اټکلونه، او د هغو خارجي فاکتورونو پېژندل پکې شامل دي کوم چې په مهمو برخو لکه د ای این ایس ایف جوړول کې په هڅو د پام وړ اغېز کوي. جي ای او همداراز په دې نتیجه رسېدلې چې ګڼ شمېر موجود شرایط، لکه مخ پر خرابېدونکې امنیت؛ د سرپرستي کوونکیو او روزنکیو کمبود؛ د یو مربوط او تفصیلي بین الاداري پلان نشتوالی؛ او د افغانستان د حکومت محدود اداري ظرفیت اوس هم افغانستان سره د امنیت، ثبات، او بیا رغوني په مرستو کې د متحده ایالاتو د هڅو په وړاندې ستونځې پېښوي. جي ای او لیکلي چې د دې هڅو د لګښتونو د شکاره پرمختګ په باوري کولو کې د مرستې لپاره د لا زیاتې نګرانی اړتیا ده. جي ای او د لاندې موضوعاتو د برخو لپاره د اضافي نګرانی مشوره ورکړې ده:

- د متحده ایالاتو او نړیوالې ژمنتیاوې
- امنیتي چاپېریال
- امریکایي ځواکونه او تجهیزات
- افغان ملي امنیتي ځواکونه
- د مخدره موادو ضد هڅې
- اقتصادي پرمختیا
- دولتي ظرفیت
- د متحده ایالاتو لخوا ورکړل شویو وسلو احتساب
- د قراردادي د کاري وړتیا نظارت

### د نګرانی فعالیتونه

**د افغانستان د اوبو سکتور: د افغانستان د اوبو سکتور په پرمختیا کې د مرستې لپاره د متحده ایالاتو هڅو ته کتنه**

(پروژه لمبر ۳۲۰۶۸۰، پیل شوې په مئ ۸، ۲۰۰۹)

د دې د توجو مرکز افغانستان کې د څښلو د پاکو اوبو، نالیو د پاکولو، او د فصلونو د اوبه خور د خدمتونو د رسولو په لړ کې د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ (ای این ډي ایس) د هدفونو په ترلاسه کولو کې افغانستان سره د مرستې لپاره د متحده ایالاتو په هڅو دی.

**په افغانستان کې د متحده ایالاتو د متبادلې پرمختیا او ښې کارې ورتیا اقدام ته کتنه**
(پروژه لمبر ۳۲۰٦٦۲، پیل شوه په مارچ ۱٦، ۲۰۰۹)
تمرکز یې په بودیجو، اهدافو، پایلو، د انسجام په هڅو، او د کومو ننګونو د ختمولو په هڅو دی.

**په عراق او افغانستان کې د قراردادیانو د انتظام او نورو قراردادونو یا بودیجو د ادارې د نظارت اداره.**
(د پروژې لمبر ۱۲۰۸۱۲، پیل شوه په فبروري ۱۹، ۲۰۰۹)
دا کتنه به د دفاع د محکمې، د بهرنیو چارو د محکمې، او د یو ایس ای ایي ډي د قراردادیانو د کارې ورتیا انتظام او یا نورو قراردادیانو یا بودیجو لپاره د ادارې فعالیتونو چې د افغانستان سره کارې ورتیا لرې د اغېزمن نظارت هڅو ته کتنه وکړي.

**افغان مخدره موادو ضد**
**(پروژه لمبر ۳۲۰٦۵۷، پیل شوې په جنوري ۲۹، ۲۰۰۹)**
د ارتباطي، اړوني، محکماتي او عامه معلوماتو د کمپاین هڅو سره د مرستې لپاره د متحده ایالاتو هڅو ته کتنه.

**په افغانستان\عراق کې قرارداد کول**
(پروژه لمبر ۱۲۰۷۹۰، پیل شوې په نومبر ۲۵، ۲۰۰۸)
دا کتنه به د قراردادونو، په هېواد کې د کارې ورتیا د قراردادونو د شمېر، او د هغو قراردادي پرسونل شمېر راوپېژني چې وژل شوي یا ټپیان شوي دي.

## د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکي دفتر (یو ایس ای ایي ډي او ایي جي)

### د نظارت فعالیتونه

**د برېښنا د سکټور د هغو انتخاب شويو فعالیتونو پلټنه چې د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د انفراسټرکچر او بیا جوړوني د پروګرام لاندې بودیجې ورکړل شوي.**
مقصد: د دې جاج اخیستل چې ایا د افغانستان د انفراسټرکچر او بیا جوړوني د پروګرام لاندې د برېښنا د مهم سکټور د فعالیتونو سره د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان اصلي هدفونه ترلاسه کېږي که نه، او چې تاثیر یې څه دی.

**د ښوونکیو د پروژې لپاره د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د تعلیمي سیسټمونو د ملاتړ د جوړولو پلټنه.**
مقصد: د دې جاج اخیستل چې ایا د ښوونکیو د پروژې لپاره د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د تعلیمي سیسټمونو د ملاتړ د جوړولو اصلي هدفونه ترلاسه شوي که نه.

**د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان هغه د ښوونځیو او کلینکونو ودانۍ چې د ښوونځیو او کلینکونو د جوړولو او بېرته نوي کولو (ایس ای سي ای ار پي) د پروګرام لاندې بشپړ شوي دي**
هدف: دا معلومول چې ایا د دې پروګرام د لاندې بشپړې شوې د ښوونځیو او روغتیایي کلینکونو ودانۍ د خپل ټاکلي مقصد لپاره کارول کېږي او که نه، او د تعلیمي او روغتیایي خدمتونو په تناظر کې د افغانستان په خلکو د دې اغېز کتل.

**د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د ملکي افغانانو د مرستي پروګرام**

هدف: دا معلومول چي ایا د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د بشري مرستو خدمتونه چي افغانانو لپاره د ملکي مرستو د پروګرام له لارې ورکړل شوي د پروګرام د لاندې حقدارو خلکو ته ورکول کېږي که نه، او د اغېز جاج يې اخيستل.

## د نورو ادارو پلټني

سیګار په باقاعدګۍ سره د نورو هغو حکومتي ادارو سره په تماس کي وي چي په افغانستان کي پلټني ترسره کوي، څو د پلټنو د پرمختګ نظارت وکړي. د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، په مختلفو ځایونو کي ٤۲ پلټني وې چي په ٤۸ پرانیستو قضیو يې کار کاوه.

چوکاټ ٤.۲ د نظارت د هغو روانو فعالیتونو یو لنډیز وړاندې کوي چي د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم د نورو حکومتي ادارو لخوا ترسره کېدي.

**چوکاټ ٤.۲**

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم د نورو حکومتي ادارو د نظارت روان فعالیتونه

| اداره | پروژه لمبر | نېټه چي پیل شوي | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| ډي او ډي او ایي جي | D2009-D000JB-0230.000 | 6/5/2009 | د دفاع د محکمې د هغو بودیجو د لوازماتو او لګښتونو بین الاداري پلټنه چي د افغان ملي پولیسو د روزنې او سرپرستی لپاره د بهرنیو چارو محکمې ته ورکړل شوي وي |
| ډي او ډي او ایي جي | D2009-D00SPO-0113.000 | 2/3/2009 | د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو، مجهزولو، او مېدان ته ایستلو لپاره د متحده ایالاتو او ایتلاف د پلانونه اندازه |
| ډي او ډي او ایي جي | D2009-D00SPO-0148.000 | 2/3/2009 | د هغو وسلو، مهماتو، او چاودېدونکیو توکیو د احتساب او کنټرول اندازه چي افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ورکړل شوي دي |
| ډي او ډي او ایي جي | D2009-D00SPO-0115.000 | 12/17/2008 | د افغان ملي امنیتي ځواکونو د دوامداره طبي ورتیا د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو او ایتلاف د هڅو اندازه |
| ډي او ډي او ایي جي | D2009-D000JA-0085.000 | 11/13/2008 | د جنګي قوماندې د بشري مرستو او مصیبت کي د ارام عملیات |
| ډي او ډي او ایي جي | D2007-D000FD-0198.001 | 10/10/2008 | د هغو بودیجو د پلټنو بیا اعلان چي افغانستان او عراق ته د بهرني پوځ د خرڅ د باور د بودیجي له لارې خانګړي شوي وي |
| ډي او ډي او ایي جي | D2008-D000JC-0274.000 | 8/28/2008 | تازه حال – د هغو ستونځو په اړه د راپور لنډیز چي د عراق د ازادۍ او تلپاتي ازادۍ عملیات اغېزمن کوي او د مالي کال ۲۰۰۳ په پیل کي تر مالي کال ۲۰۰۸ پورې د نظارت د سترو ادارو لخوا راپور شوي دي. |
| ډي او ډي او ایي جي | D2008-D000AS-0255.000 | 7/31/2008 | هغه قراردادونه چي د دفاع د وزارت د مخدره موادو او تروریزم ضد پروګرامونه ملاتړ کوي |

(په راتلونکي مخ دوام لري)

چوکاټ ٤.٢ (ادامه لري)

| د جون ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم د نورو حکومتي ادارو د نظارت روان فعالیتونه | | | |
|---|---|---|---|
| اداره | پروژه لمبر | نیټه چې پیل شوې | د پروژې نوم |
| ډي او ډي او ایي جي | D2007-D000LQ-0161.002 | 12/10/2007 | د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې-پراو ۳ د سمبالښت لپاره د بودیجو ویش او د لوازماتو اعتبار |
| ډي او ایس او ایي جي ایم اي ار او | 09-MERO-3009 | جون 2009 | د افغانستان د ملي پولیسو د روزنې او سرپرستۍ پروګرام (د ډي او ډي ایي جي سره په ګډه) |
| ډي او ایس او ایي جي ایم اي ار او | 09-MERO-3004 | اپریل 2009 | په افغانستان کې د مخدره موادو ضد پروګرامو اغېزمنتیا |
| ډي او ایس او ایي جي ایم اي ار او | 09-MERO-3005 | مارچ 2009 | د شخصي امنیت د تفصیل (ډبلیو پي پي ایس) قراردادونه – افغانستان، (د متحده ایالاتو د روزنې مرکز (یو ایس ټي سي)) |
| ډي او ایس او ایي جي ایم اي ار او | 09-MERO-3006 | مارچ 2009 | د ډبلیو پي پي ایس – افغانستان د ډیلوماتیک امنیت (ډي ایس) سمبالښت |
| جي ای او | 320680 | 5/8/2009 | د افغانستان د اوبو سکټور: د افغانستان د اوبو د سکټور د پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو هڅو ته کتنه |
| جي ای او | 320662 | 3/16/2009 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بدیل معیشت د پرمختیا او بنې کاري ورتیا د اقدام پروګرام ته کتنه |
| جي ای او | 120812 | 2/19/2009 | د هغو قراردادیانو د نظارت اداره چې په عراق او افغانستان کې نور قراردادیان یا بودیجې سمبالوي او اداره کوي |
| جي ای او | 320657 | 1/29/2009 | د افغانستان د مخدره موادو ضد پروګرامونه |
| جي ای او | 120790 | 11/25/2008 | په افغانستان\عراق کې قراردادونه کول |
| یو ایس ای ایي ډي او ایي جي | ندی ورکړل شوی | ندی ورکړل شوی | د برېښنا د سکټور د هغو منتخبو فعالیتونو پلټنه چې د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د انفراسټرکچر او بیا جوړولو د پروګرام لاندې بودیجې ورکړل شوې دي |
| یو ایس ای ایي ډي او ایي جي | ندی ورکړل شوی | ندی ورکړل شوی | شوی د ښوونکیو د پروژې لپاره د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د تعلیمي ملاتړ د سیستمونو د جوړولو پلټنه |
| یو ایس ای ایي ډي او ایي جي | ندی ورکړل شوی | ندی ورکړل شوی | د یو ایس ای ایي ډي\افغانستان د ښوونځیو او روغتیایي کلینکونو د هغو ودانیو جوړول چې د ښوونځیو او کلینکونو د جوړولو او بېرته نوي کولو (ایس ای سي ای ار پي) د پروګرام لاندې بشپړ شوي دي |
